# لوى درواغ!

ليکوال: تېرې ميسان

د 2002 د فبروري 20 – پاريس

ژباړه: محمد حامد حيدرزى

د 2011 د مارچ 30 - کابل

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کتاب پېژندنه:**

د کتاب نوم: لوی درواغ!

لیکوال: تېرى میسان

د چاپ کال : 2002 - پاریس

ژباړن: محمد حامد حیدرزی

د پښتو ژباړې چاپ: 2011 – مارچ (لومړی)

کمپوز: محمد جاوید حیدرزی

د پښتئ یزاین: عبدالحق صمیمی

چاپ شمېر: 1000 ټوکه

خپرندوی: الازهر – کابل

alazharco@yahoo.com

0093 (700) – 161556

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو څو خبرې . . .

د سپټمبر د يوولسمې له پېښې څخه لس کاله تېرېږي؛ خو دا لانجمنه او کړکېچنه موضوع لا تر اوسه خورا توده او جالبه ده؛ ځکه چې د دې په اړه ابهامات ډېر دي، ډېرې داسې پوښتنې وټوکېدې چې ځوابونه يې لا تر اوسه پر ځای پاتې دي. تر ټولو مهمه دا چې د سپټمبر د يوولسمې پېښه په نړۍ کې د ستر سياسي، ستراتيژيکي، ټولنيز او اقتصادي ناورين او بدلون لامل وګرځېده او د تروريسم په وړاندې يوې نوې او اوږد مهاله جګړې ته لاره پرانسته. د شنونکو په اند په دې کار سره په غير رسمي ډول د نوی نړيوال دستور يا کړنلارې (The New World Order) پلې کېدل پيل شول او د ځنو کارپوهانو په اند له سرې جګړې وروسته دا پېښه د تمدنونو د ټکر (The Clash of Civilizations) د نظريې يوه بېلګه يا غبرګون و.

د ساينس او پوهې له پرمختګ سره نړۍ کوچنۍ شوې او د (Global Village) نظريه لاپياوړې شوې ده. په اوسني (متمدنه) نړۍ کې د ځواک ريښه او سرچينه په پوځي ځواک، پياوړی اقتصاد او د رسنيو په برلاسي کې نغښتې ده. په اوسنۍ نړۍ کې هره پېښه او هره خبره سمدلاسه په څو شېبو کې په ګرده نړۍ کې د راډيو، تلويزيون او انټرنټ له لارې په ژوندی بڼه خپرېږي. اوسنۍ نړۍ د رسنيو نړۍ ده چې د رواني او تبليغاتي جګړو بڼه ذرايع بلل کېږي. هر هېواد هڅه کوي چې خپلو ګټو او غوښتنو ته اخلاقي او قانوني بڼه ورکړي او هر خبر د خپلې سياسي تګلارې په رڼا کې خپور کړي. جالبه دا ده چې خبر يو وي؛ خو د هر هېواد د رسنيو د خپرولو يا وړاندې کولو طرز بېلابېل وي.

د نړۍ د سياسي چارو شنونکي او کارپوهان د سپټمبر د يوولسمې د پېښې په اړه متضاد ليدونه او اندونه لري. په دې اړه ډېرې شننې او څېړنې ترسره شوي، او ډېر څه ويل شوي او ليکل شوي دي. په دې ترڅ کې د تکړه فرانسوي ژورناليست او سياسي کارپوه تيري ميسان (Thierry Meyssan) کتاب (ستر درواغ) (L'Effroyable imposture) چې په کال ۲۰۰۲ م کې، په فرانسه کې خپور شوی دی ځانګړی ځای او د پام وړ معلومات لري. دا څېړنيز کتاب د خپل ځانګړی ارزښت او اهميت له امله نه يوازې په فرانسه بلکه د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې له خورا تاوده هرکلي سره مخامخ شوی دی. يوازې په فرانسه کې تر اوسه د دې کتاب (ستر درواغ) کابو درې سوه زره ټوکه پلورل شوي دي. که څه هم چې (ستر درواغ) د ځنو هېوادونو له خوا غندل شوی او معلومات يې ناسم بلل شوي دي؛ خو بياهم دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب د پښتو ژبارې په ګډون تر اوسه نژدې دېرشو ژبو ته اړول شوی دی چې دا کار هرومرو د کتاب ځېرنیز او علمي دریځ لا پیاوړی کوي.

د سپتمبر د یوولسمې د پېښې په سناریو کې لوېدیځوالو نړۍ ته یو څو نوي نومونه، نورمونه او ژانرونه لکه: القاعده، تروریست، بنسټپالونکي، سخت دریځه او داسې نور مطرح او وپېژندل. د سپتمبر د یوولسمې ناوړه پایلې په نړۍ کې د مسلمانانو د ځورلو او ربړولو په بڼه څرګندې شوې. داراز تر اوسه ډېر خلک په خپلو نړیوالو سفرونو کې له ستونزو سره مخامخېږي. د سپتمبر د یوولسمې له عاملینو څخه (چې افغانان نه وو) د غچ اخیستلو په موخه پر افغانستان پوځي یرغل وشو چې دا ناورین لا تر اوسه دوام لري او هره روځ په سل هاوو بې ګناهه افغانان په دې اور کې سوځي او وژل کېږي.

په دې توګه موږ د سپتمبر د یوولسمې پېښه غندو او له هغو ټولو بې ګناهو انسانانو سره چې په دې اور کې سوځي او تباه کېږي خواشیني او خواخوږي څرګندوو.

په دې خبره ټول پوهېږو چې سیاست دوه مخه لري. که د تاریخ پاڼې واړوو په کال ۱۹۳۳ م کې هټلر د آلمان د پارلمان ودانۍ (Reichstagsgebäude) ته اور ورته کړ او په دې پلمه یې خپل مخالفین (کمونېستان) سخت وځپل. په نړۍ کې هر هېواد د خپلو اهدافو د لاس ته راوړلو او د خپلو ګټو د خوندیتوب په موخه خپل کورنۍ او باندینۍ سیاستونه (تګلارې) جوړوي او څاري. که څه هم چې د افغانستان زیات وګړي نالوستي دي؛ خو په افغانستان کې د تېرو دېرشو کلونو جګړې، نړیوال سیاست او مداخلت په پام کې نیولو سره، نن کابو هر افغان د خپلې پوهې، تجربې او علمي سویې سر سم څه ناڅه په سیاست پوهېږي او سیاسي لید لري. له بده مرغه چې د پردیو د لاسوهنې له امله افغانستان له مذهبي، توکمیز، ژبنیز او ډېرو نورو (مصنوعي) ستونزو او اختلافاتو سره لاس او ګرېوان دی. د افغانستان زاړه او نوي مخالفین او دښمنان له دې کمزوریو او د افغانانو له بې اتفاقۍ څخه بشپړه ګټه اخلي. انګریزان د بې اتفاقۍ د اغېزې په اړه یو ښه متل لري: بېل یې کړه اېل یې کړه: ( Divide and role).

له هغه ځایه چې د ژوند په هر ډګر کې تعادل ضروري دی، په اوسنۍ نړۍ کې د ځواک تعادل او تناسب (Balance of Power) ته د بل هر وخت په پرتله ډېره اړتیا لیدل کېږي. ښکاره خبره ده چې غوا توره او شیدې سپینې دي. اوبه له پاسه خړې راځي او بله دا چې په خړو اوبو کې کبان په آسانه نیول کېږي. خدای دې د افغانانو مل شي! د پوښتنې ځوک نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. په دې توګه وينو افغانستان دګاونډيو او نړيوالو سياسي او نظامي لوبو ډګر ګرځېدلی دی.

دا چې زموږ هېواد د دې پېښې او ناورين ستر قرباني دی؛ ځکه نو د دې پېښې په جزئياتو او لاملونو پوهېدل او د پېښې د بېلابېلو اړخونو څېړل د بل هرچا په پرتله افغانانو ته زياته اړينه او ضروري ده.

د موضوع اهميت او د کتاب جالبيت په پام کې نيولو سره ما له خپل دوست (حامد حيدرزی) څخه د کتاب د ژباړې غوښتنه وکړه. د ښاغلی حيدرزی دې کور ودان وي، زما غوښتنه يې ومنله او په خورا ليوالتيا يې ژباړې ته متې ونغښتې او په ډېر کم وخت او ښه ډول يې خپله دنده سرته ورسوله.

همداشان زه د ښاغلی احسان الله آرينزی مننډوی يم چې د کتاب په بياکتنه کې يې ونډه واخيسته او د پښتو ژباړې په سمون سره يې کتاب بشپړ او چاپ ته چمتو کړ.

زه په خپل وار د الازهر خپرندويه ټولنې څخه مننه کوم چې د دې کتاب د چاپ چارو ته يې اوږه ورکړه او (ستر درواغ) يې په ښه بڼه چاپ او خپور کړ.

داراز هېله من چې تاسو دا کتاب (ستر درواغ) د لوستلو وړ ومومئ او د انځور بل اړخ وګورئ او د خپلو ځنو پوښتنو له پاره ځوابونه وموممی!

کېدای شي چې د (لوی دوراغ) د کتاب د پښتو ژباړې ځينې لوستونکی، موسسی يا دولتي کړی، د کتاب له محتوياتو سره توافق و نه لري.

دا يوه ډېره طبيعي خبره ده، په هر کتاب کې مطرح کېدونکی نظريه خپل موافقين يا مخالفين لري، امريکا وايي چې د سپتمبر په 11 ، ترهګرو د امريکا په نړيوال سوداګريز مرکز او پنتاګون يرغلونه وکړل او غوښتل يې چې د امريکا تاريخي – سياسي او پوځي برم ته زيان ورساوه، دا نظريه په نړۍ کې ډېر پلويان هم لري؛ خو په عوض کې داسې کسان هم شته لکه فرانسوي (تيېری مسان) او ځينې نور چې دا خبره نه منې او خپل – خپل نظريات لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې مينځ کې د حقيقت موندل ډېر درونډ کار دی. د سپتمبر د 11 پېښو په هکله د بېلابېلو نظرياتو لوستل او څېړل، د اوسنی نړۍ په تېره بيا د افغانستان له ځوان توکم سره مرسته وکړي چې په نړۍ کې د ځينو سترو پېښتو او بدلونونو په لاملونو پوه شي او په دې کړکېچنه دنيا کې چې ډېر سياسي مشرانو د رښتيا په ځای درواغ وايي، خپله لار ومومي او د سباني ژوند ستونزو او کړاوونو ته چمتو شي.

که څه هم د سپتمبر د 11 پېښنه په امريکا کې وشوه؛ خو افغانستان يې هم په اور کې وسو او دا دی لسم کال پوره کيږي چې په افغانستان کې د ترهګرو اډو د شتوالي په پلمه، د نړۍ د 47 هېوادونو لښکرې ډېره دي او هره ورځ خلکو ته د اور او وينو ډالۍ استوي!

په دې 47 هېوادونو کې ځينې د (سياهي کښنکر) حيثيت لري؛ خو ځينې نور لکه امريکا او ملګري يې خپلې استراتيژيکي موخې لري او د همدې له پاره دلته راغلي او د خپلو سبانيو ګټو د خونديتابه له پاره دلته تورې وهي!

کېدای شي چې د سپتمبر د 11 ډرامه د همدې له پاره جوړه شوي وي چې امريکا افغانستان ته راشي او دلته د پوځي اډو جوړولو له پاره هڅه وکړي چې په سيمه کې اتومي طاقتونه وڅاری او د طبيعي شتمنيو په زېرمو او استراتيژيکي سيمو او لويو لارو باندې برلاسي ولري. د نړۍ ستر ځواکونه هر وخت د خپل راتلونکي له پاره اوږده پلانونه لري. امريکا د همدې له پاره افغانستان ته راغلي ده.

د تېرې ميسان د کتاب لوستنه به له تاسو سره مرسته وکړي چې د سپتمبر د 11 د پېښې په هکله په ډېر څه وپوهيږي او په پټو غرايمو باندې پوه شي!

عبدالحق صميمی

هالند

## لومړۍ برخه: د يوې خونړۍ صحنې جوړونه

### لومړی فصل: د پنتاګون خيالی الوتکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا هغه برید مو په یاد دی چې د 2001 کال د سپتمبر په 11 په پنتاګون باندې وشو؟ ټولی پیښې دومره ژر او ناڅاپي را مینځ ته شوې چی په لږ وخت کی د حقیقت څیړل ګران کار و.

د 2001 کال د سپتمبر د میاشتې په 11 نیټه د واشنګټن په وخت د سهار له لسو بجو څخه لږ مخکی، د امریکا د دفاع وزارت لاندنۍ اعلامیه خپره کړه:

(د دفاع وزارت د هغه برید د څیړلو په حال کې دی چی نن سهار په 9 بجو او 38 دقیقو د وزارت په ودانۍ باندې وشو. تر اوسه د مرګ ژوبلی په اړه پوره معلومات نشته؛ خو د وزارت ټپی کارکوونکي د سیمې نژدی روغتونونو ته لیږدول شوي دي. د دفاع وزیر ښاغلی دونالد رامسفیلد د دغه پیښی د وژل شوو او ټپیانو له کورنیو سره خپله غمرازي څرګندوي او په پنتاګون کی د خپل کار له دفتر څخه د عملیاتو لارښوونه کوي. سیمې ته د دفاع وزارت د بیړنیو حالاتو، اور وژنی او روغتیایی پرسونل تر رسیدو وروسته، ودانۍ له کارکوونکو څخه تشه شوې. د پیښې لومړنی زیانونه د پام وړ دي؛ خو سره له دی په پام کی ده چی پنتاګون به سبا سهار بیرته خپل کار پیل کړي. د ودانۍ د زیانمنو شوو برخو د کارکوونکو دفترونه د لنډ مهال له پاره بل ځای ته لیږدول شوي او د بیارغاونی کار به ژر پیل شي.)

رویترز خبري آژانس چې له پیښې وروسته تر نورو مخکې سیمی ته رسېدلی و، اعلان وکړ چې په پنتاګون باندې چاودنه د یوې چورلکې په وسیله تر سره شوې ده. نوموړی خبر د دیموکرات ګوند د یوه مشاور (پال بیلاکا) په واسطه له اسوشیتید پرس سره د یوې ټیلیفوني مرکې په ترڅ کې تایید شوی و؛ خو څو دقیقی وروسته د دفاع وزارت په خپله دوهمه خبرپاڼه کی پخوانی معلومات سم کړل او وې ویل چی یوه لویه الوتکه په پنتاګون لګیدلې ده.

(فرید هې) چی له سناتور (باب نې) سره یې د حقوقي مرستیال په توګه کار کاوه، د پیښی په وخت کی په هغه سړک روان و چی د پنتاګون ودانۍ ته نژدی غځېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. هغه وویل چې ده له خپل موټر څخه داسې یوه بوینګ الوتکه ولیده چې د لویدو په حال کې وه. سناتور (مارک کیرک) وویل چی دی له "دونالد رامسفیلد" سره د سهار د چای تر څښلو وروسته، د پنتاګون د موټرو له پارکینګ څخه د وتلو په حال و، چی یوه لویه الوتکه راولویده. لږ وروسته (رامسفیلد) خپله هم د پیښی سیمې ته ورسید چې د پیښې له قربانیانو سره مرسته وکړي.

څو دقیقې وروسته د (آرلینګټون) د ښارګوټي د اوروژنې عمله، د بیړنیو حالاتو سره د مبارزې فدرالی اداره او د پیګن د ملی هوایي ډګر د اوروژنې ځانګړې ډله سیمی ته ورسېده او د سهار په لس بجو او لس دقیقو د پنتاګون زیانمنه شوې برخه راولویده.

خبریالان د پیښې سیمی ته له تلو څخه منع شوی وو، چې د چارواکو په اصطلاح د ژغورنې عملیات ګډوډ نه شي. د پیښې د قربانیانو پټ شوي جسدونه د سیمې په یوه کوچنې روغتون کې لیکه اینودل شوي وو او خبریالانو باید د هغه پلاستیکي کڅوړو په فلم اخیستلو باندی قناعت کړی وای چی ښایی په مینځ کې یې د قربانیانو جسدونه پراته وو؛ خو سره له دې اسوشیتدپرس د اور وژنې د عملیاتو داسې انځورونه تر لاسه کړی وو چی چا له بلې ودانۍ څخه اخیستي وو.

لوی درستیز (جنرال ریچارد مایرز) له څو ګړی ځنډ وروسته، په پنتاګون برید ځانمرګی وباله او زیاته یې کړه چې 77 مه الوتنه په امریکن هوایي کرښه پورې اړوند 200 - 757ډوله بوینګ الوتکه وه چې له دولز څخه لاس انجلس ته روانه وه. د هوایي ترافیک کارکوونکي د سهار له اته بجو او پېنځه پنځوس دقیقو وروسته نه پوهیدل چې الوتکه چیرته ده؟ خبري آژانسونو چې لا یې هم د پیښې په هکله د معلوماتو د راټولو په برخه کې نه ستړې کیدونکې هڅې کولې، د قربانیانو شمیره 800 ته نژدې ښوده. دا شمېره له نیکه مرغه لکه څنګه چې وروسته څرګنده شوه، له رښتینې شمیرې څخه څلور ځله جګه وه؛ خو (دونالد رمسفیلد) د راتلونکې ورځې د خبري کانفرانس تر جوړیدو پورې د دغه شمېرې د غلط ثابتولو له پاره هیڅ ونکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نړيوال سوداګريز مرکز باندې برید، ټوله نړۍ ولړزوله. د نړۍ تر ټولو ځواکمن پوځ په دې نه و توانيدلی چې خپل ښارونه وساتي او د امريکا متحده ايالات چې ټولو فکر کاوه، نه ماتيدونکی هېواد دی په خپله خاوره کې تر برید لاندې راغلی و!

هر خبر چې تر نورو لومړی خپرېږي په عامه خلکو باندې خپل اغيز پرېږدي؛ خو کله چې وروستيو جزيياتو ته وکتل شي؛ نو ښکاري چې د چارواکو څرګندونې شرمونکې او متضادې دي.

په امریکا کې د الوتکو کنټرول او لارښوونه د هوايي چلند د فدرالي ادارې په غاړه ده او د هوايي ډګرونو په برجونو کې د هوايي ترافيک د کنټرول ټول کارکوونکي، د دغه ادارې لاندې کار کوي. د نوموړې ادارې د هوايي ترافيک کنټرولرانو د کريسچن مانيتور مجلې ته ويلی وو چې د سهار په اته بجو او پينځه پنځوس دقيقو، يوه بوينګ الوتکه 29000 فيټو ته راښکته شوه او زموږ راديويی پيغامونو ته يی ځواب ورنکړ. څو دقيقې وروسته د الوتکې ځواب ورکونکي ماشين چوپ شو او هماغه وخت و چې دوی ټولو ته دا فکر پيدا شو چې ښايي کومه بريښنايي نيمګړتيا رامينځ ته شوې وي. دوی همدا راز ويلي وو چې لږ وخت وروسته د الوتکې پيلوټ څو ځله د راديو ترانزميټر ولګولو او دوی د داسې چا غږ واوريد چې عربي غږېده او پيلوټ يې ببړاوه. له همدې سره الوتکه د واشنګټن په خوا وګرځېده او د رادار له صفحې څخه ورکه شوه.

د هوايي ډګر د برج کارکوونکو د شته کاري لارښود پر بنسټ د هوايي چلند د فدرالي ادارې يا FAA مرکزونه د الوتکې په تښتونه باندې خبر کړي وو؛ خو د هغه ادارې ډير کورني چارواکي ځکه خپلو دندو ته نه وو حاضر شوي چې کاناډا ته په يوه مسلکي کانفرانس کې د ګډون په موخه تللي وو. لږ وروسته دوی ته د دوهمې الوتکې د تښتونې راپور ورکړل شو؛ خو د هغه روځې په ګډوډۍ کې د FAA د مرکزونو کارکوونکو لويه تيروتنه وکړه او فکر يې وکړ چې دا راپور ښايي د هماغه پخواني الوتکې وي. دوی په دې حقيقت باندی تر هغه و نه پوهيدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د درېیمې الوتکې د تښتونې راپور ورسید او له هغه وروسته یې پوځي چارواکي په پېښه خبر کړل. د نوموړې تیروتنې په ترڅ کې 29 ډېرې ارزښتناکې او تاریخی دقیقې ضایع شوې.

د سپتمبر په 13 نیټه لوی درستیز (جنرال ریچارد مایرز) و نه توانید چې د هغه تدابیرو په هکله د مشرانو جرګې (سنا) د وسله والو ځواکونو کمیټې ته معلومات ورکړي چې ده باید د بوینګ الوتکې د را ګرځولو له پاره نیولي وای. د کانګرس غړو د غونډې په مهال د پوځ دغه تر ټولو لوړپوړي چارواکي ته وویل چې پوځ د الوتکې د ګرځولو له پاره هیڅ ګام نه و پورته کړی (دا مرکه لاندې لوستلای شی)؛ خو آیا دا به څوک ومني چې د متحده ایالاتو پوځ د نړیوال سوداګریز مرکز په برجونو او پنتاګون باندې د بریدونو په ورځ له ځانه هیڅ غبرګون نه و ښودلی؟

د امریکا د هوایی دفاع قوماندانۍ یا NORAD د سپتمبر په 14 نیټه یوه ګډه اعلامیه خپره کړه چې د لوی درستیز په څرګندونو باندې پرده واچوي. په اعلامیه کې راغلي و چې: پوځ د سهار تر نهه بجو او څلیریشت دقیقو پورې له موضوع څخه بې خبره و او د راپور د تر لاسه کولو سره سم یې د ویرجینیا هوایي ډګر مسوولینو ته امر وکړ چې د بوینګ د کښته کولو له پاره دوه F-16 جنګي الوتکې واستوي؛ خو هوایي ځواک چې د بوینګ الوتکې د موقعیت په هکله یې معلومات نه درلودل، فکر وکړ چې ښایی دا الوتکه هم په نیویارک برید وکړي او له همدی امله دواړه جنګي الوتکې د شمال لور ته واستول شوې. په همدې وخت کې یوه پوځي ترانسپورتي الوتکه چې د پریزیدینشل آندریو له هوایي ډګر څخه پورته شوې وه، تښتول شوې بوینګ الوتکه ولیده او وېې پیژندله؛ خو نور نا وخته شوی و!

دا چې د هوایي دفاع د قوماندانۍ NORAD او لوی درستیز د څرګندونو ترمینځ څومره توپیر و تر اوسه پورې یې په اړه پوره معلومات نشته؛ خو آیا څوک د دې تصور کولای شي چې د متحده ایالاتو د پوځ رادار سیستم په یوه اړین وخت کې په دې و نه توانید چې د څه کم سلو کیلومترو په ساحه کې د بوینګ الوتکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موقعیت او تګ لورى په نښه کړي؟ او یا دا چې ځواکمنو F-16 جنګي الوتکو و نه شو کړاى چې په یوه لویه مسافر وړونکې الوتکه پسې ورسیږي؟

که موږ دا ومنو چې تښتول شوې بوینګ الوتکه له لومړني خنډ وروسته په یو ډول تیره شوه؛ نو بیا ولې پنتاګون ته د تلو په حال کې و نه ویشتل شوه؟ هغه امنیتي سیستم چې د دفاع وزارت د ساتنې له پاره تر لاس لاندې دئ د نړۍ تر ټولو دقیق سیستم دئ. په دغه سیستم کې چې سپینه ماڼۍ هم پرې سمبال شوې ده، په کال 1994 کې له څو پېښو وروسته ډېر بدلونونه راغلل. له هغه پېښو څخه یوه د بیلګې په توګه دا وه چې یوه کوچني "سیسینا 150 ال" ډوله الوتکه سپیني ماڼۍ ته ډیره نژدې نسکوره شوه. په سپینه ماڼۍ او پنتاګون باندې ایښودل شوي د الوتکې ضد دا سیستمونه د پریزیدینشل آندریو له هوایي ډګر څخه کنټرولیږي. په نوموړي هوایي ډګر کې د هوایي او سمندري ځواکونو دوه دایمې کنډکونه میشت دي چې په F-16 او F/A-18 جنګی جټ الوتکو سمبال دي. د دې ټولو حقایقو په پام کې نیولو سره، دوی باید هیڅکله لویه بوینګ الوتکه نه واى پریښې چې پنتاګون ته نژدې شي.

خو لکه څنګه چې وروسته د دفاع وزارت ویاند وویل: (موږ نه پوهیدو چې الوتکه به د پنتاګون د ودانۍ په خوا راشي او ښایي په دې هم څوک نه پوهیدل چې داسې یو څه به پیښ شي).

په پایله کې بوینګ الوتکه چې تر نورو وړاندې روانه وه او د نړۍ د تر ټولو ښه هوایي دفاع له سیستم سره یې ډغرې وهلې، ځان له پنتاګون سره وجنګاوه.

بوینګ 200-757، کارګو الوتکې دي چې د 239 مسافرو د وړو ظرفیت لري. اوږدوالی یې 32.47 متره او سور یې (د وزرونو په ګډون) 38.5 متره دی. که نوموړې الوتکه پوره ډکه شی؛ نو 150 ټنه وزن به ولري او کولاى شي چې په یوه ساعت کې 900 کیلومتره (560 میله) لار ووهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته راځو د پنټاګون ودانۍ ته. پنټاګون د نړۍ تر ټولو لویه ودانۍ ده چې هره روځ پکې 23000 کسان کار کوي. د پنټاګون نوم د ودانۍ د جوړښت له مخې اېښودل شوی دی. په دې مانا چې نوموړې ودانۍ د کانکرېټ د پنځو داسې کړیو په شان ده چې هره کړۍ یې پنځه کونجه لري. دا ودانۍ د ویرجینیا د ایالت په آرلینګټون ښارګوټي کې موقعیت لري او سپیني ماڼۍ ته نژدې ده. د یادونې وړ ده چې د آرلینګټون ښارګوټی د واشنګټن په ګاونډ کې پروت دی.

د دې له پاره چې ډېر زیان واړول شي، بوینګ الوتکه باید د پنټاګون له بام سره جنګول شوې وای. بل دا چې د ودانۍ 29 هکتاره پراخوالي ته په کتو سره، هم دا تر ټولو آسانه لار وه؛ خو "ترهګرو" پریکړه وکړه چې الوتکه د ودانۍ له یوې خوا سره چې ټول لوړوالی یې یوازې 24 متره و، وجنګوي.

الوتکه په ناڅاپي ډول لکه چې د کیناستو په حال کې وي، زمکې ته را ښکته شوه. په دې مانا چې الوتکه په افقي ډول روانه وه؛ خو کوزېدل یې تقریبا عمودي و او پرته له دې چې د پنټاګون ودانۍ ته نژدې د سړک د غاړې له لوړو څراغونو سره ولګیږي، له ودانۍ سره ولګېده.

د کوزېدو په حالت کې د الوتکې د ښکته کېدو ګیر په اتومات ډول کار کوي. که څه هم چې الوتکه د لګېدو په وخت کې 30 متره او یا د یوه درې پوړېزه ودانۍ په اندازه لوړه وه؛ خو په ودانۍ کې د ټکر له امله جوړ شوي سوري، د ودانۍ په لومړي او دوهم پوړونو کې دی. دغه حقیقت ته په کتو سره دې نتیجې ته رسیږو چې کېدای شی د پنټاګون له زمکني پوړ سره تر لګېدو مخکې، له الوتکې څخه ګیر ایسته شوی وي. د یادونې وړ ده چې د پنټاګون ودانۍ سره جوخت د چورلکو د ناستې ځای او د موټرونو پارکینګ هم شته. د پېښې د ځای انځور ته په کتو سره ټول پوهیږي چې دا هر څه پرته له دې چې ودانۍ ته څېرمه زمکو، دیوالونو، د موټرونو پارکینګ او د چورلکو ډګر ته زیان ورسیږي، سرته رسېدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم چې د الوتکې ټول وزن 100 ټنه و او په ساعت کې یې له 400 څخه تر 700 کیلومترو پورې سرعت درلود؛ خو له ټکر څخه وروسته یوازې د ودانۍ لومړۍ کړۍ ته زیان رسېدلی دی. که د پیښې انځور ته هر څوک وګوري په دې حقیقت باندې پوهیدلای شي.

د الوتکې له ټکر سره سم ټول پنتاګون ولړزید او د الوتکې په وزرونو کې سون توکو اور واخیست چې وروسته د ودانۍ نورو برخو ته ورسید. په پایله کې د الوتکې په 64 مسافرو سربیره په ودانۍ کې 125 کسان ووژل شول.

لکه هر څه چې مخکې له مخکې پلان شوي وي، بوینګ الوتکه د پنتاګون په هغه برخه ولګیده چې تر رغاونې لاندې وه. د سمندري ځواکونو د قوماندانۍ د نوي مرکز د رغونې کار د پای ته رسیدو په حال کې و. ډېر دفترونه تش وو او په ځینو کې یوازې هغه کسانو کار کاوه چې د سامان آلاتو د نصبولو مسولیت یې په غاړه وو. له همدې امله د پیښې ډیری قربانیان ملکی کسان وو او حتی یوه جنرال ته هم پکې زیان نه و رسیدلی.

نیم ساعت وروسته د ودانې پورتنی برخه هم ولویده.

هغه نښې نښانې چې وروسته به ورته اشاره وشي ثابتوي چې د چارواکو هغه خبرې چې وایي دا یوه بوینګ الوتکه وه، د نه منلو وړ خبره ده.

که له فضایی سپوږمکۍ څخه اخیستل شوي انځور ته چې د چارواکو له خوا وړاندې شوی او الوتکه پکې په جعلۍ توګه ځای په ځای شوې وه، په ځیر وکتل شی؛ نو هر چاته مالومیږي چې یوازې د بوینګ الوتکې پوزه ودانۍ ته ننوتلې او نوره ټوله تنه او وزرونه یې بهر دي.

په انځور کې الوتکه په داسې ځای کې دریدلې وه چې وزرونه یې په ودانۍ نه وو لګیدلي او پرته له پوزې څخه د الوتکې نوره ټوله تنه روغه رمټه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له همدي امله موږ باید د الوتکې وزرونه او تنه د ودانۍ په انګړ کې ووینو. که دا حقیقت ومنو چې د الوتکې پوزه او وزرونه چې د سون مواد پکې ځای لري د داسې فلزي موادو څخه جوړ شوي چې ژر ویلې کیږی او سوزي؛ نو دا هم باید ومنل شي چې د بوینګ الوتکې په شاتنۍ تنه کې د لاریو او کوچنیو موټرونو په شان فلزي مواد کاریږي. مهمه خبره دا ده چې د اور له وژلو وروسته باید لږ تر لږه د هغه فلزی موادو ایرې پیدا شوې وای. که تاسو د اسوشیتید پرس په واسطه اخیستل شوي انځور ته وګورئ نو به درته څرګنده شي چې د الوتکې څرک نه لګي. دا په داسې حال کې ده چې انځور د اور له وژلو څو دقیقې وروسته اخیستل شوی. په انځور کی لیدل کیږي چې د اوروژنې موټرونه رسیدلی؛ خو د اور وژنې ډله د پیښې ځای ته نه ده تلې او د ودانۍ پورتني پوړونه هم لا په خپل ځای پاته دي.

د (آرلینګټون) ښارګوټي د اوروژنې د ادارې مشر (ایدپلاګر) د سپتمبر په 12 نیټه په یوه خبری کانفرانس کې وویل چې د ده ډله د پنتاګون د نورو برخو د اوروژنې ته استول شوې وه او د الوتکې د ټکر اصلی ځای ته د تګ اجازه نه وه ورکړل شوې. یوازې او یوازې د بیړنیو حالاتو سره د مبارزې ځانګړې ډلې د پیښې په اصلی ځای کې وې.

(اید پلاګر) د یوه خبریال پوښتنو ته داسې ځواب ووایه:

**خبریال:** له الوتکې څخه څه شی پاته شوي و؟

**پلاګر:** د الوتکې په هکله باید ووایم چې د اوروژنې د عملیاتو په ترڅ د الوتکې ځینې ټوټې د ودانۍ د ننه پیدا شوې؛ خو پاتې شوني ډېر زیات نه و. که په لنډه توګه ووایم د الوتکې تنه او یا داسې کوم بل شی هلته نه و.

**خبریال:** ښاغلی پلاګر! د الوتکې ډیرې زیاتې وړې ټوټې د پیښې د ځای په نژدو سیمو او حتی په سړک کې لیدل کیږي. دا ټوټې ډیرې وړې دي. آیا ستاسو په نظر الوتکه د ټکر په وخت کې یوازې د تیلو له وجې چاودلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پلاګر:** زه نه غواړم په دې اړه نورې خبرې وکړم. له موږ سره څو داسې کسان شته چې حال یې په خپلو سترګو لیدلی او زما په آند دوی به له ما څخه ښه معلومات درکړي چې د الوتکې د رسیدو په وخت کې څه پیښ شول؟ زه که رښتیا وو‌ایم په دې نه پوهیږم.

**خبریال:** د الوتکې د سون توکي چیرته دي؟

**پلاګر:** موږ یوازې یو سوری لیدلی چې زموږ په آند د الوتکې پوزه پرې لګیدلې وه.

که څه هم چې ځینی پوځي چارواکو او د کانګرس غړو ادعا وکړه چې دوی د الوتکې ټکر لیدلی و؛ خو د ډیرو زیاتو او د نه پیژندلو وړ کوچنیو ټوټو څخه پرته د الوتکې د تنې هیڅ ښکاره ثبوت و نه لیدل شو. حتی د پنتاګون د موټرو د پارګینګ د امنیتي کمرې اخستل شوو انځورونو هم له هیڅ زاویې څخه بوینګ و نه ښوده او ویې نه شو کړ‌ای چې د چارواکو ادعا ثابته کړي.

اوس راځی چې د چارواکو ټولې څرګندونې په لنډه توګه تکرار کړو:

- تښتول شوې بوینګ د هغه F-16 جنګي جټ الوتکو څخه ورکه شوې وه چې د همدې الوتکې د تعقیب له پاره استول شوي وې. په دې سربیره د واشنګټن د هوایی دفاع له سیستم څخه هم غلې تیره شوه.
- الوتکه په داسې حالت کې چې افقی روانه وه، په عمودي ډول د پنتاګون د موټرو په پارکینګ کې په زمکه کیناسته.
- الوتکه د ودانۍ له لومړني پوړ سره ټکر کوي. یوازی د الوتکې پوزه په ودانۍ کې سوری جوړوي او مخکې له دې چې وزر یې له ودانۍ سره ولګي، دریږي.
- د الوتکې تنه ژر تر ژره خوره - وره کیږي او د وزرونو د سون توکي تر هغه پورې سوزیږي چې ودانۍ ته اور واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیښې د سیمې د عیني شاهدانو (د کانګرس غړو او پوځي افسرانو) څرګندونو ته په اشارې سره باید وویل شي چې دا ټوله جوړه شوې کیسه له درواغو ډکه ده او دوی هغه درواغو ته د حقیقت د بڼې ورکولو هڅه کړې وه چې د پوځ له خوا جوړ شوي و.

دوی د یوه درواغ د پټولو له پاره بل درواغ ویل. که چیرته تاسو د همدې فصل په لومړیو کې، د پنتاګون له خوا خپره شوې اعلامیه ولولئ، درته څرګنده به شي چې بوینګ الوتکه اصلاً نه وه. د (کامیکازي Kamikaze) هغه جاپاني پیلوټان چې په امریکایي بیړیو یې ځانمرګي بریدونه وکړل) الوتکو تیوري تر نیم ساعت پورې هم نه وه. په دې سربیره د ښاغلی لوی درستیز تر مرګې پورې هم د هغه جنګي جټ الوتکو په هکله هیڅ خبر نه و خپور شوئ چې د خیالي او تش په نامه بوینګ د کوزولو له پاره استول شوې وې؛ خو دوه روځې وروسته دا کیسه هم د هوایی دفاع د قوماندانی له خوا په ډیره ځیرکی سره جوړه شوه.

که څه هم په پورتنی ټوله کیسه کې د چارواکو څرګندونې یوازې او یوازې داسې پروپاګنده وه چې د عامه خلکو د غولولو له پاره جوړه شوې وه؛ خو په پنتاګون کې د 125 کسانو مرګ او د هغه الوتکې لادرکه کیدل چې 64 مسافر پکې سپاره و، یو نه هیریدونکی حقیقت دی.

هغه چاودنه چې پنتاګون یې ولړزاوه، څه وو؟ چاودنه ولې وشوه؟ د امریکنز هوایی کرښې 77مه الوتنه څه شوه؟ آیا د الوتکې مسافرین ووژل شول؟ که داسې وي؛ نو چا او د څه له پاره ووژل؟ که دوی تر اوسه ژوندي دي؛ نو چیرته دي؟ دا ټولې هغه پوښتنې دي چې د متحده ایالاتو حکومت باید ورته ځواب ووایی.

اوس دا پوښتنه پورته کیږي چې چارواکو د څه شي ثابتول غوښتل؟ جنرال (ویسلي کلارک) چې د کوسوو د جګړې پر مهال د ناټو لوی قوماندان و، له بریدونو دوه روځې وروسته له (سي ان ان CNN) ټلویزیوني چینل سره په مرکه کې وویل: موږ له پخوا څخه پوهیدو چې ځینو مشخصو ډلو غوښتل په (پنتاګون)

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې بريدونه وکړي؛ خو موږ د پوره معلوماتو د نشتوالي له امله غبرګون و نه شو ښودلای. د دغه لوړ پوړي چارواکي څرګندوني هيڅ بهرني بريد کوونکي ته اشاره نه کوي، بلکه د متحده ايالاتو د ننه کوم چا ته ګوته نيسي. اوس راځئ د هغه پېښو ټکرونو او ناخوالو په هکله وغږېږو چې د امريکا حکمرانه او د واک په ګدۍ ناسته ټولنه سره جلا کوي.

(سي ان ان CNN) ټلويزيوني چينل د سپتمبر په 15 او له بريدونو وروسته د مصر له ولسشمر، (حسنی مبارک) سره مرکه وکړه. په هغه وخت کې د مصر ولسمشر دا معلومات چې اوس يې موږ لرو، نه درلودل. هغه په دې هم نه پوهيده چې که دا موضوع ډېره وخېږل شي؛ نو بله مانا به ورکړي. له بلې خوا هغه څو اونۍ وړاندې د بريدونو د تياريو په اړه، يو استخباراتي راپور هم د متحده ايالاتو دولت ته سپارلی و.

**مبارک:** موږ اټکل کوو چې خلک ښايي الوتکې وتښتوي، دا شی او هغه شی وکړي؛ خو د نړۍ هيڅ استخباراتي ادارې دا اټکل نه شو کولای چې دوی به د سوداګريزو مرکزونو او پنتاګون سره له مسافرو ډکې الوتکې وجنګوي. زه په ډاډه زړه ويلای شم هغه خلکو چې دا بريدونه يې سر ته رسولي، په دې سيمه کې له پخوا څخه الوتنې کړې وې. د پنتاګون ودانۍ دومره لوړه نه ده چې هر پيلوټ الوتکه ورسره وجنګوي. زه په ډاډ سره ويلای شم چې د هغه الوتکې پيلوټ په دې سيمه کې ډيرې الوتنې کړې وې، تر څو هغه خنډونه وګوري چې د پنتاګون د ودانۍ له يوه خاص ځای سره ښايي د يوې لويې ملکي الوتکې په مخ کې راشي. کوم چا دا موضوع ښه لوستې ده او په دغه ځای کې يې زياتې الوتنې کړې دي.

**پوښتنه:** نو ستاسو په آند دا کار د هيواد د ننه شوی؟ ستاسو په فکر د دې کار تر شا د چا لاس و؟

**مبارک:** که رښتيا ووايم زه نه غواړم چې اوس ژر څوک ملامت کړم. په متحده ايالاتو کې که څوک د ترهګرۍ په تور ونيول شي؛ نو سم د لاسه ګونګوسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپاره شي چې دا کار د کوم سعودي، مصري او یا اماراتي عرب کار دی او یا دا چې د دې ډول ټولو کارو تر شا عرب ولاړ دي. زما په آند هیڅ څوک وړاندوینه نه شي کولای او باید د موضوع تر پوره روښانه کیدا پورې په تمه واوسو. د نړۍ ډیر خلک ښایی په یاد ولري چې د اوکلوهاما له بمی چاودنو وروسته د ملامتیا ټولې ګوتې د عربو خوا ته ونیول شوې؛ خو په حقیقت کې هغه بریدونه عربانو نه وو کړی. زما په فکر د ځیرنو تر پایه پورې باید صبر وشي؛ ځکه چې دغه شان پیښنه چې اوس په متحده ایالاتو کې شوې ده، د یو یا څو داسې پیلوټانو کار نه دی چې په فلوریدا کې روزل شوي او بیا یې د الوتکې د پورته کولو له پاره اجازه لیک (لایسنس) تر لاسه کړی وي، چې ترهګریز بریدونه وکړي. زه دا ځکه وایم چې ما خپله پیلوټي کړې. ما ډیرې درنې او نورې جنګي جټ الوتکې چلولې. زه په ډاډ سره وایم چې دا آسانه کار نه دی او له همدې امله باید دومره ژر هیڅوک ملامت نه شي.

که د بوش ادارې د ځینې کورنیو ستونزو د پټولو په موخه د بریدونو موضوع تحریفولای شوای؛ نو آیا دا هڅه به نه وې شوې چې په نړیوال سوداګریز مرکز باندې د بریدونو ځینې مهم لاملونه پټ کړي؟

## دوهم فصل: د جرم شریکان

اوس به د هغه کیسې په هکله وغږیږو چې د نیویارک له بریدونو وروسته نړۍ ته وړاندې شوې وه. د (سي ان ان CNN) خبري چینل د 2001 کال د سپتمبر په 11 نیټه د سهار په اته بجو او پنځوس دقیقو خپل ورځنې او عادی پروګرام بند کړ او یو ناڅاپه یې اعلان وکړ چې له مسافرو ډکه یوه الوتکه د نړیوال تجارتي مرکز له شمالي برج سره ولګیده. لکه څنګه چې دوی د پیښې له سیمې څخه تازه انځورونه نه درلودل؛ نو د برج یوازې یو انځور چې له پورتنیو پوړونو څخه یې دودونه پورته کیدل، د ټولو ټلویزیوني شبکو له خوا خپریده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړي سر کې ټولو فکر کاوه چې ښایی الوتکې په تصادفي ډول له برج سره ټکر کړی وي. امریکنز هوایی کرښه چې په دې وروستیو کې له مالي پلوه تاواني شوې هم وه، هڅه کوله چې خپلې الوتکې تر ډیره حده په لږ لګښت وچلوي، د هوایی ترافیک د مامورینو کار د ډاډ وړ نه و، عمومي بې نظمي روانه وه او نور.....ټول هغه لاملونه وو چې دې بریدونو ته یې لاره پرانیسته.

که څه هم چې دا ډول ناڅاپي پېښو نور لاملونه هم درلودلای شوای؛ خو (سي ان ان CNN) ډېر ژر وویل چې ښایی دا یوه تصادفي پېښه نه وي او کیدای شي ترهګریز برید وي.

نړۍ اوس هم په یاد لري چې د 1993 کال د فبرورۍ په 26 نیټه له چاودیدونکو توکو ډکه یوه لارۍ د نړیوال سوداګریز مرکز د موټرو په پارکینګ کې وچاوده چې له امله یې 6 کسان ووژل شول او زر تنه نور ټپیان شول. د هغه حملې نسبت هغې اسلام پالې ډلې ته وشو چې د نیویارک له ښار څخه بهر یې فعالیت کاوه او مشري یې شیخ عمر عبدالرحمن کوله. د (سي ان ان CNN) د مبصرینو په آند که دا ټکر یو برید و؛ نو ښایی چې دا کار د یوه بل اسلام پال یعنې د سعودي عربستان د پخواني میلیاردر اسامه بن لادن په وسیله شوی وي. اسامه بن لادن چې افغانستان ته یې پناه وړې وه، د کال 1996 د اګست د میاشتې په 23 نیټه، په خپله یوه فتوا کې د متحده ایالاتو او اسراییلو په خلاف د جګړې اعلان وکړ. د 1998 د اګست د میاشتې په 7 نیټه د کینیا په پلازمینه نایروبي او د تانزانیا په پلازمینه دارالسلام کې د متحده ایالاتو په سفارتونو د شوو بریدونو نسبت هم، اسامه بن لادن ته شوی و. اسامه د څو کلونو په ترڅ کې د متحده ایالاتو د دښمنانو په لیست کې لومړۍ ځای خپل کړ. اف بي آی FBI د نوموړي په هکله د معلوماتو په بدل کې د ۵ میلیونه ډالرو جایزې اعلان کړی و. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له طالبانو غوښتي و چې هغه محکمې ته وسپاري او د متحده ایالاتو دولت هم په دې هڅه کې و چې د اسامه بن لادن په هکله غیابي محکمه جوړه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکایی ټلویزیوني چینلونو یو په بل پسې له نیویارک څخه د ژوندیو راپورنو ورکول پیل کړل. د سهار په نهه بجو او دیرش دقیقو یوې بلې مسافر وړونکې الوتکې له جنوبي برج سره ټکر وکړ. دوهم برید په داسې وخت کې وشو چې ټلویزیوني چینلونو د شمالي برج د سوزیدو ژوندي انځورونه خپرول. له همدې امله دا انځورونه له مختلفو زاویو څخه اخیستل کیدل او په ملیونو وګړو په ژوندۍ بڼه لیدل. د وروستنیو کلکو ثبوتونو له لیدو وروسته دا مالومه شوه چې متحده ایالات په خپله خاوره کې تر برید لاندې راغلي دي. د نیویارک بندري چارواکو د موټر بم چاودنو د کیدو له ویرې، هغه پلونه او د زمکې لاندې تونلونه چې د نیویارک ایالت د منهاټن ښار ته تلل، بند کړل (دوی ښایی فکر کړی وي چې زمکني کوماندو ځواکونه به هم بریدونه وکړي).

د سهار په 9:04 بجو د نیویارک پولیسو د دې ښار اوسیدونکو ته وویل چې کیدای شي نور لوړ برجونه هم د الوتکو د ټکر سره مخامخ شي. د سهار په لسو بجو کله چې په پنتاګون باندې د بریدونو لومړي خبرونه خپاره شول، د سوداګریز مرکز جنوبی برج په داسې حال کې چې ژوندي راپورونه یې خپریدل ونړید او وروسته په 10:29 بجو شمالي برج هم نسکور شو. د نړیدلو برجونو دوړو د ټول منهاټن سړکونه نیولي و. په هغه وخت کې داسې راپورونه خپریدل چې ښایی په لسګونو زره کسان وژل شوي وي. د لګیدلو الوتکو اور دومره زورور و چې د برجونو فلزي جوړښت مقاومت ونکړ او ودانۍ ونړیدې.

(جورج پاتاکي) چې په هغه وخت کې د نیویارک والي و، د ټولو دولتي دفترونو د بندولو امر وکړ او ملي ګارد یې ښار ته راوبست. هغه له بریدونو لږ وروسته داسې وویل: په هغه برجونو کې زما ملګري دي، زه د هغوی او د هغوی د کورنیو په هکله فکر کوم. موږ هڅه کوو له ټولو هغه کسانو سره چې په دغه ویرجنه پیښه کې اغیزمن شوي مرسته وکړو.

(رودولف ګیلیاني) په 11:02 بجو له نیویارک ون څخه د یوه ټیلیفونی تماس په ترڅ کې د نیویارک ښار اوسیدونکو ته داسې وویل: هغه کسان چې همدا اوس په

(c) ketabton.com: The Digital Library



منهاټن کې نه دي، باید په خپلو کورونو کې پاته شي. که تاسو د منهاټن په مالي برخه کې یاست، کیدای شي چې د پیښې له سیمې څخه ورو – ورو شمالي خوا ته لاړ شئ، چې د ژغورنې په عملیاتو کې خنډ پیښ نه شي. موږ باید د امکان تر حده خلك وژغورو.

په لسګونو زره کسان د منهاټن په پلونو چې د موټرونو د تګ راتګ له پاره مخکې تړل شوي وو له ښار څخه پلي د وتلو په حال کې وو.

د ماښام په 5:20 بجو د نړیوال سوداګریز مرکز د 7 شمېرې ودانۍ برج چې الوتکه ورسره نه وه لګیدلې، چا ته له زیان اړولو پرته ونړید. د نیویارک ښار د بیړنیو حالاتو ادارې وویل چې دا ودانۍ د مخکینیو دوو برجونو د نړیدو له کبله زیانمنه شوې وه. داسې اټکل کیده چې په ګاونډ کې پرتې نورې ودانۍ به هم ونړیږي. د نیویارک ښاروال د 30000 داسې پلاستیکی کڅوړو غوښتنه وکړه چې مړي پکې ځای په ځای کیږی.

د هغه روځې په ماسپښین او د راتلونکو روځو په درشل کې د بریدونو کیسه په دې ډول جوړه شوه: د بن لادن د شبکې 10 تنه بنسټ پاله اسلامپال چې په دوه ډلو ویشل شوي وو او په کوچنیو چړو سمبال وو، الوتکې وتښتولې. دغه بنسټ پالو د خپل ژوند په بدل کې، تښتول شوې الوتکې له برجونو سره وجنګولې.

په لومړۍ ځل کتو کې هر خبر هیښونکی وي؛ خو څومره چې جزئیات زیات وڅیړل شي په هماغه اندازه توپیرونه ډیریږي.

اف بي آی FBI له څیړنو وروسته وویل چې تښتول شوې دواړه الوتکې 767 ډوله بوینګ الوتکې وې. لومړنۍ الوتکې د امریکنز په هوایی کرښه پورې او دوهمه یې په یونایتد هوایی کرښه پورې اړه لرله او په ترتیب سره د 11 او 175 شمیرو الوتنو په درلودلو سره له باستون څخه لاس انجلس ته په لاره وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الوتني ځيني مسافرين په دې توانيدلي و چې له تښتول شوو الوتکو څخه له خپلو خپلوانو سره ټيليفوني اړيکې ونيسي. د دوی له څرګندونو څخه دا ښکاره شوې وه چې تښتونکو، ټول مسافرين د الوتکې په شاتنۍ برخه کې ټول کړي وو. دا کار د تښتونکو له پاره ځکه آسانه و چې په الوتکو کې د مسافرينو شميره کمه وه. په 11 شميره الوتنه کې 81 تنه او په 175 شميره الوتنه کې 56 تنه مسافرين وو چې ټول 137 کسان کيدل. په داسې حال کې چې د ټولو سيټونو شمير 239 وو.

د هغه معلوماتو پر بنسټ چې د مسافرينو له ټيليفوني اړيکو څخه ټول شوي وو، له 93 شميرې الوتنې پرته د نورو ټولو الوتکو تښتونکو سپکې وسلې (چاقو او نور) درلودل. د 93 شميرې الوتنې مسافرينو په الوتکه کې داسې يوه بم ته اشاره کړې وه چې له تښتونکو سره و او په يوه بکس کې يې ليږداوه. وروسته له دې چې د متحده ايالاتو فضا د الوتنو پر مخ بنده شوه؛ نو ټولې هغه الوتکې چې پر زمکه ناستې وې د اف بي آی FBI له خوا وپلټل شوې. د هغوی له ډلې څخه په دوه الوتکو کې چې يوه يې 43 شميره الوتنه ( نې وارک – لاس انجلس) او بله 1729 شميره الوتنه (نې وارک – سان فرانسيسکو) وه، تيغي چاړې وتلې وې چې د سيټونو تر لاندې ځای پر ځای شوې وې. د پيښې څيړونکو وروسته وويل چې ټولو تښتونکو له همدې ډول چاړو څخه کار اخيستی وو. سي آی اې CIA هم څه موده وروسته په افغانستان کې په هغه کور کې چې د دوی په آند پخوا اسامه بن لادن پکې اوسيده، دغه ډول چاړې موندلې او اټکل وشو چې اسلامی بنسټ پالو ته به د زده کړې له پاره ترينه کار اخيستل شوی وي.

د دې خبرې منل چې د بريدونو قوماندان به خپلو کسانو ته د وسلو په ورکولو سره دومره لويه تيروتنه کړې وه، نا شونې ده؛ ځکه کيدای شوای چې ټول او يا د عملياتو يوه برخه له ناکامۍ سره مخامخ شي. له دې څخه عجيبه هم دا ده چې الوتکو ته د ځينو تومانچو وړل ډير آسانه کار وو. د بيلګې په ډول داسې خاصې تومانچې شته چې د پلټنې ماشينونه يې نه شي موندلای او تيرول يې حتی له چړو څخه هم آسانه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې له پاره چې وښودل شي الوتکې د عربانو له خوا له برجونو سره جنګول شوې دي؛ نو د چړو خبره مينځ ته راغله. دا ځکه چې عرب اسلامپال په چړو باندې د خپلو دښمنانو د ستونيو په غوڅولو مشهور دي.

الوتکې مخکې له دې چې نيويارک ته ورسيږي، بايد دومره ارتفاع يې له لاسه ورکړې واى چې برجونه د پيلوټانو لاندې نه بلکه مخامخ وى. که ښارونو ته له پاس څخه وکتل شي؛ نو د يوې نقشې په څير ښکاري او هغه ځايونه چې له پخوا څخه په نښه شوي وي، له هر چا څخه هيريږي. له همدې کبله له برجونو سره د الوتکو د جنګولو له پاره بايد د الوتکو ارتفاع ټيټه ساتل شوې واى.

پيلوټانو بايد نه يوازې د الوتکو لوړوالى په يوه اندازه ساتلې واى، بلکه خپل هدف ته د رسيدو له پاره هم بايد په لاره نيغ تللى واى. د سوداګريز مرکز دواړو غبرګو برجونو 63-70 متره سور درلود په داسې حال کې چې د 767 بوينګ الوتکو سور 47-60 متره دى. که هغه ويډيويى فلم ته چې د الوتکې د ټکر په وخت اخيستل شوى په ځير وکتل شي؛ نو ليدل کيږي چې الوتکه کټ مټ د برج په مينځ باندې لګيږي. که الوتکه حتى د 55-65 مترو په اندازه کږه تللې واى، له برج سره نه لګيده او مهمه خبره دا چې د 700 کيلومترو په سرعت کې د دومره کوچني واټن په اندازه کږيدل د يوې ثانيې د 0.3 برخې کار دى.

لومړى الوتکه برج ته په داسې حال کې ورسيده چې باد هم هماغه لور ته لګيده او همدا سبب و چې د الوتکې ثبات سم ساتل شوى و؛ خو دوهمه الوتکه مجبوره وه چې يوه ستونزمنه دوره ووهي. ستونزمنه بايد ځکه ورته ووايو چې الوتکه باد ته مخامخ روانه وه؛ خو په هر حال دې الوتکې هم کټ مټ د برج مينځ وواهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېرو ټکړه پیلوټانو د څرګندونو پر بنسټ، یوازې ډېر کم پیلوټان د داسې عملیاتو د سر ته رسولو جوګه دي او دا خبره نه مني چې داسې کار دې د هغه کسانو له خوا وشي چې لا تر اوسه د زده کړې په حال کې وو. له بله پلوه، د برج له داسې یوه ستونزمن ځای سره د لګیدو له پاره یوه بله بې خطره لاره هم شته او هغه د الوتکو د لارښونې د خاصو راډیویې څپو د لیږدولو آله ده. دا څپې له یوه خاص ځای څخه لیږل کیږي او کولای شي هغه الوتکې چې په اتوماته توګه روانې وي، خپلې خوا ته را کاږي. مهمه خبره دا ده چې په سوداګریزو مرکزونو کې د دغه ډول څپې یا زیګنال خپریدل ځکه یقیني شوي وو چې د دې آلې څپو د تلویزیونونو له هغه آنتنونو څخه خپریدونکو څپو ته مزاحمت کړی وو چې د سوداګریز مرکز د برجونو په سر باندې لګیدلي وو. دا احتمال شته چې دا آله به په وروستیو شیبو کې فعاله شوې وي چې د موندلو څخه یې مخنیوی وشي او دا هم شونې ده چې تښتونکو د دواړو الوتکو له پاره نوموړې دوه آلې نصب کړې وي. په هر حال د برید په وخت کې په حتمي ډول داسې کسان هم وو چې له زمکې څخه یې له تښتونکو سره مرسته کوله او که داسې وي؛ نو دې ته اړتیا نه وه چې په الوتکه کې دې ډېر تښتونکي کینول شي؛ ځکه یو کوچنی ټیم هم کولای شوای چې الوتکه آټو پایلټ Auto Pilot (داسې یو حالت چې الوتکه پرته له پیلوټ څخه هم حرکت کولای شي) حالت ته واړوي. سربیره پر دې په الوتکه کې د تښتونکو شتون ته هم اړتیا نه وه؛ ځکه چې په الوتکه کې هیڅ مسافر نه و. د ګلوبل هاک ( Global Hawk) تکنالوژۍ په مرسته کیدای شوای چې کارونکي له لیرې واټن څخه په الوتکو کې نصب کمپیوټري سیستمونو ته ننوزي او د الوتکې کنټرول په خپل لاس کې واخلي. د دې ټکنالوژی په مرسته چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له خوا جوړه شوې، د نړۍ په هره برخه کې الوتکې کنټرولیدای او آن له پیلوټ څخه پرته ګرځیدلای شي. له همدې امله ویلای شو چې بنایي بوینګ الوتکه هم د نورو "ډرون Drone" یا کوچنیو بې پیلوټه الوتکو په شان، له لیرې واټن څخه کنټرولیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالاخره غبرګ برجونه ولویدل. په هماغه لومړیو روځو کې د بیړنیو حالاتو د فدرالي ادارې له خوا یوه څیړنیزه کمیټه جوړه شوه چې د امریکایی انجینرانو د ټولنې (American Society of Civil Engineer – ASCE) له خوا پر مخ بیول کیده. د څیړنو د لومړنیو راپوروښو پر بنسټ، د الوتکې سوزیدونکو توکو یا تیلو دومره تودوخه تولید کړې وه چې د ودانۍ اوسپنیز جوړښت یې کمزوری کړی و. دغه نظریه د نیویارک د اوروژنې د ادارې NYFD او د فایر انجینیرنګ Fire Engineering علمي خپرونې له خوا په کلکه رد شوه. د دغې خپرونې وړاندې شوو دلایلو چې پر علمي اټکلونو ولاړ وو، دا ثابتوله چې د ودانۍ اوسپنیز جوړښت کولای شوای، تر ډیرې مودې د اور په وړاندې مقاومت وکړي. د اوروژنې ډلې بیا ادعا کوله چې دوی د برج لاندې د چاودنې غږ واورید او له همدې امله یې د یوې آزادې څیړنې غوښتنه وکړه. پورتنیو دوو ادارو هڅه وکړه هغه مواد پیدا کړي چې د برجونو لاندې د چاودنې سبب شول. د نیو مکسیکو د انستیتیوت د کانونو او تکنالوژۍ د څانګې کار پوه (وان رومیرو) په ټینګار ویلي و چې برجونه د بل کوم شي له امله نه بلکه یوازې او یوازې د چاودنې له امله ونړیدل؛ خو وروسته یې خپلې څرګندونې د عامه فشارونو له کبله بیرته واخیستې.

خو د الوتکو ټکر په هر حال د دریم یا 7 شمیرې برج ړنګیدل نه ثابتوي. د امریکایی انجینرانو ټولنې یا ASCE دا نظریه چې دا ودانۍ د بنسټ د کمزورۍ له کبله ونړیده نه مني. د دوی دلیل دا و چې برج کوږ نه بلکه په خپل ځای باندې لویدلی. پرته له دې ګڼنې (فرضیې) چې ودانۍ د چاودیدونکو توکو له امله په خپل ځان باندې را لویدلې ده بل کوم لامل نشته.

د 2001 کال د نومبر د میاشتې په 4 نیټه، (نیویارک ټایمز) روځپاڼې په خپل یوه مطلب کې له یوه ډیر مهم راز څخه پرده پورته کړه. دا مطلب د (جیمز ریزن) له خوا د «سپتمبر په 11 نیټه د CIA یو پټ مرکز ویجاړ شو» تر سرلیک لاندې خپور شوی و. نړیوال سوداګریز مرکزونه چې ټولو فکر کاوه یو ملکی ځای دی، په اصل کې یو نظامي مرکز و. دلته په زرګونو خلک څکه مړه شول، چې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهيدل ترينه د انساني سپر په ډول کار اخيستل کيږي. په ۷ شميره برج کې د (سي آی اې CIA) يو پټ مرکز و چې ښايي دا به په نوموړي برج او نژدې سيمه کې يوازنی هم نه و. د شلمې پيړۍ په پنځوسمه لسيزه کې دې ادارې د ملګرو ملتونو د بهرنيو اتباعو پټه څارنه کوله؛ خو د (بيل کلينټن) د جمهوري رياست په دوره کې يې خپله پاملرنه د منهاټن ښار اقتصادي جاسوسۍ ته وغځوله او د امريکا د استخباراتو هغه اصلي سرچينې چې د سړې جګړې په دوران کې د پخواني شوروي اتحاد په ضد کاريدې، په آسانۍ سره اقتصادي جګړې ته ښکيل شوې. د (سي آی اې CIA) د ادارې د نيويارک د سيمې اډه ورو-ورو د نړۍ د سوداګريزو او اقتصادي استخباراتو په تر ټولو مهم مرکز باندې بدله شوه. د استخباراتو دا بيا جوړښت ټول د (سي آی اې CIA) د مشرتابه ډلې او د لوی درستيز د کسانو تر نظر لاندې بشپړ شوی و.

که څو کاله مخکې ولاړ شو او د 1993 کال د فبرورۍ د 26 نيټې هغه چاودنو ته نظر واچوو چې په نړيوال سوداګريز مرکز باندې وشوې؛ نو و به ګورو چې دا بريدونه هم د (سي آی اې CIA) په نوموړې اډه باندې تر سره شوی وی، که څه هم په هغه وخت کې يې دومره وده نه وه کړې. د يادونې وړ ده چې په هغه بريد کې شپږ کسان ووژل او نژدې 1000 تنه نور ټپيان شول.

د دې حقيقت په پام کې نيولو سره چې د بريد په وخت کې په غبرګو برجونو کې له 30000 څخه نيولې تر 40000 پورې کسانو کار کاوه او هر برج 110 پوړه درلودل؛ نو دې پايلې ته رسيږو چې په هر پوړ کې به 136 کسانو کار کاوه. لومړنۍ بوينګ الوتکې، شمالي برج د 80 او 85 پوړونو په مينځ کې وواهه. د پورتنيو پوړونو اوسيدونکي په هماغه وخت کې يا د لړزې او يا هم د هغه اور له کبله چې وروسته ولګيد له مينځه لاړل. د پورتنيو پوړونو خلک د اور له امله نور هم پاس وختل او هلته بند پاتې شول. ځينو کسانو چې نه غوښتل وسوزي، له هماغه لوړو پوړونو څخه لاندې ټوپونه ووهل. په پای کې برج نسکور شو او ټول هغه کسان چې په پورتنيو 30 پوړونو کې وو، له مينځه لاړل. که په منځنۍ توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشمیرل شي؛ نو په هغه روځ باید 4080 وژل شوي کسان یوازې هغوی وي چې په برجونو کې په کار بوخت وو.

چاروا‌کو د 2002 کال د فبرورئ په 9 نیټه د نیویارک په بریدونو کې د وژل شوو کسانو شمیره 2843 تنه اعلان کړه چې په دې کې د الوتکو مسافرین او عمله، پولیس، اور وژونکي او د برید په وخت کې په برجونو کې حاضر کسان شامل وو. دغه شمیرې د لومړنیو اټکلونو څخه ډیر زیات توپیر درلود او هر څوک یې چې وګوري، دا شک ورته پیدا کیږي چې دا بریدونه د مرګ ژوبلې د کچې د لوړوالي په موخه نه و تر سره شوي. کیدای شي داسې کومه هڅه شوي وي چې هغه کسان چې دفترونه یې په لوړو پوړونو کې وو، د برید په روځ دندو ته حاضر نه شي.

سربیره پر دې، اسرائیلي (هاآرتص) روځپاڼې (د 2001 کال د سپتمبر د 26 نیټې ګڼه) دا خبره څرګنده کړه چې د نیویارک له بریدونو څخه دوه ساعته مخکې نا پیژندل شوو کسانو د بریښنایی پیغامونو لوی شرکت، (اوديګو Odigo) ته د خبرداری پیغامونه استولي وو. دا خبره د دغه شرکت د مشرې (میشا مکوور) په واسطه هم تائید شوې وه. (د "سي ان ان CNN" ټلویزیوني چینل  هم د "دانیل سیبیرګ" مطلب چې د خبرداری پیغامونه نومیده، خپور کړ او وې ښوده چې شرکت دا پیغامونه اخیستي وو. د "نیوزبایټس" ویب پاڼې یو کارکوونکي، "براین مک ویلیمز" هم د سپتمبر په27  په خپل یوه مطلب کې په ډاګه کړه چې اسرائیل د نړیوال سوداګریز مرکز د بریدونو په هکله له مخکې خبر وو. دا معلومات د "الجزیرې" چینل د یوه مبصر له خوا هم په بیله بڼه وړاندې شول. دغه مبصر په ډاګه کړه چې د اسرائیلو د جاسوسۍ اداره "موساد" د دغه حملو مسئوله وه؛ ځکه چې د سوداګریز مرکز ټولو یهودي کارکوونکو ته د بریدونو د کیدو په اړه خبرداري ورکړل شوې و؛ خو نوموړي قطري چینل سم د لاسه خپل کارکونکي خبریال، د یوه شاهد په توګه معرفی کړ). پورتنیو حقایقو ته په کتو سره کیدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوای چې د برجونو کارکوونکو ته يو ډول خبرداري ورکړل شوی وای، که څه هم چې ډير جدی به نه و.

دلته په کار ده د هغه پيښې ذکر وکړو چې د 1995 کال د اپريل په 19 نيټه د (اوکلوهاما) په ښار کې را مينځ ته شوه. په هغه روځ د (مورا) فدرالي ودانۍ ګڼ شمير مامورينو ته رخصتي ورکړل شوې وه، له همدې امله په چاودنه کې يوازې 168 کسان ووژل شول. اوس-اوس موږ پوهيږو چې نوموړی برید د متحده ایالاتو د پوځ د کسانو له خوا چې د حقوقو په سخت دريځه اداره پورې تړلي وو، شوی وو. دا اداره په خپله د "اف بي آی FBI" په واسطه جوړه شوې وه.

د (اف بي آی FBI) اداري د اوکلوهاما د ښار د برید اجازه ورکړې وه. دوی په خپله د دغه پيښې د مړينې شميره ټاکلې وه او پرې خبر وو.

اوس به د ولسمشر (جورج ډبليو بوش) هغه عجيبو اعترافاتو ته لنډه کتنه وکړو چې د دسمبر په ۴ نيټه يې د (اورلاندو) د ښار په يوه ناسته کې وکړل.

**پوښتنه:** ښاغلی ولسمشر، لومړی دا چې تاسې نه پوهيږئ د دغه هيواد له پاره مو څومره کار کړی دی او دوهمه دا چې، کله چې تاسو د لومړي ځل له پاره د ترهګريزو بريدونو خبر واوريد، څنګه احساس مو وکړ؟ (د لاسونو پړکارئ او تشويقول).

**ولسمشر**: مننه، جوردن. تاسو ښايی هيڅ باور ونکړئ چې له بريدونو وروسته زه په څه حالت کې وم. هغه وخت زه د خپل دفتر له رئيس اندي کارد (Andy Card ) سره د فلوريدا ايالت ته تلی وم او هلته يوه سيمه ايز ښوونځي ته د ننوتو لپاره په تمه ناست وم. ټلويزيون چالان و او ما يوه الوتکه وليده چې له برج سره ولګيده. ما په خپله پيلوټي کړې ده او په هغه وخت کې مې ځان سره وويل چې دا پيلوټ هرومرو ليونی شوی دی. ما فکر کاوه چې دا به يوه ډيره ويرونکې پيښه وي. زه اريان پاته وم؛ خو بيا مې هم د فکر کولو له پاره وخت نه درلود. کله چې زه ښوونځي ته ننوتم، زما د دفتر رئيس (اندی کارد) راغی او راته وې ويل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهمې الوتکې هم له بل برج سره ټکر وکړ او زیاته يې کړه چې په متحده ایالاتو باندې برید شوی دی. زه دې خبر دومره اریان کړم چې نه پوهیدم لومړی د څه شي په هکله فکر وکړم. زه په داسې یو وخت لوی کې شوی وم چې هیڅکله مې په دې هکله فکر نه و کړی چې امریکا به تر برید لاندې راشي. ښایی ستا مور او پلار هم هیڅ وخت دا فکر نه وي کړی. په هغه کم وخت کې ما فکر کاوه چې تر برید لاندې راتلل څه مانا لري؟ خو سره له دې زه په دې پوهیدم چې که امریکا په رښتیا هم تر برید لاندې راغلې وي؛ نو هیڅوک به یې د تاوان ورکولو وس او ځواک و نه لري.

اوس د متحده ایالاتو د ولسشمر څرګندونو ته په کتو سره وینو چې نوموړي د دوهمې الوتکې تر ټکر مخکې د لومړني برید انځورونه لیدلي و. دغه انځورونه حتماً هغه انځورونه نه وو چې (جولیز او ګیدیان تودیت) په تصادفي ډول اخیستي وو. دغه کسان ټوله روځ په نړیوال سوداګریز مرکز کې ګرځیدلي وو او فیلمونه یې اخیستي وو. د دوی اخیستل شوي انځورونه د لومړي ځل له پاره د (ګاما) له خوا وروسته له دیارلسو ساعتونو څخه خپاره شول. له همدې امله موږ د هغه پټو انځورونو په هکله غږیږو چې ښاغلي ولسمشر (بوش) ته په پټه او پرته له ځنډه د امنیتي اړیکو هغه خونې ته چې په لومړني ښوونځي کې د هغه د راتلو په مناسبت جوړه شوې وه، استول شوي و؛ خو که د متحده ایالاتو استخبارات په دې توانیدلي و چې د لومړي برید فیلم واخلي؛ نو دوی په حتمي ډول د برید څخه مخکې د هغه په هکله معلومات درلودل. او که داسې وي؛ نو بیا یې ولې د خپلو هیوادوالو د ژغورلو له پاره څه ونکړل؟

اوس راځئ پورتنیو ټولو معلوماتو ته یو ځل لنډه کتنه وکړو:

- له ترهګرو سره د زمکنیو ډلو له خوا هم پوره مرسته کیده.
- دوی د الوتکې د اتومات لارښوونې په موخه د څپو لیږلو یوه یا دوه آلې فعالې کړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د دې له پاره چې د مرگ ژوبلې کچه کمه شي؛ نو د برجونو ځينو کارکوونکو ته مخکې خبر ورکړل شوی و.
- د نړيوال سوداګريز مرکز برجونه په چاوديدونکو توکو چول شوي وو.
- دغه ټول کارونه د متحده اياﻻتو د استخباراتي ادارې تر نظر لاندې، پرته له دې چې په وړاندې يې غبرگون وښيې، تر سره شول.

آيا کيدای شي چې په لوړه کچه داسې عمليات د افغانستان د غرونو په سوريو کې جوړ او اداره او بيا د يو شمير اسلامی سخت دريځو له خوا عملي شي؟

**دريم ځپرکی: د سپينې ماڼۍ مړوې**

راځئ چې يو ځل بيا د بريدونو د ويرونکې روځې په اړه د چارواکو ويناوو ته وگورو. د (اف بی آی FBI) مشر دريم (رابرت مولر Robert Muller III) د نيويارک له بريدونو لږ وروسته د (کانپلان CONPLAN) تر نامه لاندې يو ډول خاص بيړنی حالت اعلان کړ. په دغه ډول بيړنيو حالاتو کې ټولو دولتي ادارو ته د پيښې په هکله معلومات ورکول کيږي او له دوی ځخه غوښتنه کيږي چې د (اف بی آی FBI) د ستراتيژيکو معلوماتو او عملياتو د مرکز ( Strategic Information and Operation Center – SIOC) او همدارنگه د بيړنيو حالاتو د فدرالي ادارې (FEMA) د غمجنو پيښو سره د مبارزې د ډلې ( Catastrophic Disaster Response Group – CDRG) تر امر لاندی کار وکړي. همدا رنگه د دغه ډول حالت تر اعلان وروسته ټولې هغه لويې شخصی او دولتي ودانۍ چې راشه درشه پکې ډيره وي او د ترهگريزو بريدونو په وړاندې هدف گرځيدلای شي، تشيږي او بنديږي.

د سهار په 10 بجو، ناڅاپه د متحده اياﻻتو د پټو خدماتو يا Secret Services اداره، چې د لوړپوړو چارواکو امنيت ساتي هم بيړنی حالت اعلان کړ او لاندې خبرداری يې خپور کړ: (سپينه ماڼۍ او لومړی شميره الوتکه Air Force One (دغه الوتکه د متحده اياﻻتو د ولسمشر له پاره ځانگړې شوې ده) له خطر سره مخامخ دي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتنۍ خبرداری تر خپریدو وروسته، د ولسمشر مرستیال (ډیک چیني) په بیړنیو حالاتو کې د ولسمشر ځانګړی عملیاتي مرکز ( Presidential Emergency Operations Center – PEOC) ته لیږدول کیږي چې د سپینې ماڼۍ په لویدیځه برخه کې او د ځمکې تر لاندې پروت دی، د حکومت د دوام او استحکام پلان بې له ځنډه عملي کیږي، د هیواد لوړ پوړي سیاسي مشران او د دولت کارکونکي او د کانګرس غړي خوندي ځایونو ته استول کیږي او له هغه ځایه یې د سمندري ځواکونو یا Marines چورلکې د اتمي پیښو په وړاندې دوو لویو پټنځایونو ته وړي. دغه دوه لوی پټنځایونه یو د ویرجینیا په ایالت کې د (مونت ویدر Mount Weather) او دوهم یې په (ریوین راک) غرونو کې او (کمپ دیوید) ته نژدې د اړیکو ګډ مرکزونه دي چې د (سایت آر Site R) په نامه هم یادیږي. نوموړي پټنځایونه چې تر ځمکې لاندې د ریښتونو ښارونه په شان دي او د سړې جګړې په دوران کې جوړ شوي وو، کولای شي چې په یوه وخت کې زرګونه کسان د ژوند له پاره ومني.
ولسمشر جورج ډبلیو بوش چې په دغه وخت کې واشنګټن ته په لاره و، خپله لاره بدلوي. په دې مانا چې د ولسمشر الوتکه یا (ایر فورس ون Air Force One) لومړی د لویسیانا ایالت په (بارکدیل) هوایی ډګر کې او بیا د نبراسکا د ایالت په (اوفوت Offutt) هوایي ډګر کې ښکته کیږي. د دواړو ډګرونو تر مینځ لاره کې د ولسمشر الوتکه په داسې حال کې چې جنګي جټ الوتکو له خوا بدرګه کیږي، کړه – وړه او ټیټه الوتنه کوي. د الوتکې د ناستې وروستی ډګر (اوفوت Offutt) د متحده ایالاتو د ستراتیژیکې قوماندې مرکز دي او له همدې ځایه د هیواد د اتمی دفاع سیستم اداره کیږي. د ډګرونو د ننه، ولسمشر په مرمۍ ضد موټرو کې او په پاخه سړک باندې حرکت کاوه، چې د نښه ویشتونکو ټوپکو له زیان څخه په امان وي.
د لوړپوړو چارواکو د ساتنې او امنیت پلان د ماښام تر شپږو بجو پورې یعنې تر هغه وخته پورې چې ولسمشر جورج بوش په خپله الوتکه کې د واشنګټن په لور وخوځېده، فعال پاتې و.

د ولسمشر مرستیال ډیک چیني د سپتمبر په 16 نیټه د (ام اس ان بی سی MSNBC) ټلویزیوني چینل له مبصر "ټیم روزیرت Tim Russert" سره د "میټ د پرس Meet The Press" په پروګرام کې مرکه وکړه. نوموړي د مرکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ترخ کې د پټو خدماتو د ادارې له خوا د خپرې شوې خبرتیا او د پیښې شوي خطر په هکله معلومات ورکړل.
د ولسمشر مرستیال په خپلو څرګندونو کې وویل چې ده ته په ناڅاپي ډول د خپلو امنیتي مامورینو له خوا وویل شول چې دی په خطر کې دی او له همدې امله په اجباري ډول د سپینې ماڼۍ پټنځای ته بیول شوی و. هیڅوک دا نه شي منلی چې یوه تښتول شوې بوینګ الوتکه چې وروسته څرګنده شوه 77 شمیره الوتنه وه، د واشنګټن په سر باندې ګرځیده؛ خو د سپینې ماڼۍ غوندې نامتو ځای یې نه شو پیدا کولای او له همدې امله یې ځان له پنتاګون سره وجنګاوه. د پټو خدماتو ادارې چې مخکې له مخکې یې ټول دولتي لوړپوړي چارواکي او د کانګرس غړي خوندي ځایونو ته لیږدولي وو، وروسته وویل چې د ولسمشر الوتکه په خطر کې ده. په دې مانا چې یوې نوې تښتول شوې الوتکې د ولسمشر ځانګړې الوتکې ته خطر پیښ کړی او ښایي په هوا کې ورسره وجنګیږي.

دلته باید یو ځل بیا وویل شي چې د چارواکو ویناوې د څیړنو او سمو اټکلونو پر بنسټ ولاړې نه وې.

د ولسمشر د مرستیال څرګندونې په دې نیت شوې وې چې وښيي د ځانمرګو له خوا تښتول شوو الوتکو په سپینه ماڼۍ او د ولسمشر په الوتکه (ایر فورس ون Air Force One) د برید تکل درلود. ښاغلي "چیني" هم د 77 شمیرې الوتنې په اړه چې په اصطلاح له پنتاګون سره لګیدلې وه، داسې درواغ وویل چې موږ په لومړي فصل کې ورته اشاره وکړه او بربنډ مو کړل. (ډیک چیني) د هغه خیالي ځانمرګې الوتکې په هکله معلومات ورکړل چې د واشنګټن په سر ګرځیده او د خپل هدف په لټه کې وه. ده په دغه خبرې هڅه وکړه چې پخواني ویل شوي درواغ تصحیح کړي. آیا کیدای شي څوک باور وکړي چې د پټو خدماتو اداره دومره کم عقله وه چې په داسې مهم وخت کې د هوایي دفاع د سیستم د فعالولو پر ځای ډیک چیني تر پټنځایه پورې وزغلوي؟ تر دې هم ډیره د خپګان وړ خبره دا وه چې د ولسمشر مرستیال هغه خیالي الوتکه اختراع کړې وه چې د (ایر فورس ون) د ښکار نیت یې درلود. د ده دغه څرګندونې کټ مټ د هغه ځینو لویدیځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلمونو په شان دي چې یاغیان غواړي په هوا کې خپله الوتکه د ولسمشر له الوتکې سره ووهي او د متحده ایالاتو هوایی ځواک ورته بې وسه ګوري.

له پورتنیو درواغو سره - سره، دغه جوړه شوې کیسه نه شي کولای چې په کافی اندازه د هر چا رول روښانه کړي. که په ریښتیا هم یوازې ځانمرګو الوتکو خطر را مینځ ته کړی وو؛ نو بیا ولې هڅه شوې وه چې ولسشمر د ستراتیژیکو پوځي اډو په مینځ کې له نښه ویشتونکو تونیکو څخه پټ وساتل شي؟ موږ دا هیڅکله نه شو منلی چې اسلامي بنسټ پالو به د دې وس درلود چې له امنیتي پلوه په فوق العاده سختو ځایونو کې ځای پر ځای شي.

د "ډیک چینی" د اعترافاتو هدف دا و چې موږ د سپینې ماڼۍ د ویاند (آري فلیشر) څرګندونې او د سپینې ماڼۍ د لوی مشاور (کارل روف) پټې ویناوې له یاده وباسو. د دوی په واسطه ورکړل شوی معلومات په داسې حال کې موږ ته کورنی دښمنان راښیی چې د جګړې پروپاګنده یوازې او یوازې په بهرني دښمن باندې غبرګیږي.

د سپتمبر په 12 او 13 نیټه، رسنیو د سپینې ماڼۍ د ویاند (آري فلیشر) له خولې وویل چې د پټو خدماتو ادارې له برید کوونکو څخه داسې پیغامونه تر لاسه کړي وو چې ښودل یې دوی به سپینه ماڼۍ او د ولسمشر ځانګړې الوتکه له مینځه یوسي. عجیب خبر خو د نیویارک ټایمز روځپاڼې و چې په ډاګه یې کړه (برید کوونکو د خپلو ټیلیفوني اړیکو د پیژندنې له پاره ولسمشریز شفر کارولی و)! له دې څخه هم اریانونکې موضوع دا وه چې د (ورلډنټ ډیلی روځپاڼې World Net Daily) د څرګندونو پر بنسټ، برید کوونکو پر ولسمشریزو شفرونو سربېره، د مخدره توکو سره د مبارزې د ادارې ( Drug Enforcement Agency – DEA)، د ملي پیژندګلوی د ادارې ( National Reconnaissance Office – NRO)، د هوایی ځواک د استخباراتو د ادارې ( Air Force Intelligence – AFI)، د پوځ د استخباراتو د ادارې ( Army Intelligence – AI)، د سمندري استخباراتو د ادارې (Naval Intelligence – NI)، د سمندري ځواکونو د استخباراتو د ادارې (Marine Corps Intelligence – MCI)، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنیو چارو وزارت او د انرژئ د وزارت شفرونو درلودل. دغه شفرونه د ګوتو په شمیر کسانو له خوا کارول کیږي او پرته له ولسمشر څخه هیڅوک نه شي کولای چې دومره ډیرو شفرونو ته لاس رسي ولري. دا چې بریدکوونکو څرنګه دغه شفرونه پیدا کړي وو دوه شونتیاوې درلودای شي. یو دا چې داسې لارې چارې شته چې دوی د کمپیوټري پوستکالو له لارې دا شفرونه پیدا کړي وي او بل دا چې داخلي عناصرو استخباراتي خدماتو ته نفود پیدا کړی وو. له تخنیکي نظره دا شونې ده چې د امریکایی ادارو شفرونه د هغه کمپیوټري پوستکالو په واسطه چې همدا کودونه پکې جوړیږي، ویستل شي او یا بیا له سره جوړ شي. دغه کمپیوټري الګوریتمونه د (اف بی آی FBI) د یوه ځانګړي مامور له خوا چې (رابرت هانسن) نومیده غلا شوي و. نوموړی د 2001 لومړي کال د فبرورئ په میاشت کې د جاسوسی په تور نیول شوی وو. د (سي آی اې CIA) د پخواني مشر (جیمز ولسي James Woolsey) په آند که دا شفرونه د دوی لاس ته نه وای ورغلي؛ نو دا ویره وه چې نورو عناصرو ته په لاس ورغلي وای. "ولسي" چې وروسته د صدام حسین ضد لیکه کې ښکاره شو او اوس هم د عراق د جګړې پلوی دی، له دې نظریې څخه دفاع کوله چې دا عملیات د عراقي پټو او خطرناکو جاسوسی ادارو کار و. دریمه ګڼنه به دا وي چې د پټو خدماتو اداره په پټه توګه د دغه ټولو غلاوو شاهده وه او پرېښي یې و چې دا کار وشي. برید کوونکو هیڅکله نه شو کولای چې د ځینو دولتي ملګرو له مرستې پرته؛ نوموړي کودونه ومومي.

په هر حال د شفرونو موضوع دا په ډاګه کوي چې د متحده ایالاتو د ډیرو لوړ پوړو چارواکو په مینځ کې یو یا څو خاینین شته. همدغه کسان وو چې د متحده ایالاتو د ستراتیژیکو هوایی ډګرونو په مینځ کې یې په ولسمشر باندې د برید له پاره د لیري واټن نښه ویشتونکي کسان (Sniper) ځای پر ځای کړي وو. ولسمشر جورج بوش هم د دې له پاره چې د دوی له لومو څخه ځان وژغوري، د (اوفوت) او (بارکدیل) د هوایی اډو په مینځ کې په مرمۍ ضد موټر کې ګرځیده.

د دغه موضوع بل اړخ د دواړو خواوو تر مینځ د خبرو اترو شتون په ډاګه کوي. که برید کوونکي په دې توانیدلي وو چې د شفرونو په کارولو سره د خپلې اړیکې پیژندګلوي وکړي او د پټو خدماتو د ادارې سره اړیکه ونیسي؛ نو له دې څخه ښکاري چې دوی په خپل فکر کې یو هدف هم درلود. د دوی پیغام ښایی کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنه او یا شرط درلود. که ومنل شي چې د هغې روځې په پای کې خطر له مینځه لاړ؛ نو یوازینی دلیل به یې دا وي چې ولسمشر جورج بوش له بریدکوونکو سره خبرې اترې کړې او د هغوی غوښتنو ته یې غاړه ایښې وه.

بریدکوونکو له دې امله چې د سپینې ماڼۍ او د ولسمشر د خاصې الوتکې یا (ایر فورس ون) د مخابراتي پیژندګلوی شفرونه یې درلودل، په آسانۍ سره کولای شوای چې د متحده ایالاتو د ولسمشر ځای که د کم وخت له پاره هم وای، په زور ونیسي. دوی کولای شوای چې پوځ ته د اتمي بریدونو په شمول د خپلې خوښې امرونه ورکړي. یوازینی لاره چې (جورج بوش) کولای شوای خپل پوځ ته پرې قومانده ورکړي دا وه چې په خپله د متحده ایالاتو د (اوفوت Offutt) ستراتیژیکې قوماندانۍ ته لاړ شي او له هغه ځایه ټول ورکړي فرمانونه بیرته واخلي او له همدې امله نوموړی هلته تللی و. په مستقیم ډول دغه هوایی ډګر ته تلل د الوتکې د سون توکو د کموالي له امله ناشونی کار و. (ایر فورس ون Air Force One) او یا د ولسمشر الوتکه چې په ټیټه ارتفاع کې الوتنه نه شي کولای، خپلې ټولې د تیلو ذخیرې کارولې وې؛ ځکه په هوا کې د سون توکو اخیستل له خطر څخه خالي نه و. له همدې امله د (بارکدیل) په هوایی ډګر کې د الوتکې ناسته له مخکې څخه پلان شوې وه.
یوازې د شفرونو موضوع نه ده چې د چارواکو په څرګندونو کې ورته اشاره نه وه شوې، بلکه یو بل حقیقت هم له یاده ایستل شوی دی. د سپتمبر په 11 نیټه د سهار په 9:42 بجو د (ای بی سی ABC) ټلویزیوني چینل، د سپینې ماڼۍ په یوه برخه یا په پخواني اجرائیه ودانۍ کې د لګیدلي اور ژوندي انځورونه خپاره کړل. نوموړي چینل د پیښې یوازې یو انځور په تکراري ډول خپراوه چې په کې د دود پورته کیدل ښکاریدل. د اور د لمبو د پورته کیدو او د هغه د پراخوالي په هکله هیڅ معلومات خپاره نه شول. هیچا نه شوای کولای چې دغه اور او د ځانمرګو الوتکو برید ته نسبت ورکړي. 15 دقیقې وروسته د پټو خدماتو ادارې د ولسمشر مرستیال (ډیک چیني) له خپل دفتر څخه ویست او د سپینې ماڼۍ پټنځای ته یې ویوړ. نښه ویشتونکي کسان د ولسمشر د استوګنځي په شا او خوا کې ځای په ځای شول. دغه کسان په (لانچر) توغندیو باندې هم سمبال و، تر څو د هر زمکنی او هوایی برید د ځواب ویلو جوګه وي. لنډه دا چې دغه تهدید له هغه څه سره چې ښاغلي (ډیک چینی) یې په هکله څرګندونې کړې وې، ډیر توپیر درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس راځئ د ولسمشر (جورج بوش) هغه بیانیه ولولو چې د (بارکدیل) په هوایی اډه کې یې ورکړې وه او پنتاګون وروسته له دې چې بدلون یې په کې راوست په 1:04 بجو خپره کړه:

**ولسمشر:** (زه د امریکا خلکو ته ډاډ ورکوم چې فدرالي ادارې او سیمه ایز چارواکي دواړه یو ځای د بریدونو له قربانیانو سره د مرستې هڅه کوي. زه غواړم یو ځل بیا ووایم چې متحده ایالات به ټولو هغه کسانو ته چې دغه بې شرمه او ډارن بریدونه یې تر سره کړې، سزا ورکړي.

زه له خپل مرستیال، د دفاع له وزیر، د ملی امنیت له ډلې او کابینې سره شیبه په شیبه په اړیکه کې یم. موږ د امریکا د خلکو د ساتنې له پاره ټول امنیتي ګامونه پورته کړي. زموږ وسله وال ځواکونه د هیواد د ننه او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د تیارسئ په حال کې دي او موږ ټول هغه امنیتي ګامونه پورته کړي دي چې ستاسو خپل حکومت پرې کار ته دوام ورکړي.

موږ د کانګرس او د نړۍ له مشرانو سره په تماس کې یو او دوی ته ډاډ ورکوو چې موږ به د امریکا او امریکایانو د خوندي ساتلو په موخه هر اړین کار وکړو.

له امریکایانو څخه زما غوښتنه دا ده چې له ما سره یو ځای، له هغه کسانو څخه مننه وکړي چې د خپلو هیوادوالو د ژغورنې له پاره نه ستړې کیدونکي هڅې کوي او همدارنګه له ما سره یو ځای د قربانیانو او د هغوی د کورنیو له پاره دعا وکړي.

زموږ اولس تر یوې لویې ازموینې لاندې دی؛ خو دا په یاد ولرئ چې موږ به ټولې نړۍ ته وښیو چې موږ له دغه ډول آزموینو څخه تل بریالی وزو. بریالي اوسئ).

هغه څه چې د ولسمشر په پورتنۍ لنډه وینا کې نشته، د بریدکوونکو د نوم اخیستل وو. نوموړي د ترهګر او ترهګرۍ نومونه هیڅ وانخیستل. هغه غوښتل په یو ډول ووایی چې دا پیښه د پوځي جګړو او دې ته ورته نورو شیانو پیل دی. هغه د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلمې په ویلو سره چې (زموږ اولس تر یوې لویې آزموینې لاندې دی) غوښتل دا څرګنده کړي چې نورې غمجنې پېښې هم د راتلو په حال کې دي. له ټولو څخه عجیبه دا وه چې ده له واشنګټن څخه د خپلې غیر حاضرۍ په هکله هیڅ څه و نه ویل او ټولو ته یې دا فکر پیدا کړ چې دی د هغه خطر له وجې له سیمې څخه تښتېدلی دی چې هیوادوال یې ورسره مخامخ دي.

د سپینې ماڼۍ ویاند (آري فلیشر) هم د (ایر فورس ون) د لالهانده اوږده سفر په دوران کې له هماغه ځای څخه رسنیو ته دوه لنډې ویناوې واورولې. ده هم د ولسمشر په شان په ډېر احتیاط سره د ترهګر او ترهګرۍ د وییو (لغتونو) له ویلو څخه ډډه وکړه.

په داسې حال کې د دولت د دوام د پلان فعالول دوه ماناوې ورکوي. لنډه او ساده مانا یې دا ده چې ولسمشر او سیاسی مشران باید د هغه خاینینو له شر څخه خوندي ساتل شوي وای چې د سپینې ماڼې په پخوانۍ اجرائیوی ودانۍ کې یې اور لګولی و او له ولسمشر او استخباراتي ادارو څخه یې شفرونه پټ کړي وو.

بله مانا یې دا وه چې د دولت د دوام پلان د دې له پاره نه و جوړ شوی چې سیاسي رهبران د درغلانو له منګولو څخه وساتل شي، بلکه دا پلان درغلانو په خپله فعال کړ چې د سپینې ماڼۍ مشران جلا او لیري کړي. په حقیقت کې د مرستیال ولسمشر څرګندونې ډېرې عجیبه ځکه وې چې هغه په خپله په دې اعتراف وکړ چې د پټو خدماتو ادارې دی د خپل کار له ځای څخه د ده له اجازې پرته ویست او د سپینې ماڼې پټنځای ته یې ویوړ. هغه د دې خبرې په ویلو سره دې نظریې ته لاره اواره کړه چې د دولت د نورو چارواکو او د کانګرس له غړو سره هم همداسې عمل شوی دی. اوس پوښتنه دا ده چې د پټو خدماتو د ادارې په واسطه د خلکو د ټاکل شوو استازو او چارواکو په زور بیول او په پټو ځایونو کې د دوی پټول، یوه کودتا او یا کم تر کمه د ماڼۍ د ننه کودتا نه وه؟

مخکې له دې چې څلورم څپرکي ته لاړ شو، راځئ چې اوسنی هغه په څو لنډو جملو کې ټول کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: د سپيني ماڼۍ په يوه برخه کې اور لګيدلی و.

ب: د پټو خدماتو له اداري سره د اړيکې په ترڅ کې، د بريد مسوليت په غاړه اخيستل شوی و.

ج: بريدکوونکو خپلې غوښتنې او شرطونه له وړاندې څخه ورکړي وو او د خپلې اړيکې د پيژندګلوی له پاره يې ولسمشريز شفر کارولی و.

د: د پټو خدماتو اداري د دولت د تداوم پلان تطبيق کړ او ظاهراً يې د سياسي رهبرانو د ساتنې په موخه دوی په پټنځايونو کې اچولي وو.

ه: ولسمشر بوش له ماسپښين وروسته له بريدکوونکو سره خبرې اترې کړې وې او پايلې ته رسيدلي و. له همدې امله د شپې تر رسيدو پورې پوره آرامي راغله.

و: پورتنيو عواملو ته په کتنې سره ګورو چې بريدونه د مذهبی بنسټ پالو له خوا چې فکر به يې کاوه کوم سپيڅلی کار کوي، نه وو شوی، بلکه د متحده ايالاتو د دولت په مينځ کې د يوې ډلی له خوا تر سره شول او وې کولای شوای چې په ولسمشر بوش باندې خپله تګلاره په زور ومني.

ز: يادې ډلې پرته له دې چې کودتا وکړي او ټولې دولتي اداري نسکورې کړي، په پټه د هماغه دولتي ادارو واک په لاس کې واخيست او لکه چې پټه پاته وه هماغسې پټه پاتې شوه.

## څلورم څپرکی: د (اف بی آی (FBI)) هڅې

(اف بی آی) چې نوم يې متحده ايالاتو ته وياړ ور په برخه کړی او خلک يې له نامه څخه ويريږي، د سپتمبر په 11 نيټه د جنايي جرمونو په تاريخ کې تر ټولو لويې او پراخه څيړنې پيل کړې. د دغه څيړنو نوم (پينټ بامب – PENTTBOMB) و چې په انګريزي کې د ( Pentagon/Twin TowersBomb) (د غبرګو برجونو او پنتاګون چاودنې) مخفف دی. په نوموړو څيړنو کې7000 کسانو برخه درلوده چې له دې ډلې څخه 4000 (د ټول پرسونل يو په څلورمه برخه) يې يوازې د اف بی آی خپل مامورين وو په کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل وکړ. دوی همدارنګه د عدلیې د وزارت له جنایی څانګې، څارنوالۍ او کډوالو له ادارو څخه هم جلا پرسونل غوښتی وو. سربیره پر دې (اف بی آی FBI) د متحده ایالاتو د استخباراتي ټولنو، په ځانګړي ډول د استخباراتو د مرکزي ادارې یا (سي آی اې CIA)، د ملی امنیت د ادارې (NSA) او د دفاع وزارت د استخباراتو د ادارې (DIA) مرستې هم درلودې. د پورتنیو ادارو تر څنګ، له (اف بی آی FBI) سره د بهر نه هم د مرستو ژمنې وشوې چې پکې نړیوال پولیس او د امریکا د متحده ایالاتو د ملګرو هیوادونو پولیس د یادونې وړ دي.
(اف بی آی FBI) د بریدونو په لومړی شپه له ټولو خلکو څخه وغوښتل چې له دوی سره د شواهدو په را ټولولو کې مرسته وکړي. همدا و چې په لومړیو دریو روځو کې له دوی سره 3800 ټیلیفوني اړیکې نیول شوې وې، 30000 بریښنالیکونه ورته رسیدلي وو او خپلو مامورینو یې ورته 2400 راپورونه استولي وو.
له بریدونو څخه یوه روځ وروسته، (اف بی آی FBI) په دې وتوانید چې په اصطلاح د ترهګرو طرزالعمل په لاندې ډول تشریح کړي:
(د بن لادن د شبکې غړي چې په قانوني ډول متحده ایالاتو ته ننوتلي وو او همدلته یې د الوتنې زده کړې کولې، دا بریدونه تر سره کړي. دوی چې په څلورو ځانمرګو ډلو ویشل شوي وو، مسافروړونکې الوتکې وتښتولې او دنده یې له لویو اهدافو سره د الوتکو جنګول وو).

د سپتمبر په 14 نیټه د "اف بی آی FBI" مشر "رابرت مولر" او لوی څارنوال "جان اشکرافت" د 19 تنو شکمنو کسانو لیست خپور کړ چې الوتکې یې تښتولې وې.

د راتلونکو اونیو په ترڅ کې نړیوالو رسنیو د ځانمرګو پیلوټانو ژوند لیکونه خپاره کړل او دا څرګنده شوه چې د برید کوونکو د نیت په اړه نه د دوی ملګري او ګاونډیان پوه شوي وو او نه هم د لویدیځ پولیسو په دوی باندې شک اخیستی وو. دوی د عادي خلکو په ګڼه ګوڼه کې ځان پټ کړی وو او له همدې امله د بریدونو تر روځې پورې چا و نه پیژندل. دا ډول نور برید کوونکي کسان به هم ښایی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل وار د راتلو په تمه و، چې د لویدیځ د تمدن په سمبولونو کې نه هیریدونکې ویره واچوي.

د څیړنیزو اصولو له نظره، د (اف بی آی FBI) څیړنې ټولې غلطې وې؛ ځکه چې په جنایی او پیچلو پیښو کې د پولیسو مامورین ګڼ شمیر ګڼنې او فرضیې جوړوي او هره یوه تر پایه پورې څیړي. د عمومي اصلونو له نظره د کورنۍ ترهګرۍ ګڼنه هم پرته له دې چې حتی د یوې شیبې له پاره پرې فکر وشي، له پامه غورزول شوې وه. له همدې امله د څیړنو په ډله کې ځینو کسانو لا له مخکې اسامه بن لادن ګرم بللی وو. په داسې حالاتو کې چې اولس غوښتل یو څوک باید د بریدونو په کړن تورن شي؛ نو چارواکو هم پرته له ځنډه اسامه ملامت وباله.

د (اف بی آی FBI) د څرګندونو پر بنسټ، سره له دې چې د برید کوونکو شل کسیزه ډله چې په څلورو کوچنیو ډلو ویشل شوی وه او هره یوه یې له پنځو کسانو څخه جوړه وه، بیا هم په 93 شمیره الوتنه کې چې د پنسلوانیا د ایالت د پاسه وچاوده، یوازې 4 ترهګر موجود وو. د کماندو د دغه ډلې پنځم غړی لږ مخکې، د ویزې د مودې د پوره کیدو له امله نیول شوی وو.

(اف بی آی FBI) لومړی اعلان وکړ چې د الوتکې ټول تښتونکي ځانمرګي کسان وو؛ خو وروسته کله چې اسامه بن لادن ته منسوب شوې یوه فیته خپره شوه؛ نو (اف بی آی FBI) ادعا وکړه چې یوازې هغه کسان چې پیلوټي یې کوله ځانمرګي وو او د دوی ملګري د ځانمرګو بریدونو د څرنګوالي په هکله تر وروستیو شیبو پورې هم نه پوهیدل؛ خو سره له دې د نوموړې ځانمرګې ډلې نظریه هر څوک اریانه کوي، ځکه چې د ځانمرګو ارواپوهنه (سیکالوجي) ښیی چې ځانمرګي بریدونه اکثراً انفرادي وي. د دوهمې نړیوالې جګړې په ترڅ کې، د جاپان ځانمرګو پیلوټانو که څه هم چې ټولو یو ځای برید وکړ؛ خو بیا یې هم رول انفرادي وو. د کال 1972 په مې میاشت کې کله چې د جاپان د سره پوځ غړو د اسرائیلو د لاد په هوایي ډګر باندې ډله ایز ځانمرګي بریدونه وکړل، وروستنی او یوازینۍ بیلګه کیدای شی. په هغه برید کې دری کسانو برخه اخیستې وه او د ډله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایزو ځانمرګو بریدونو د سر ته رسولو په موخه روزل شوي وو؛ خو سره له دې د دغه ځانمرګو برید کوونکو دریم کس چې کوزو اوکاموتو نومیده ژوندی ونیول شو. له دې پرته موږ د داسې ځانمرګو پیلوټانو د ډلې په اړه، بله داسې هیڅ بیلګه نه لرو چې په وروستیو شیبو کې جوړه شوې وي.

سربیره پردې د سلمان رشدی د هغه مطلب پر بنسټ چې د 2001 لومړي کال په اکتوبر کې د واشنګټن پوست په روځپاڼه کې د (پټ ځواک په وړاندې جګړه) تر نامه لاندې چاپ شو، په ډاډ سره ویلای شو چې که د الوتکې تښتونکي ځانمرګي وو؛ نو اسلامی سخت دریځي نه وو، ځکه چې اسلام ځانمرګي بریدونه منع کړي دي. اسلامی سخت دریځي په داسې ځایونو کې چې د تیښتې امکان نه ویني؛ نو د شهادت تر نامه لاندې ځانونه وژني؛ خو قصدي ځان وژنه، هغه هم د داسې کسانو له پاره چې لوړې او عصري زده کړې یې کړې وي، په اسلام کې ناروا ده او ډیره کمه لیدل شوې.

په هر حال د ځانمرګو بریدونو پورتنۍ نظریه د (اف بی آی FBI) له خوا د هغه نسخې پر بنسټ چې په عربی باندې لیکل شوې وه د یوه خبري کانفرانس په ترڅ کې تائید شوه. له عربي څخه انګریزي ته د دې نسخې ژباړه وروسته په نړیوالو رسنیو کې چاپ شوه. د دغه نسخې دری نقلونه په بیلو بیلو ځایونو کې موندل شوې وو. لومړی نقل یې په یوه ورک شوي بکس کې و چې په محمد عطا پورې یې اړه درلوده. دوهم یې د (دولس Dulles) په هوایي ډګر کې د (نواف الحمزي) په موټر کې او دریم د 93 الوتنې په هغه پاته شونو کې وموندل شوه چې د پنسلوانیا د ایالت د (ستوني کریک Stony Creek) د ښارګوټي په سر باندی وچاوده (ډیرو اروپایی رسنیو وروسته په غلطه توګه خبر ورکړ چې اف بی آی FBI دغه نسخه په پنتاګون کې موندلې وه).
نوموړې نسخه څلور پاڼې لري چې پکې دینی نصحیتونه او سلا مشورې لیدل کیږي:

لومړی پاڼه: (د مړینې ژمنه وکړه او خپله پریکړه له سره نوې کړه. له خپل ځان څخه زاید وینښته وخربیه او خوشبویي ووهه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



(خپل ځان پوره ډاډه کړه چې د پلان په ټولو جزئیاتو باندې پوهیږې او د هغه شیبې تر راتلو پورې په تمه او تیار واوسه چې خپل ګوزار وکړې او د دښمن له احتمالي غبرګون څخه ځان وژغورې).

(د التوبه او النفال سورې ولوله، له خپل ځان سره یې مانا کړه او د ټولو هغه ګټو په هکله فکر وکړه چې خدای پاک له شهیدانو سره وعده کړې دي او ........ )

دغه نسخې چې له مذهبي اړخه په یوه خاصه کلاسیکه بڼه جوړې شوې وې او په تکراري ډول د منځنیو پیړیو له مفکورو سره تړاو ورکړل شوی و، یوازې د دې له پاره د امریکایي چارواکو له خوا ولس ته وښودل شوې چې د سخت دریځو رول ثابت کړي او د هغوی په وړاندې عامه خلک اعتراض ته وهڅوي.

سره له ټولو هڅو په موندل شوو پاڼو کې ډیرې بې خونده او لویې غلطۍ وې او هر څوک چې د اسلام له دین سره لږ آشنایی ولري؛ نو د تجانس نشتوالی به پکې ویني. د بیلګې په توګه دغه سند د (د خدای، بیا زما او بیا زما د کورنۍ په نامه) تر نامه لاندې پیل کیږي، په داسې حال کې چې مسلمانان د امریکایی مذهبي ډلو او ګوندونو برخلاف خپلې ویناوې او لیکنې د خدای په نامه (بسم الله الرحمن الرحیم) پیلوي نه په خپل او یا د خپلې کورنۍ په نوم؛ خو یاده نسخه برعکس په یوه ترخه ژبه پیلیږي چې له قرآني آیاتو سره هیڅ ډول سمون نه لري او یوازې د امریکایی ژبې کلتور په کې لیدل کیږي. دوهمه بیلګه یې هم (ته باید له هغه سره د مخامخ کیدو توان ولرې او پوره پرې وپوهیږې) ( You must confront it and understand it 100%) ده چې هر څوک یې په توپیر باندې پوهیدای شي.
په هغه روځ چې واشنګټن پوسټ روځپاڼې د (اف بی آی FBI) پورتنۍ نسخه خپره کړه؛ نو امریکایی نامتو ژورنالیست او لیکوال (باب وودوارد Bob Woodward) پرته له ځنډ څخه دغه ټکي ته ځیر شو او په خپله یوه لیکنه کې یې دا کار یو غیر طبیعي عمل وباله؛ خو د رسنیو د ګډوډیو په هغه روځو کې هیچا ورته پام ونکړ.
(اف بی آی FBI) د محمد عطا په نامه کس، رسنیو ته د بریدونو د مشر سمبالونکي په توګه وپیژاند. د دوی د څرګندونو پر بنسټ دغه 33 کلن مصري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان د لسو کلونو په موده کې د هسپانيا (سالو Salu) او د سويس (زوريخ) ته سفر کړی و او همالته يې هغه سويسي چړې د خپل بانکي کريدت کارت له لارې اخيستې وې چې بيا وروسته د الوتکو د تښتولو له پاره ترينه کار واخيستل شو. د هغه وروستی سفر د جرمنی هامبورګ ښار ته و، چيرته چې ده او دوه نورو ترهګرو پرته له دې چې څوک د ده په سخت دريځه عقيده وپوهيږي، د بريښنايی توکو يو لنډ مهاله کورس لوستی کړی وو. وروسته له دې چې محمد عطا متحده ايالاتو ته ورسيد، په فلوريدا کې له خپلو نورو ملګرو سره يو ځای شو. هغه په وينيس (Venice) کې د الوتنې زده کړې پيل کړې او حتې په ميامي کې يې د الوتنو د زده کړې د ډبې يا (Flight Simulator) د کارونې له پاره پيسې هم ورکړې وې. دی همدارنګه د دې له پاره چې سخت دريځه عقيده يې چا ته مالومه نه شي، په لاس ويګاس کې څو ځله د المپيک باغ (Olympic Garden) ته چې د نړۍ تر ټولو لويې لوڅې نڅاخونې پکې شته، تللی و. دغه بې ساری عقيدتي مامور د سپتمبر په 11 په يوه کورنۍ الوتنه کې بيرته باسټون ته تللی و او بلې الوتنې ته د پورته کيدو په شيبو کې يې د وخت د کموالي له وجې خپل بکسونه او کڅوړې پريښي وو. (اف بی آی FBI) د ده د بکسونو په مينځ کې، د بوينګ الوتکو د چلولو د زده کړې ويډيوګانې، د مسلمانانو د دعا ګانو يو کتاب او داسې يو ليک وموند چې په هغه کې ده د شهادت په مرګ باندې د خپلې مړينې د پريکړې په اړه ليکلي و. محمد عطا د الوتکې د يوې عملې له خوا چې له خپل ګرځنده ټيليفون څخه يې اړيکه نيولې وه، د ترهګرې ډلې د مشر په توګه پيژندل شوی و او ويلې يې و چې د هغه د څوکۍ شميره D8 وه.

آيا کيدای شي چې موږ دا معلومات جدي ونيسو؟ که دا خبر سمه وي؛ نو بايد ومنو چې محمد عطا پوره لس کاله په ستونزو کې تير کړي و چې خپله ښه پټه وساتي او له خپلو ملګرو سره يې د ډيرو ټينګو کړنلارو له لارې اړيکې نيولې چې د استخباراتي ادارو پام ځانته وا نه ړوي؛ خو له دې ټولو هڅوسره - سره ده په وروستيو شيبو کې ګڼ شمير نښې او شواهد پريښودل. دی سره له دې چې د بريد کوونکو د ډلې مشر و؛ خو په خپله يې و نه شو کړای چې خپلې الوتنې ته ځان ورسوي او بالاخره يې پريکړه وکړه چې د خپلو بکسونو له اخيستلو پرته د امريکنز هوايی کرښو په 11 الوتنه کې کينې. اوس دا پوښتنه را ولاړيږي چې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څوک چې غواړي څو ساعته وروسته ځان وژنه وکړي؛ نو بیا ولې خپل بکسونه ورسره اخلي؟

تر دې زیاته د خندا وړ خبره دا وه چې (اف بی آی FBI) وویل، د محمد عطا پاسپورت یې د نړیوال سوداګریز مرکز په سوځیدلو لوټو او ورانیو کې روغ رمټ موندلی دی. دا په رښتیا یوه لویه معجزه وه؛ ځکه هر څوک یې په اوریدو سره اریان پاته کیږي او دا پوښتنه یې په ذهن کې را ولاړیږي چې په هغه اور کې چې اوسپنه یې ویلې کوله، پاسپورت ولې و نه سوځېده؟
(اف بی آی FBI) په دې څرګندونو سره په ښکاره توګه د خپلو جعلي کارونو ثبوت وړاندی کړ؛ خو اوس یوازینی شی چې زموږ پام ځانته اړوي دا دی چې د پولیسو دې نامتو ځواک د یوې لویې غمجنې پیښې له درولو څخه عاجز پاته شو او تر اوسه پورې هڅه کوي چې د خپلو تیروتنو نښانې له مینځه یوسي.
اوس راځو د اوسني څپرکي مهمې برخې ته او هغه دا چې د (اف بي آی FBI) له څیړنو وروسته د ځانمرګو پیلوټانو د پیژندګلوئ په هکله شخړې را پورته شوې. نړیوالو رسنیو د (اف بی آی FBI) له خوا د 19 ترهګرو کسانو د پیژندګلوئ په هکله پوره څیړنې وکړې. د (اف بی آی FBI) له خوا د ورکړل شوو نښو نښانو په بنسټ ترهګر بریدکوونکي ټول نارینه او عمرونه یې د 25 او 35 کلونو په مینځ کې وو. دوی ټول عرب مسلمانان او ډیری کسان پکې د سعودي عربستان اتباع و. د ډلې ټولو غړو لوړې زده کړې تر سره کړې وې او دوی د مایوسئ له وجې نه بلکه د یوه خاص هدف د لاس ته راوړلو له پاره جنګیدل.
څه موده وروسته، په واشنګټن کې د سعودي عربستان سفارت تائید کړه چې عبدالعزیز العمري، محمد الشهري، سالم الحمزي او سید الغمادي ټول د دغه هیواد اتباع دي او اوس هم په خپل هیواد، سعودي کې اوسیږي. تر اوسه ژوندي او له پوره روغتیا څخه برخمن دي. ولید محمد الشهري چې اوس-اوس په مراکش کې اوسیږي او د دغه هیواد په شاهي هوایی کرښو کې د پیلوټ په توګه دنده تر سره کوي، په لندن کې د چاپیدونکي (القدس العربي) روځپاڼې سره مرکه کړې وه. د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر سعود الفیصل خبري رسنیو ته په دې اړه داسې ویلي وو: اوس دا ثابته شوې چې هغه پنځه کسان چې د (اف بی آی له FBI ) خوا د الوتکو د تښتونکو په توګه پیژندل شوي وو، بی ګناه دي او د بریدونو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښي سره هیڅ تړاو نه لري. په همدې حال کې شهزاده نایف چې د سعودي عربستان د کورنیو چارو وزیر دی، یوه امریکایی هیئت ته ویلي و چې تر اوسه پورې داسې شواهد نه دي وړاندې شوي چې وښيي، هغه ۱۵ د سعودي عربان چې د (اف بی آی FBI) له خوا د الوتکو د تښتولو او بریدونو په کولو تورن شوي وو، د سپتمبر د 11 نیټې له پېښو سره تړاو لري. هغه همدا راز زیاته کړې وه چې دوی د امریکا له دولت څخه په دې هکله هیڅ پیغام نه دی تر لاسه کړی.
ښاغلی (دوګلاس جیل) د واشنګټن پوسټ روځپاڼې د 2001 کال د دسمبر د 10 نیټې په ګڼه کې لیکلي و چې (د سعودي د کورنیو د چارو د وزیر د وینا پر بنسټ، اسامه بن لادن د القاعده ډلې د یوه لاسپوڅي په توګه کارول کېږي نه د یوه مشر).

مهمه پوښتنه دا ده چې دا ترهګر څرنګه وپيژندل شول؟ که هغه نوم لړ ته چې د هوایی کرښو له خوا د سپتمبر په 13 نېټه خپور شو وکتل شي؛ نو په حیرانئ سره به وګورو چې د تښتونکو نومونه پکې نشته دي. داسې ښکاري چې د تښتونکو نومونه د دې له پاره ایستل شوي وو چې یوازې د (بی ګناه قربانیانو) او د الوتنې د عملې نومونه وښودل شي. که په لست کې راغلي ټول نومونه وشمیرل شي نو:

- د امریکنز د هوایی کرښې په 11مه الوتنه کې (دا الوتکه له شمالي برج سره ولګیده) یوازې 78 مسافر وو.
- د یونایټد هوایی کرښې په 175 مه الوتنه کې (دا الوتکه له جنوبی برج سره ولګیده) 46 مسافر وو.
- د امریکنز د هوایی کرښې په 77 مه الوتنه کې (ظاهراً دا الوتکه له پنتاګون سره ولګیده) کې 51 مسافر وو
- او د یونایټد هوایی کرښې په 93مه الوتنه کې (دا الوتکه د پنسلوانیا د ایالت په سر وچاوده) 36 تنه مسافرین سپاره وو.

دا لستونه څکه بشپړ نه وو چې ګڼ شمیر کسان نه و پیژندل شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د هوايي کرښو له خوا خپرو شويو رسمي اعلاميو ته چې د اسوشيټدپرس له خوا هم خپرې شوې، وکتل شي؛ نو په الوتکو کې د ناستو مسافرو شميرې په لاندې ډول وې:

- 11مې الوتنې 81 تنه مسافر درلودل.
- 175مې الوتنې 56 تنه مسافر درلودل.
- 77مې الوتنې 58 تنه مسافر درلودل
- او 93 مې الوتنې 38 تنه مسافر ليږدول.

د پورته دوو نوملړونو د شميرو پر بنسټ د 11مې الوتنې له پاره له دريو څخه د زياتو ترهګرو او د 93مې الوتنې له پاره له دوو څخه د زياتو ترهګرو ليږدول ناشونی کار وو. د دې دليل راوړل هم سم نه دی چې له لست څخه د تښتونکو د نومونه ايستل د ځينې سياسي ملحوظاتو په خاطر شوي وو. اصلا دوی د مسافرو په ډله کې نه وو! د الوتکې د عملې له خوا د نيول شوې اړيکې په ترځ کې د سيټ د شميرې په اساس د محمد عطا پيژندنه هم يو لوی درواغ و.

لنډه دا چې (اف بی آی FBI) د تښتونکو د ليست په جوړولو او خپرولو سره د لويديځې نړۍ د دښمنانو انځور وايستلو. دوی غواړي په مونږ دا ومنې چې د الوتکو تښتونکي، عرب بنسټ پال اسلاميستان وو او ځانمرګي بريدونه هم همدغه کسانو سرته ورسول چې کورني شواهد پټ کړي. د پيښو اصلي عاملان چې د زرګونو امريکايی وګړو ژوند يې واخيست، تر اوسه هم پټ ساتل شوي دي. په حقيقت کې مونږ د ترهګرو د پيژندګلوئ په هکله هيڅ معلومات نه لرو؛ ځکه د جنايي جرمونو د قانون پر بنسټ کيدای شي هره ګڼنه (فرضيه) په حقيقت بدله شي. د جنايي پيښو د څيړنو پر مهال د څيړونکو لومړنی پوښتنه دا وي چې د جرم په کولو سره ګټه چا ته رسيږي؟
(ډان رادلر Don Radlauer) د 2001 کال د سپتمبر په ۹ نيټه يعنې له بريدونو څخه دوه روځې مخکې په خپل يوه مطلب کې چې د اسرائيلو د ترهګرۍ په وړاندې د نړيوالې پاليسۍ د انستيتيوت په خپرونه کې د تورې سې شنبې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرليک لاندې خپره شوه ليکلي و چې د سپتمبر د مياشتې په دوهمه اوونې کې (له بريدونو شپږ روځې مخکې) څو پټې لويې مالي معاملې تر سره شوې وې. د متحده ايالاتو د اسهامو په پلورنځيو کې د يونايټد هوايي کربښې (يو شخصی شرکت چې الوتکې يې له پټسبورګ او جنوبي برج سره ولګيدې) ونډه په مصنوعي توګه د 42% په اندازه او د امريکنز د هوايی کربښې (چې الوتکې يې د نړيوال تجارتي مرکز له شمالی برج او په ظاهري ډول له پنتاګون سره ولګيدې) ونډه د 39% په اندازه پرېوتې. په هغه روځو کې د هاليند د شاهي هوايی کربښې يا KLM پرته د بل هيڅ هوايي کربښې ونډې دومره نه وې ارزانه شوې. اوس موږ دا استنباط کولای شو چې د هاليند د شاهی هوايی کربښې الوتکې بنايی د پنځم هدف سره د وهلو له پاره ټاکل شوې وې؛ خو برعکس د (مورګن ستينلي Morgan Stanley Dean Witter) د بيمې شرکت ونډې (اسهام) چې د نړيوال تجارتي مرکز 22 پوړونه يې نيولي وو، له بريدونو يوه اوونۍ مخکې 12 ځله پورته شوې. په همدې ډول د ميريل لينچ Merrill Lynch شرکت ونډې چې د نړې د ونډو تر ټولو لوی تجارتي شرکت وو 25 ځله پورته شوې. د مونيخ رې Munich Re، سويس رې Swiss Re او اکسا Axa د بيمې شرکتونو ونډې هم د پام وړ زياتې شوې. دا ټول هغه شرکتونه وو چې د راتلونکو بريدونو د زيانونو تاوان يې بايد ګاللی وای.

د شيکاګو د بيمو او د ونډو د بدلولو کميسيون تر ټولو لومړی غږ پورته کړ او وې ويل چې د شيکاګو د ونډو په مارکيټ کې پانګه اچونکو د يونايټد هوايی کربښې د ونډو په راکړه ورکړه باندې 5 مليونه ډالر، د امريکنز هوايی کربښې په ونډو باندې 4 مليونه ډالر، د مورګن ستينلي په ونډو باندې 1.2 مليونه ډالره او د (ميريل لينچ) په ونډو باندې 5.5 مليونه ډالره ګټه کړې ده.

پانګه اچونکو چې اوس فکر کاوه چې له څېړنو سره مخامخ کيږي پريکړه وکړه چې د امريکنز د هوايی کربښې له ونډو څخه لاس ته راغلې پاتې ګټه چې نژدې 5.2 مليونه ډالر کيدل په نغدو بدله نکړي؛ ځکه چې اوس يې خپل چانس له لاسه ورکړی او اوبه تر ورخ تيرې شوې وې.

د پورتنيو معاملو له تر سره کيدو وروسته، چارواکو د ونډو په ټولو مارکيټونو کې د پانګه والو د پانګو په شميرلو پيل وکړ. دا څېړنې د تضمينونو يا بيمو له پاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوال کمیسیون ( International Organization of Securities Commissions – IOSCO) په ملګرتوب تر سره کیدلې. د اکتوبر په ۱۵نیټه، ایالتي چارواکو د خپلو لاسته راوړنو په هکله ویډیویي کانفرانس جوړ کړ. داسې ښکاریده چې د ونډو د غیرقانوني راکړې ورکړې څخه لاس ته راغلې ګټه سلګونه ملیونه ډالرو ته رسیده او د اختلاس دا لویې معاملې ټولې د پردې تر شا سرته رسیدلې وې.

اسامه بن لادن چې له 1998 کال څخه وروسته یې ټوله شتمني کنګل شوې وه، دومره پیسې نه درلودې چې دغه ډول پلانونه عملي کړي. په افغانستان کې د طالبانو اسلامی امارت هم له مالي پلوه ډیر کمزوری و، ځکه چې ولسمشر بیل کلینټون د کال 1998 د اګست په ۷ نیټه د 13099 شمیرې داسې یو قانون لاسلیک کړ چې د هغه پر بنسټ د اسامه بن لادن او د هغه د ملګرو او شریکانو ټوله شتمني کنګل شوه. د دغه قانون د لاسلیک نیټه په نایروبي او دارالسلام کې د متحده ایالاتو په سفارتونو باندې د چاودنو له نیټې سره سمون درلود. نوموړی قانون هغه وخت نړیواله بڼه غوره کړه چې د همدې کال د اګست په 13 د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د 1193 پریکړې پر بنسټ لاسلیک شو. ولسمشر بیل کلینټون په دې هم قناعت ونکړ او د کال 1999 د جولای په څلورمه یې د 13129 شمیرې لاندې بل قانون لاسلیک کړ چې د هغه پر بنسټ د طالبانو د دولت او د هغوی د ملګرو بانکي حسابونه کنګل شول. دې قانون هم د کال 1999 د اکتوبر په 19 د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د 1269 پریکړې پر بنسټ چې د نړیوالې ترهګرۍ د مالی سرچینو کنګل کول یې غوښتل، نړیواله بڼه غوره کړه.

له پورتنۍ نیټې څخه وروسته اسامه بن لادن ته د میلیاردر ویل ځکه یو کم عقله کار و، چې ده خپلې شخصي شتمنۍ ته هیڅ ډول لاسرسي نه درلوده. د افغانستان اسلامی امارت هم چې له پخوا څخه له مالي نظره کمزوزئ و او نه یې شوای کولای چې له اسامه بن لادن سره مرسته وکړي؛ نو یوازینۍ لاره چې له اسامه بن لادن سره د هغې په وسیله مالي مرستې کیدې او کیږي، اوس هم پټه پاته ده.

دا نظریه شوني ده چې د درغلیو پورتنۍ زیاتې معاملې د دوچ بانک (د جرمني تر ټولو لوی بانک) او د هغه د امریکایي سوداګریز شریک الکس براون له خوا تر سره شوې وې. د دغه شرکت مشري تر کال 1998 پورې د (کرانګارد .A.B

(c) ketabton.com: The Digital Library



Krongard) په غاړه وه چې د متحده ایالاتو په سمندري پوځ کې یې د جګړن په توګه کار کاوه. نوموړی بانکي مامور چې د ټوپکو او پوځي فنونو سره یې ډېره مینه درلوده، وروسته د متحده ایالاتو د مرکزی استخباراتو په اداره کې د مشر سلاکار په توګه وټاکل شو او د 2001 لومړی کال د مارچ له 26 نیټې وروسته د هغه استخاراتی اداري په مامورینو کې د درېیم کس پیژندل کیده. هر څوک ښایی فکر وکړی چې الکس براون به له د څیړنو د ډیر اهمیت له وجې او یا دا چې ده له ښاغلی کرانګارد سره پخوانۍ آشنایی درلوده، له څیړونکو سره پوره همکاري کړې وي؛ خو په حقیقت کې داسې خبره نه وه.

(اف بی آی FBI) په ډېره عجیبه توګه نوموړو څیړنو ته دوام ورنکړ او د بیمو او ضمانتونو له پاره د نړیوال کمیسیون اداري هم پرته له دې چې دا ستونزه حل کړي، د دغه څیړنو دوسیې وتړلې. د یادونې وړ ده چې د بانکونو په مینځ کې راکړه ورکړه په دوو بیلابیلو ځایونو کې څارل کیږي او له همدې امله د پانګو خوځښت په آسانۍ لیدل کیدای شي. سربیره پر دې که په هغه روځو کې د هغه بانکونو پانګوني کنټرول شوې وای چې ونډې یې پورته شوې وې؛ نو د سپتمبر د 11 نیټې د بریدونو څخه ګټه اخیستونکي کسان به هم په آسانۍ سره مالوم شوي وای؛ خو داسې هیڅ څه و نه شول.

په همدې ډول (اف بی آی FBI) د هغو ویبپاڼو په خاوندانو پسې هم و نه ګرځیدل چې له بریدونو مخکې یې د خبرداریٔ ویبپاڼې جوړې کړې وې. د (ویریساین VeriSign) د ویبپاڼې د راپور له مخې چې ټولې نوې جوړې شوې ویبپاڼې راجستر کوي، یوه نامالوم شخص له بریدونو نژدې یو کال مخکې د 17 ویبپاڼو له پاره نومونه پیرودلي وو چې د 2001 کال د سپتمبر په 14 یې وخت پوره کیده او هیڅکله هم ترینه ګټه نه وه اخیستل شوې. د ویبپاڼو نومونه په لاندې ډول وو:

attackamerica.com، attackonamerica.com، attackontwintowers.com، august11horror.com، august11terror.com، horrorinamerica.com، horrorinnewyork.com، nycterroriststrike.com earlharborinmanhattan.com، terrorattack2001.com، towerofhorror.com، tradetowerstrike.com، worldtradecenter929.com، worldtradecenterbombs.com،

(c) ketabton.com: The Digital Library



worldtradetowerattack.com ،worldtradetowerstrike.com او wterroristattack.com .
دا راپور د (CNS-Newsc.om) په ویبپاڼه کې د 2001 کال د سپتمبر په 19 او 20 نیټه خپور شو او د "جیف جانسن Jeff Johnson" له خوا لیکل شوی و. لیکوال یادونه کړې وه چې د ویبپاڼو د نومونو څخه ښکاریده چې بریدونه کیدونکي دي او څیړونکو هم دا وړتیا درلوده چې د ویبپاڼو محتویاتو ته لاسرسي پیدا کړي.
(اف بی آی FBI) چې د څیړنو له پاره یې بې شمیره سرچینې درلودې، باید ټول هغه متضاد ټکی روښانه کړي وای چې موږ ورته پورته اشاره وکړه. دوی باید له هر څه لومړی د یرغلګرو هغه پیغام په ځیرکی سره لوستی وای چې د پټو خدماتو ادارې ته یې د ځان د پیژندګلوئ په هکله لیږلي وو. دوی باید پوره پوهیدلي وای چې په پنتاګون کې څه تیر شول؟ دوی باید پانکه وال تعقیب کړي وای. دوی باید د هغه اخطاری پیغام سرچینه موندلې وای چې په نړیوال تجارتي مرکز باندی له برید څخه دوه ساعته مخکې د دغه ودانیو د کارکوونکو د وتلو په هکله (اودیګو Odigo) ته لیږل شوی و.
(اف بی آی FBI) د دې پر ځای چې جنایی څیړنې سر ته ورسوي، په لوی لاس یې د برید کوونکو په اړه ټولې نښې نښانې ورکې کړې. دوی ډیر ژر دا نظریه ومنله چې برید له بهر څخه رهبري شوی او د ثبوت له پاره یې هم یو څو بې ارزښته شواهد او د بهرنیو برید کوونکو یو دروغجن لیست جوړ او خپور کړ چې بیلګه یې د ځانمرګو بریدکوونکو له پاره ویډیویې لارښوونې او د محمد عطا پاسپورټ و.

د پورته ذکر شویو ټولو څیړنو مشري د (اف بی آی FBI) د مشر دریيم (رابرټ مولر Robert Mueller III) له خوا کیده. دغه کس چې د جورج ډبلیو بوش له خوا د نوموړې ادارې د مشر په توګه ټاکل شوی و د سپتمبر د 11 نیټې څخه یوازې یوه اونۍ مخکې خپلې ورسپارل شوې دندې په ښه توګه په مخ بېولې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې هکله چې دا تش په نامه څیړنې د څه له پاره شوې وې څه نه شو ویلای. ښايي يوه مانا يې دا وه چې وښودل شي کم تر کمه څېړنې وشوې او يا دا چې د راتلونکو پوځي عملياتو له پاره يو معقول لامل پيدا کړي.
پای

## دوهمه برخه: په امريکا کې د ولسواکۍ مړينه!

### پنځم څپرکۍ:
### غچ که لوی نعمت؟

د سپتمبر د 11 نيټې په شپه، ولسمشر جورج ډبليو بوش د ټلويزيون له لارې په يوه خاصه ژبه خپل ولس ته داسې وينا وکړه:
(نن په امريکا باندې ځکه بريدونه وشول چې موږ د خپلواکۍ او ولسواکۍ يو روښانه سمبول ياستو؛ خو هيڅ څوک نه شي کولای چې دا ډيوه مړه کړي.
نن روځ موږ داسې شيطانی بريدونه وليدل چې د بشريت په تاريخ کې کم ليدل شوي؛ خو امريکا او امريکايانو د ژغورنې د زړورو ډلو په استولو، خپلو او بيګانه وو ته د وينی په ورکولو او مرستو باندې په پوره ځواک سره ورته ځواب ووايه.
د دغه بې رحمانه بريدونو تر شا د ولاړو کسانو د موندلو له پاره پلټنې روانې دي. ما استخباراتي او د قانون د عملی کولو نورو ادارو ته امر کړی چې دوی ومومي او عدالت ته يې راکاږي. موږ به د بريد د ترهګرو عاملانو او د هغو کسانو تر مينځ چې دوی سره يې مرسته کړې ده هيڅ توپير ونکړو.
نن شپه زه له تاسو څخه غواړم چې د ټولو هغه کسانو له پاره چې غمجن دي، د هغه ماشومانو له پاره چې وېرېدلي دي او د هغه خلکو له پاره چې امنيت او سوله يې تهديد شوې ده، دعا وکړئ. زه هم هغه ذات ته دعا کوم چې ځواک يې له موږ څخه زيات دی او له هغه غواړم چې د نن روځې غمجنو کسانو ته د زړه صبر ورکړی. زموږ د مقدس کتاب په 23 برخه کې راغلي: ((که څه هم چې زه د مرګ د سيوري په نرۍ لاره ځم؛ خو هيڅ نه ويريږم، ځکه چې ته له ما سره يې )).
نن روځ بايد د عدالت او سولې په راوستو کې له موږ سره، هر اصل امريکايی مرسته او همکاري وکړي. امريکا پخوا هم د دښمنانو په وړاندې دريدلې وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ به اوس هم دا کار کوو. موږ به دا روځ هیڅکله هیره نه کړو او لا به هڅه وکړو چې له خپلواکۍ څخه دفاع وشي او د نړۍ د ښه والي له پاره به په مخ ځو. مننه او ښه شپه. خدای دې امریکا وساتي).

په داسې یو حالت کې چې د برید تر شا د اسامه بن لادن لاس لرل یوازینۍ فرضیه وه او که څه هم چې جورج بوش په خپله وینا کې خلک یووالي ته راوبلل؛ خو حتی د ده د خپلې ادارې په مینځ کې د لوړپوړو مامورینو له خوا د دوو متضادو سیاسي حل لارو سپارښتنه کیده. د بهرنیو چارو وزیر جنرال کولن پاول، لوی درستیز جنرال هوګ شیلتون او د دوی شا او خوا کسان چې مینځ لاري او اعتدال غوښتونکی وو، د داسې یوه مناسب غبرګون سپارښتنه کوله چې په کال 1998 کې یې د بیل کلینتون په امر شوو ځوابي بریدونو ته ورته والی درلود. په 1998 کې د بیل کلینتون د ولسمشرۍ پر مهال په دارالسلام او نایروبی کې د متحده ایالاتو په سفارتخونو باندې د بریدونو په غبرګون کې له هغه اوبتل څخه د (توماهاک توغندي) وتوغول شول چې د عمان په سمندر کې په ګزمه بوخت وو او په ترځ کې یې په افغانستان کې د القاعدې د روزنې مرکزونه او په سودان کې د الشفا لابراتوار وویشتل شول.
له بلې خوا د ولسمشر جورج بوش د ادارې د بازانو یا Hawks تندلارې ډلې، دې ټکي ته اشاره کوله چې د ولسمشر بیل کلنیتون په وخت کې شوو بریدونو هیڅ ګټه نه وه کړې، ځکه چې القاعدې خپلو فعالیتونو ته بیا هم دوام ورکړی و. دوی غوښتل چې یوازې زمکنی پوځي برید کولای شي چې په افغانستان کې د اسامه بن لادن مرکزونه له مینځه یوسی. دوی په دې هم قناعت نه درلود او غوښتل یې چې په همدې ډول نور ټول هغه شوني خطرونه، سازمانونه او دولتونه چې ښایی له القاعدې سره یې مرسته وکړي، له مینځه لاړ شي.
د بهرنیو چارو پخوانی وزیر (هنري کیسینجر Henry Kissinger) چې له کال 1969 څخه تر 1976 پورې یې د متحده ایالاتو د پټو خدماتو د ادارې ټول پټ خدمات څارلي وو، د بازانو د ډلې Hawks مربي او د هغوی له پاره یوه الهام بښونکې شخصیت دی. نوموړي د سپتمبر د 11 نیټې په شپه د ولسمشر جورج بوش له ټلویزیوني وینا څخه څو دقیقې وروسته، د واشنګټن پوست په ویبپاڼه باندې د (شبکه ورانه کړئ) تر سرلیک لاندې یو مطلب ولیکه (ولسمشر بوش د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې په 8:30 دقيقو وينا واوروله او په ويبپاڼه باندې د ډاکټر کيسينجر مطلب د شپې په 9:04 دقيقو باندې ځرګند شو). د مطلب يوه برخه په لاندې ډول وه:
(دولت بايد د نن روځې بريدونو ته په سيستماتيک او منظم ډول ځواب ووايی. ولس بايد ډاډه شي چې دغه بريدونو ته هم داسې غبرګون ښودل کيږي چې د پيرل هاربر له بريد وروسته ښودل شوی وو او د هغه کسانو او ادارو سيستم بايد له مينځه يوړل شي چې د دغه بريدونو تر شا ولاړ دي. دغه سيستم د يوې ترهګرې شبکې په بڼه د ځينو خاصو هيوادونو په مينځ کې فعال دی. په ډيرو مواردو کې موږ دغه شان هيوادونو ته سزا نه ده ورکړې او په ځينو نورو مواردو کې موږ کله ـ کله له هغوی سره عادي او دوستانه اړيکې ساتلې دي.

موږ تر اوسه نه پوهيږو چې دا بريدونه به د اسامه بن لادن له خوا تر سره شوي وي او که نه؟ خو د بريدونو له نوعيت څخه داسې ښکاريده چې اسامه بن لادن يې تر شا ولاړ دی. په هر حال، هر هغه حکومت چې دغه شان ډلو ته يې په خپلو هيوادونو کې پناه ورکړې، بايد لوی تاوان وګالي. دا مهمه نه ده چې هغه هيوادونه دې له دغه شان ډلو سره لاس ولري؛ خو سزا بايد ووينی.
دا هغه يوازينی شی دي چې موږ يې بايد په سړه سينه، احتياط او پرته له زړه سواندۍ څخه سر ته ورسوو).

د سپتمبر په 12 او13 نيټه، په داسې حال کې چې د امريکا ولس د بريدونو له وجې غمجن او ويريدلی وو، د امريکا د دولت د ننه، د دې هيواد په پارلمان او ټوله نړۍ کې درې ډيرې مهمې پوښتنې پيدا شوې وې:
لومړی: آيا د جورج بوش اداره به القاعده د بريدونو په کولو تورنه کړي؟
دوهم: ولسمشر جورج بوش به په افغانستان کې د څه ډول عملياتو د پيل امر وکړي؟
دريم: او آيا جورج بوش به د خپلو اوسنيو رښتينو او يا فرضی دښمنانو پر ضد اوږده جګړه کې خپل ولس هم ښکيل کړی که نه؟

امريکايي چارواکو د دې له پاره چې نړۍ او امريکايی ولس ته، القاعده د وروستيو بريدونو د اصلی عامل په توګه وپيژني؛ نو په پټه يې رسنيو ته يو شمير راپورونه وسپارل. د متحده ايالاتو د استخباراتي ادارې (سي آی اې CIA) مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



جورج تنيت، د سپتمبر په 11 نيټه، ولسمشر جورج بوش ته د القاعدې د ډلې د اړيکو په هکله معلومات ورکړل. معلوماتو ښودل چې القاعدې د دغه بريدونو د تر سره کولو له پاره له دوو کلونو راهيسې تياري نيوله او دا چې ښايي دا بريدونه به د نورو بريدونو يوه پيلامه وي. د نوموړو معلوماتو پر بنسټ، د القاعدې د پلان سره سم په سپينه ماڼۍ او د متحده ايالاتو د ملي شورا په ماڼۍ باندې هم بايد بريدونه شوي وای او د القاعدې ډلې مشرانو په غلطۍ فکر کړی وو چې دوی په نورو اهدافو باندې هم بريدونه کړي دي. د بېلګې په توګه دوی د شورا په ماڼۍ کې د چاودنې له امله د خدای شکر کړی وو، د سپينې ماڼۍ ورانيدل يې ستايلي وو او له همدې کبله يې د ډاکتر ايمن الظواهري په واسطه جوړ شوي پلانونه ستايلي وو. د (سي آی اې CIA) د معلوماتو له مخې ابوزبيده چې له دې مخکې د USS Cole Destroyer (ورانونکې) کښتۍ باندې په بريدونو تورن و په يوه خاص وخت کې د بريدونو امر ورکړی وو.

په دې برخه کې به د ولسمشر جورج بوش هغه وينا ولولو چې له بريدونو وروسته يې رسنيو ته وکړه:

**ولسمشر:** (ځو شيبې مخکې زما او زما د ملي امنيتي ډلې غونډه پای ته ورسيده او بايد ووايم چې موږ ته ډير نوی استخباراتي معلومات رسيدلي دی.
د پرون روځې بريدونه چې په ډيره ځيرکی سره طرحه شوي وو، له ترهګرۍ څخه هم يو پورته عمل و. دا بريدونه د جګړې نښه وه او زموږ هيواد بايد د هغې په وړاندې کلک عزم ولري. بايد ووايم چې ولسواکي او خپلواکي تر بريد لاندې راغلې ده.
د امريکا ولس بايد په دې وپوهيږي چې زموږ اوسنی دښمن له پخوانيو سره ډير توپير لري. دا دښمن تل پټيږي او د بشريت هيڅ درناوی نه کوي. دا دښمن يوازې بې ګناه او معصوم انسانان وژني او بيا پټيږي؛ خو دوی نه شي کولای چې تل پټ پاته شي. زموږ دښمن د پټيدو په هڅه کې دی؛ خو د تل له پاره پټ نه شي پاته کيدای. دا دښمن فکر کوي چې د دوی پناه ځايونه خوندي دي؛ خو وروسته له دې به خوندي نه پاته کيږي.
دا دښمن نه يوازې زموږ په خلکو، بلکه د نړې په هر خپلواکي غوښتونکي باندی بريد کړی دی. د امريکا متحده ايالات به د دې دښمن د ماتولو له پاره خپلې ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرچینې وکاروي. موږ به په دوی باندې نړۍ راټوله کړو، موږ به صبر وکړو، موږ به ډیر فکر وکړو او موږ به په خپل عزم کې ټینګ پاته شوو.
دغه جګړه به ډیر وخت او حوصله وغواړي؛ خو زه غواړم تاسو ته ووایم چې موږ به د دې جګړې ګټونکي وو.
د هیواد د ننه زموږ فدرال دولتونه او اداري یو له بل سره تر پخوا زیات کار کوي؛ ځکه چې امنیتي تدابیر سخت شوی دي. متحده ایالات د تل په شان مخ په وړاندې روان دی او د دې له پاره چې نور هم په مخ لاړ شو، موږ باید له هغه خطرونو څخه چې زموږ هیواد ښایی ورسره مخامخ شي، خبر واوسو. زه له هغه کسانو څخه چې د چارو واګې په لاس کې لري غواړم چې باید زموږ د هیوادوالو د ساتنې له پاره نور ګامونه پورته کړي.
موږ به دا دښمن پرینږدو چې زموږ د ژوندانه د څرنګوالي په بدلولو او زموږ د خپلواکۍ په محدودولو باندې دا جګړه وګټي. زه به سهار کانګرس ته د نورې بودجې د منظورولو له پاره غوښتنلیک واستوم چې د قربانیانو د ژغورنې، د نیویارک او واشنګټن له ښاریانو سره د مرستې، د ملی امنیت د ساتلو او د دغې غمجنې پیښې د اغیزو د کمولو له پاره هر څومره پیسې چې پکار وي، پرته له کومې ستونزې مصرف شي.
زه غواړم د کانګرس له ټولو غړو څخه مننه وکړم چې مرسته یې وکړه او خپل یووالی یې ټینګ وساته. امریکا اوس هم یو موټی ده. د نړۍ ټول خپلواکي غوښتونکي خلک او هیوادونه زموږ په څنګ کې ولاړ دی. د بدو پر وړاندې د ښیګڼې جګړه به له دې وروسته یو تاریخي هڅه وي او زه ډاډه یم چې ښه والی به نور هم خپور شي).

د بریتانیا د بهرنیو چارو له وزارت څخه پرته چې له بوش سره یې غمرازي او جګړه ایزې څرګندونې وکړې، د نړۍ نورو ټولو پارلمانونو د ولسمشر جورج بوش غبرګون ناآرامه وباله. دوی ډیر ژر وپوهیدل چې د جرمني، مصر، فرانسې، اسرائیلو او روسیې استخباراتي ادارو، خپل امریکایی ملګري له راتلونکو پیښو څخه خبر کړي وو؛ خو د دوی هڅې ځکه بې ګټې پاته شوې چې (سي آی اې CIA) خطر له پامه وغورځاوه. له همدې امله دوی له بریدونو وروسته د (سي آی اې CIA) په ناڅاپي معلوماتو او د (اف بی آی FBI) د څیړنو په بیړنیو لاسته راوړنو باندې باور نه شو کولای. دوی ویره څرګنده کړې وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر بوش به خپل ولس ته د ډاډ ورکولو له پاره له بېړې کار واخلي او د پېښنو سره د اړونده شواهدو پر بنسټ به يوه ډله په بريدونو تورنه کړي. همدا راز دوی فکر کاوه چې ولسمشر بوش به د بريدونو په وړاندې بېړنی او نامناسب پوځي ګامونه پورته کړي او خپل ولس به په يوه لويه جګړه کې ښکيل کړي.

په همدې روځ د ملګرو ملتونو د امنيت شورا 1368 شميره پريکړه ليک صادر کړه چې پکې د امريکا د متحده ايالاتو هغه اصلي حق په رسميت وپېژندل شو چې نوموړی هيواد د سان فرانسيسکو له منشور سره سم، کولای شي په انفرادي او ډله ايزه توګه له ځان څخه دفاع وکړي. د امنيت شورا د پريکړې ځيني مهم ټکي دا وو:
(د امنيت شورا په ټولو هيوادونو غږ کوي چې يو له بل سره په ګډه کار وکړي چې د ترهګرو بريدونو چمتو کوونکي، جوړونکي او د لګښتونو ورکوونکي د عدالت منګولو ته وسپاري او ټينګار کوي چې له هغه کسانو او دولتونو څخه چې د بريدونو له چمتو کوونکو، جوړونکو او د لګښتونو له ورکوونکو سره يې مرستې کړي، په کلکه پوښتنه وشي) .
که په بله ژبه وويل شي د امنيت شورا د متحده ايالاتو دا حق په رسميت وپيژاند چې د اړتيا په وخت کې دا هيواد کولای شي، په هغه هيوادونو باندې تيری وکړي چې بريد کوونکي ساتی، چې بريد کوونکي وويروي او د نړيوال عدالت منګولو ته يې وسپاري. سربيره پر دې دوی د امريکا متحده ايالاتو ته دا اجازه نه وه ورکړې چې پورتنی عدالت په خپله راولي، په نورو هيوادونو بريد وکړي او د دولتونه نسکور کړي.
په هغه شپه چې ناټو د بندو دروازو تر شا غونډه کوله، غړو هيوادونو د امريکا له متحده ايالاتو سره د داسې مرستو ژمنه وکړه چې د دوی پوځونه به پکې ښکيل نه وي. د ناټو د سرمشريزې د هغه شپې غونډه ډېره ترينګلې وه. د ناټو ځينو خاصو غړو فکر کاوه چې کيدای شي بريدونه له امريکا څخه وشي او دوی نه غوښتل چې د ترهګرۍ په ضد په داسې يوه جګړه کې ښکيل شي چې اهداف او حدود يې سم نه و ټاکل شوي. د ناټو سرمنشي (لارد جورج راترتسن) په داسې حال کې چې له غونډې څخه د وتو په حال کې وو، وويل چې که داسې بيلګې ومونډل شي چې وښيي په متحده ايالاتو باندې بريدونه له کوم بهرني هيواد څخه شوي وو؛ نو دا به د ناټو د سازمان د واشنګټن د تړون له 5 مادې سره سمون وخوري چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کې ویل شوی: (د ناټو د تړون په یوه او یا څو غړو هیوادونو باندې وسله واله برید، د دغه تړون په ټولو غړو هیوادونو باندې برید ګڼل کیږي ) .

د فرانسې ولسمشر ژاک شیراک په داسې حال کې چې وروستیو پریکړو او پیښو غوصه کړی وو، له ولسمشر جورج بوش سره د ټیلیفوني اړیکې په ترڅ کې هغه ته ډاډ ورکړ چې فرانسه د متحده ایالاتو یو وفادار او یا کم تر کمه تابع ملاتړی دی؛ خو سره له دې یې هغه ته په مهذبه ژبه ویلي و چې د ناټو د سرمشریزې غونډې پریکړه داسې سپین چک نه دي چې امریکایی سیاستوال یې په هر ډول چې زړه یې وغواړي، وکاروي.

څو روځې وروسته، ولسمشر ژاک شیراک متحده ایالاتو ته په داسې یو سفر لاړ چې له ډیر پخوا څخه یې پلان جوړ شوی و. هغه متحده ایالاتو ته د سفر په ترڅ کې که له یوې خوا د امریکا له ولس سره خپل ملاتړ څرګند کړ، له بلې خوا یې د ملګرو ملتونو د سرمنشي کوفی عنان سره د یوه ګډ خبري کانفرانس په ترڅ کې متحده ایالات نرمۍ ته وهڅول. د هغه د خبرو ځیني مهم ټکی چې د بوش د ادارې خوښ نه شول په دې ډول وو:
( دا هغه ځانګړی ترهګرې ډلې دي چې باید لومړی پر دوی او وروسته په هغه هیوادونو او ډلو چې د شته شواهدو په اساس له دوی سره مرسته کوي، بندیزونه ولګول شي ).

له بلې خوا هغه شی چې نړیوالو ورته د شک په سترګه کتل، د یوه ګډ خبري کانفرانس په ترڅ کې پیښ شول. نوموړی خبري کانفرانس د لوی څارنوال جان اشروف او د (اف بی آی FBI) د مشر (درییم رابرت مولر) په ګډون د سپتمبر په 12 نیټه د (اف بی آی FBI) د مرکزي دفتر په تالار کې دایر شو. د کانفرانس په اوږدو کې د پولیسو مشر خبریالانو ته څرګنده کړه  پکار ده چې څیړنې په چټکۍ سره  تر سره نه شي؛ ځکه باید داسې پوره شواهد ټول شي چې مجرم پرې ګرم وپیژندل شي؛ خو لوی څارنوال په ناڅاپي او غوصې سره د ده خبرې پرې کړې او وې ویل چې (اف بی آی FBI) باید ژر تر ژره ټول شکمن ترهګر ونیسي چې د نورو پیښو د رامینځ ته کیدو مخنیوی وشي او زیاته یې کړه چې د نورو شواهدو د ټولولو اړتیا نه لیدل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شک هغه وخت لا نور هم زيات شو، کله چې د سپتمبر د 13 نيټې په سهار د سپينې ماڼۍ يوه برخه کارکوونکی د ترهګريز بريد د کيدو له ويرې ويستل شول. دا ډول د درواغو خبرتياوې اوس يو عادت ګرځيدلی و او د ولسمشر مرستيال ډيک چينی بيا هم يو خونديې ځای ته وليږدول شو. د هغه روځې په ماسپښين د دفاع وزارت مرستيال وزير (پال والفوويتز) په پنتاګون کې رسنيو ته وينا واوروله. د يادونې وړ ده چې (پال والفوويتز) د متحده اياالاتو د پوځ او نظامي صنعت د ننه د ځينو محافظه کارو افراطيونو د وياند په نامه هم ياديده او له کلونو راهيسې يې چيغې وهلې چې د عراق ناپاکي بايد له مينځه لاړه شي او د صدام د را پرځولو له پاره يې د ځينو ساده دلايلو پرته، بل څه شی نه درلودل.
(پال والفوويتز) رسنيو ته د وينا په ترڅ کې د افغانستان او عراق په شمول هيڅ ته د ملامتيا ګوته و نه نيوه؛ خو په دې ټکي يې ټينګار کاوه چې متحده ايالات به بريدونو ته په جلا ډول نه بلکه په ګډه ځواب ووايی. هغه په کلکه وويل چې (موږ به دا خلک او د هغوی مرستندويان تر هغه پورې تعقيب کړو چې دوی له دغه شان بريدونو څخه لاس واخلي او دا هغه څه دي چې بايد وشی) .

د بهرنيو چارو وزير (کولن پاول) چې منځلاری کس و، اسامه بن لادن يې لومړنی شکمن ونوماوه او په افغانستان کې يې د محدودې مداخلې سپارښتنه وکړه. هغه همدا راز پاکستان ته څو شرطونه کيښودل چې پاکستان خپل ټول پوځ د امريکا په واک کې ورکړي او د طالبانو له رژيم سره هر ډول اقتصادي او سياسي اړيکې وشلوي.

خو په حقيقت کې لکه څنګه چې وروسته به هم وګورو، په واشنګټن کې دا هر څه نوي نه وو. د بيلګې په توګه د متحده اياالاتو له پاره دوه مهم ټکي (لومړی په افغانستان باندې بريد او دوهم د ترهګرۍ په ضد عمومي جګړه) د نيويارک له بريدونو ډير مخکې پلان شوي و او د سپتمبر د 11 له پيښو سره ډير ارتباط نه لري؛ خو که حتی ومنو چې ارتباط لري له يادو شوو پيښو وروسته دا هر څه نور هم تازه شول. د واشنګټن ستراتيژي جوړونکو غوښتل ووينې چې ولس يوازې د څو محدودو اهدافو د له مينځه وړلو پلوي کوي او که د يوې لويې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې؟ دوی غوښتل یو روحي ناورین را مینځ ته کړي چې وکولای شي پورتنۍ دواړې لارې چارې وکاروي.

د 2001 کال د جولای په نیمایی کې کله چې د افغانستان د راتلونکي په هکله د برلین خبرې اترې ناکامې شوې؛ نو امریکایی هیئت چې مشري یې د (ټام سیمونسTom Simmons) (پاکستان ته د متحده ایالاتو پخوانی سفیر)، (کارل آیندرفورتKarl Inderfurth) (د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزیر پخوانی مرستیال) او (لي کولدرینLee Coldren) (د بهرنیو چارو وزارت پخوانی کارپوه) کوله، د ګواښونو ورکول پیل کړل. فرانسي ته د پاکستان د پخواني سفیر (نیاز نیک) د څرګندونو پر بنسټ چې د برلین په غونډه کې یې برخه اخیستې وه، امریکایی پلاوي په روښانه ویلی و چې دوی به د اکتوبر په میاشت کې په افغانستان باندې یرغل کوي او د طالبانو رژیم به نسکوروي.

بریتانیا د عمان په سمندر کې د کلنیو پوځي تمرینونو تر نامه لاندې چې د (ایزینشل هارویست Essential Harvest) په نامه یادیدل، د سپتمبر په میاشت کې د مهمو سمندري ځواکونو خوځښت پیل کړ او د پاکستان له سمندري څنډو څخه یې خپل پوځونه ویستل. د پوځونو دا لیږد د فالکند د ټاپوګانو تر جګړې وروسته د بریتانیا له پاره تر ټولو لوی خوځښت و. په همدې ترځ کې د ناټو تړون هم په مصر کې د روښانه ستوري Bright Star نظامي مانورونو څخه په ګټې اخیستې سره 40000 پوځونه سیمې ته واستول. له همدې کبله ویلای شو چې انګریزي او امریکایی ځواکونه په متحده ایالاتو باندې له بریدونو مخکې د تیارسۍ په حالت کې وو او په افغانستان باندې یې د برید تکل درلود.

اوس راځو د متحده ایالاتو دوهمې حل لارې ته چې د ترهګرۍ په وړاندې عمومي جګړه وه. د متحده ایالاتو د پوځ لوی درستیز د دې جګړې له پاره له پخوا څخه تیاري نیولې و. ده د دې جګړې له پاره دوه دلیله او یا جګړه ایزې لوبې درلودې چې یو یې د ګډو ځواکونو تجربوي عملیات JEFX-99 او بل یې نړیواله بوختیا Global Engagement وو. د نوموړې جګړې له پاره تکتیکي کړنلارې لا له مخکې یعنې د 2000 کال په جون کې جوړې او پوره شوې وې او په پام کې وه چې د 2001 په جون کې به جګړه پیل شي ؛ خو د ځینو دلایلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مخې بيرته فسخه شوه . پوځی افسرانو سپارښتنه کړې وه چې دا به د نړۍ له پاره يو تهديدونکی عمل وي.

امريکايان تل له خپلې خوا د جګړې له پيلولو څخه کرکه لري. پخوا به دوی يوازې په اصطلاح د مشروع دلايلو له مخې نظامي ځواک کارولو؛ خو د سپتمبر د 11 له بريدونو وروسته دوی د جګړو پيلولو له پاره اوږد مهاله فرصت خپل کړ.

**شپږم څپرکی:**
**د جنازې له وينا څخه تر سپيڅلې جګړې پورې**

د نړې د تاريخ په اوږدو کې به داسې کم ليدل شوی وي چې کوم چا به د خدای د مرستې له غوښتنې پرته په جګړه کې برخه اخيستې وي. اوس-اوس وينو چې مذهبي مبلغين تر پوځي ستراتيژي جوړونکو ډېر د ټلويزيونونو په مخ ځرګنديږي. د عيسوي مذهب د مبلغينو د ځرګندونو پر بنسټ، پر متحده اياالاتو باندې بريدونه دې هيواد ته يو سپيڅلی آسمانی پيغام و، چې دوی په خپلو کړو وړو کې بدلون راولي.

پت رابرتسن Rev. Pat Robertson چې د عيسوي ائتلاف يو نامتو او اغېزمن شخصيت دی داسې ليکي: (مهربانه خدای نور موږ نه ساتي ؛ ځکه چې موږ په دنيوي نعمتونو کې ډوب شوي يو او شهواني غريزې را باندې زوروري شوې دي).

له بريدونو وروسته، د فاکس ټلويزيوني چينل د کلب 700 (Club 700) په نامتو پروګرام کې عيسوي مبلغ او کشيش (پت رابرتسن) او کشيش (جيري فالويل) ګډون وکړ او د هغه بريدونو په هکله يې ځرګندونې وکړې چې ټوله امريکا يې غمجنه کړې وه. کشيش جيری فالويل د پروګرام په يوه برخه کې داسې وويل: (خدای پاک به په موږ باندې لا نوره هم تياره کړي او د امريکا دښمنان به موږ ته د سزا له پاره راوليږي؛ ځکه دا هغه څه دي چې موږ يې وړ يو). پت رابرتسن د خپل ملګري په ځواب کې داسې وويل: (زه هم همداسې فکر کوم. زما په آند، موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا تر اوسه د ویره اچوني يوازې يوه برخه ليدلې ده او هغه څه چې زموږ ګڼ شمير خلک به ورسره مخ شي تر اوسه پورې نه دي پېښه شوی).

وروسته له هغه فالويل د امريکا د ټولنيزو خپلواکيو اتحاديه، فدرالي محکمې او ټول هغه کسان ملامت کړل چې هڅه کوي د امريکا خلک له خدای څخه ليرې وساتي. هغه همدا راز د ماشومانو د بې وخته زيږونو مسئولين تورن کړل او وې ويل چې د خدای په مخلوق باندې بايد مسخرې و نه وهل شي:
(کله چې موږ ځلويښت مليونه بې ګناه ماشومان له مينځه يوسو؛ نو خدای پاک به هرومرو په موږ باندې غوسه کيږي. زه ټولو بې دينانو، د ماشومانو بې وخته زيږونکو، ښځينه او نارينه هم جنس بازانو، د امريکا د ټولنيزو خپلواکيو اتحاديې او ټولو هغه امريکايي کسانو ته چې هڅه کوي امريکا بی دينه او سيکيولر کړي، په ډاګه وايم چې دا هر څه ستاسو له لاسه په موږ باندې راغلي).

دلته د يادونې وړ ده چې ولسمشر جورج بوش په داسې حال کې چې مذهب د سياسي او نظامی ګټو د لاس ته راوړو له پاره کاريده او نړۍ ته يې ځان د امريکا او د نوی عصر د سپيڅلی لاربنود په توګه پيژندلو، لاندې اعلاميه خپره کړه:
(د 2001 کال د سپټمبر په 11 او د سې شنبې په سهار، ترهګرو د يو کرغيړن عمل په ترڅ کې په امريکا باندې بريد وکړ. دوی څلور مسافر وړونکې الوتکې وتښتولې چې له هغو څخه يې دوه د نيويارک له غبرګو برجونو سره وجنګول شوې او دريمه د دفاع وزارت له وداني سره ولګيده چې په ترڅ کې يې ګڼ شمير کسان ووژل شول. څلورمه الوتکه په پنسلوانيا کې ولويده او پکې سپاره ټول کسان له مينځه لاړل. د ځينو اتلو مسافرو د ميراني له وجې دا الوتکه خپل هغه هدف ته و نه رسيده چې کيدای شوای د مرګ ژوبلې شميره يې نوره هم زياته کړې وای. د دغه عام وژنې په ترڅ کې 250 تنه د الوتکې مسافر په هوا او زرګونه تنه لاندې په زمکه کې ووژل شول، د نړيوال تجارتي مرکز غبرګ برجونه ونړيدل او د پنتاګون ودانۍ يوې برخې ته زيان واوښت.
د نړۍ په ګوټ - ګوټ کې ټولو متمدنو خلکو د دغه غمجنو بريدونو بدکاره عاملين په کلکو ټکو وغندل. دغه شان لويو بريدونو ته په کتو سره نن د عدالت غوښتنه دا ده چې هر هغه چا چې له دې ترهګرو سره مرسته کړې بايد سخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سزا وويني . موږ به خپل او زموږ د ملګرو او متحدينو ټول ځواک، د دغه بريدونو د مسئولينو په لټولو پسې وکاروو چې عدالت او انصاف مينځ ته راشي.
موږ د ټولو هغه خلکو په غم کې ځان شريک بولو چې لويې او غمجنې قربانۍ يې ورکړې دي. زموږ زړه د هغه بې ګناه کسانو په مړينه سوزي چې د يوه بې احساسه او ناڅاپي بريد په ترځ کې ووژل شول او د دوی ټولو د شفا او د زړه صبر له پاره دعا کوو.
زموږ سپېڅلی کتاب انجيل وايي چې «رحمت او نيکمرغي د هغه چا په برخه ده چې غمجن دي او دوی به ژر هوسا شي». زه نن غواړم هرې امريکايي کورنۍ او امريکا ته ووايم چې د وروستيو ظالمانه بريدونو د زرګونو قربانيانو د يادولو او د دوی روح ته د دعا کولو له پاره يوه ملي روځ ځانګړې کړي. موږ به د دغه غمجنې پيښې او ځانی زيانونو په وړاندې مقاومت وکړو. داسې وخت به راشي چې موږ بيرته روغ شو او نوې ساه به واخلو. زموږ ولس به د بدو په وړاندې تل پياوړي او يو موټی واوسي. موږ د خدای تر لاربښوني لاندې يو ولس يو.
له همدې امله اوس زه جورج ډبليو بوش د امريکا د متحده ايالاتو د ولسمشر په توګه ، په هغه واک چې د متحده ايالاتو قانون ما ته راکړی، ټول ولس ته اعلان کوم چې د جمعې روځ به چې د 2001 کال د سپتمبر د مياشتې له 14 سره سمون خوري ، له دې وروسته د سپتمبر د 11 نيټې د ترهګريزو بريدونو د قربانيانو د يادونې او دوی ته د دعا له پاره ځانګړې شي. زه د متحده ايالاتو له خلکو او د عبادت ځايونو له مسوولينو څخه غواړم چې نوموړې روځ د ملي روځې په توګه وپيژني او په غرمه کې د زنګونو په وهلو او د شپې له خوا د ډيوو په بلولو سره د پيښې قربانيان ياد کړي. همدا راز زه غواړم د کار خاوندان هم وهڅوم چې خپل کارکوونکي د غرمې د ډوډۍ په وخت کې پرېږدي چې د يادونې مراسمو ته لاړ شي او زموږ د هيواد له پاره دعا وکړي. زه د نړۍ هغه خلک هم د دغه مذهبي دود پوره کولو ته رابولم چې له موږ سره يې خپله غمرازی اعلان کړې ده.
په پای کې نن د سپتمبر په ديارلسمه، د 2001 کال د ننۍ روځې او د خپلواکۍ د 226 کال په وياړ،خپل خدای ته زه خپل لاسونه د شهادت په توګه پورته کوم.
جورج ډبليو بوش).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتنی وینا له خپریدو وروسته په ملي کلیسا کې د دعا بیسارې مراسم ونیول شول چې پکې ولسمشر، د ولسمشر میرمنې، څلورو پخوانیو ولسمشرانو (بیل کلینټون، زوړ بوش، کارتر او فورد) او د ولسي جرګې او مشرانو جرګې نژدې ټولو غړو ګډون وکړ. د مراسمو په ترڅ کې یوه کاردینال (په عیسوي کاتولیک مذهب کې تر پاپ لاندې رتبه)، ربي (د یهودي مذهب د مشرانو یوه رتبه) او اسلامي امام په ترتیب سره د مراسمو لارښونه تر سره کړه او وروسته له هغه د نړۍ تر ټولو نامتو ټلویزیوني مبلغ چې 15 کاله پخوا یې د جورج بوش مذهب بدل کړی وو، داسې وینا واوروله:

(ښاغلی او آغلې بوش! زه غواړم چې نن د ډیرو خلکو په استازیتوب له تاسو سره څو خبرې شریکې کړم. زه له تاسو ښاغلی ولسمشر څخه د نن روځې د ځانګړي کولو له امله مننه کوم. موږ دغه روځې ته په همداسې یوه وخت کې اړتیا درلوده.

موږ نن دلته د دغه عقیدې د بیانولو له پاره ټول شوي یو چې خدای زموږ څارنه او ساتنه کوي پرته له دې چې زموږ نژادي، مذهبي او سیاسي شالوري (سابقه) ته وګوري.

د انجیل سپیڅلی کتاب وایی چې: هغه د ټولو هوساینو خدای دی، هغه خدای چې د ستونزو په وخت کې موږ ته هوساینه راکوي.

که موږ څومره هم هڅه وکړو، نه شو کولای چې د سې شنبې د روځې د سهار ویره، بدلون او ناوړه حالت بیان کړو. د سپتمبر 11 به تاریخ هیڅکله هیره نه کړي.

نن موږ هغه کسانو ته چې دغه بریدونه یې طرحه کړي وو او هغوی ته چې سر ته یې ورسول وایو چې د دغه ولس روحیه به د دوی په ګډو وډو شیطاني طرحو هیڅکله هم ماته نه شي. لکه څنګه چې ولسمشر بوش او زموږ کانګرس وویل، یوه روځ به هغه کسان چې د دغه پیښې مسئول وو، عدالت ته راوستل شي.

خو نن موږ دلته خاص د دې له پاره ټول شوي یو چې دا ومنو چې خدای ته اړتیا لرو. موږ د دغه ولس د پیدایښت له پیل څخه خدای ته اړتیا درلوده؛ خو نن موږ ورته خاصه اړتیا لرو. نن روځ موږ له یوه نوي دښمن سره مخ شوي یو. نن موږ په یوه نوې جګړه کې ښکیل یو او له همدې امله د خدای مرستې ته اړ یو. د انجیل هغه څرګندونې زموږ یوازینی هیله ده چې وایی: خدای زموږ پناه او ځواک دی او داسې یوه مرسته ده چې د هرې ستونزې په وخت کې شته. له همدې امله موږ نه ویریږو. حتی که زمکه وچوي او غرونه د سمندر په تل کې ډوب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس پوښتنه دا ده چې موږ دغه بریدونو ته په کومه سترګه وکتل؟ ولې خدای دغه شان بد کسان پیدا کړل؟ دا ښایی هغه پوښتنې وي چې ستاسو په ذهن کې اوس را ګرځي. تاسو ښایی خدای ته په غوسه وئ ؛خو زه غواړم تاسو ته ډاډ درکړم چې خدای ستاسو ټولو په احساساتو خبر دئ.
موږ له ټلویزیون او راډیو څخه داسې کیسې ولیدې او واوریدې چې زموږ په سترګو کې یې اوښکې راوستې او غوسه یې کړو؛ خو بیا هم باید په خدای باندی باور وکړو. حتی که موږ د ژوند د تر ټولو نه تیاره وخت کې وو.
له دې پیښو نه وروسته موږ باید څه زده کړو؟ د دې پوښتنې ځواب دا دئ چې موږ باید تر هر څه مخکې د شیطان او بدو شتون په یاد کړو.
له ما څخه تر اوسه په سلګونو ځله پوښتنې شوې چې خدای ولې غم او مصیبت پیدا کړی دی. زه باید ومنم چې د دغه پوښتنې له پاره پوره ځواب نه لرم او حتی خپل ځان ته قناعت نه شم ورکولای؛ خو زه دا هم وایم چې خدای بادشاه دی. هغه د مینې او مهربانۍ او د مصیبت په وخت کې د خواخوږۍ خدای دی. انجیل وایی چې خدای د شیطان جوړونکی نه دی. هغه شیطان د یوه پټ راز په نامه یادوي. د بې انصافۍ پټ راز. د (جریمیا) په نامه د یوه سپیڅلی استازي زړه صحیفه وایی چې د انسان زړه د غولونې یو عامل دی او د دې ناروغۍ علاج هم ناشونی دی؛ خو بیا پوښتي چې څوک کولای شي زړه وپیژني؟ هغه بیا هم پوښتي چې څوک پرې پوهیږي؟ او همدا یو دلیل دی چې موږ خدای ته اړتیا لرو.
د وروستیو پیښو لومړی عبرت یوازې د بې عدالتۍ او بدۍ په هکله نه دی؛ بلکه دوهم عبرت یې دا دی چې موږ یو بل ته اړتیا لرو.
د نیویارک او واشنګټن بریدونه ډیرې لویې بیلګې دي. موږ به هیڅکله خپل زړور اوروژونکي او پولیس او هغه کسان چې خپلو ملګرو او هیوادوالو ته د وینې ورکولو له پاره راغلي وو، هیر نه کړو. دغه شان غمجنې پیښې کولای شوای چې زموږ هیواد په څو برخو وویشي؛ خو برعکس موږ نور هم یو موټی او یوه کورنی شوو. له همدې کبله د هغه کسانو هیلې چې موږ یې ویشلي غوښتو له خاورو سره سمې شوې او دوی په شا وتمبول شول. موږ له پخوا څخه ډیر یو موټی شوي یو. د دې خبرې د ثبوت له پاره زه هغه بیلګه راوړم چې زموږ د کانګرس غړي اوږه په اوږه سره ودریدل او د (خدای دې امریکا وساتي) سندره یې وویله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه پيښنو موږ ته له ځانه سره يوه پيغام راوړی و. په دغه پيغام کې د اوس او راتلونکي له پاره هيله ده؛ خو دا هم منم چې ښايی د دغه پيغام منل په اوس وخت کې زموږ له پاره ستونزمن وي.
هوکې! هيله شته. د اوس له پاره هيله شته او د سبا له پاره هيله شته؛ ځکه زه په دې عقيده يم چې زموږ ولس ته د نوې روحيې ورکولو له پاره نوې پلانونه جوړ شوي.
يو له هغه شيانو څخه چې اوس ورته موږ سخته اړتيا لرو دا ده چې زموږ هيواد له روحي نظره ژوندی شي. موږ په امريکا کې يوه روحي تحريک ته اړتيا لرو.
خدای په خپل کلام کې وخت په وخت موږ ته ويلی چې همدا بنده ګان دي چې په خپلو ګناهونو پښيمانه کيږي او بيرته خدای ته راګرځي او په هغه وخت کې به خدای هم په هره لاره چې وي په موږ باندې رحمت وکړي.
خو د راتلونکې له پاره هم ځکه هيله شته چې خدای يې موږ ته وعده راکړې ده.
د يوه عيسوي په توګه زه نه يوازې اوسني ژوند ته بلکه راتلونکي ژوند او جنت ته د تلو هيله لرم. د اوسنۍ اونۍ په تيرو څو روځو کې چې څومره کسان له مينځه لاړل، ټول جنتونو ته تللي دي او زه په ډاډ سره ويلای شم چې اوس نه غواړي بيرته راشي. دغه احساس د ستاينې وړ دی. له همدې امله وايم چې زموږ په مينځ کې هغه کسان چې په خدای باندې باور لري، د راتلونکي له پاره هيله هم لری. زه دعا کوم چې ستاسو په زړونو کې دا عقيده نوره هم ټينګه شي.
د تيرو روځو پيښې موږ ته د ژوند زړورتوب او بې ثباتۍ را په يادوي. موږ هيڅ وخت نه پوهيږو چې څه وخت به د ابديت ژوند پيلوو. زه ويلای شم چې هغه کسان چې د بريدونو په روځ الوتکو ته پورته کيدل او يا يې د نړيوال سوداګريز مرکز په برجونو او د پنتاګون په ودانې کې کار کاوه، په دې نه پوهيدل چې دا به د دوی د ژوند وروستنۍ روځ وي. له همدې امله موږ بايد خپله عقيده سمه کړو او همدا اوس ځانونه خدای او د هغه ارادې ته وسپارو.
نن موږ د ملي کليسا ، دغه له برمه ډکه ودانۍ په هره خوا کې صليبونه ګورو. زما مخاطبين اوس په دغه ځای کې حاضر عيسويان دي. د صليب مانا دا ده چې خدای زموږ په ګناهونو او مصيبتونو باندې پوهيږي. د صليب له لارې خدای موږ ته وايی چې « زه له تاسو سره مينه لرم. زه ستاسو د زړه په غمونو او دردونو پوهيږم؛ خو تاسو بيا هم په ما ګران ياست».

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ کیسه له صلیب سره پای ته نه رسیږي. صلیب موږ ته د تراژیدیو او خالی قبر په هکله غږیږي. صلیب موږ ته وایی چې د راتلونکي ژوند له پاره هیله شته؛ ځکه چې عیسیٰ مسیح په شیطان، مرګ او دوزخونو باندې بری موندلی. هوکې، هیله شته.
زه اوس بوډا شوی یم. ما په ټوله نړۍ کې تبلیغ کړی دی او څومره چې بوډا کیږم، همدومره خپلې هغه هیلې ته نژدې کیږم چې څو کاله پخوا مې پیل کړې وه او د نړۍ په هره برخه او څو ژبو کې مې خلکو ته څرګنده کړې ده.
موږ ټولو په ډیره ویره سره ولیدل چې الوتکې څرنګه د نړیوال سوداګریز مرکز د برجونو له شیشو او اوسپنو سره ولګیدې. د نیویارک وران شوي دواړه برجونه چې کلک بنسټ یې درلود، د امریکا د ویاړ او پیدایښت بیلګې وې او اوس باید ووایم چې هوکې په امریکا باندې برید شوی، ودانۍ ورانې شوې او ژوندونه له مینځه تللی دي.
اوس موږ دوه لارې لرو: یا دا چې د یوه ولس په توګه له روحي او فکر نظره ټوټې - ټوټې شو او یا هم دا چې د دې ټولو هڅو او ستونزو تر تیرولو وروسته نور هم ځواکمن شو او یو کلک بنسټ جوړ کړو. زما په آند موږ د دغه بنسټ د بیا جوړولو پروسه پیل کړې ده. دا بنسټ په خدای باندې زموږ باور دی او له همدې کبله اوسنی ناسته جوړه شوې ده چې وښیو چې موږ د تیرو روځو د ویرونکو پیښو غوندې ستونزمن حالات ګاللی شو.
دا اونۍ د اوښکو او غمونو اونۍ وه؛ خو د یوې لویې عقیدې اونۍ هم ورته ویلای شو. زموږ د هیواد په ګوټ - ګوټ او د نړۍ په هره برخه کې کلیسا ګانو د دعا غونډې جوړې کړې دي
زما د نن روځې دعا دا ده چې خدای موږ وساتي او موږ ته په زړونو کې دا عقیده راکړي چې موږ هغه هیڅکله هیر نه کړو او په هغه باندې باور وساتو.
موږ په دې باندې هم پوهیږو چې خدای به ولسمشر او د هغه شا او خوا کسانو ته هوښیاري او زړورتوب ور په برخه کړي. دا به هغه روځ وي چې موږ به یې د بریالیتوب د روځې په توګه په یاد ساتو.
خدای دې تاسو ټول وساتي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بیل ګراهام له وینا وروسته ولسمشر بوش د وینا ځای ته لاړ او خپله وینا یې واوروله. د هغه وینا د ده د ځانګړی مرستیال مایکل ګیرسون Michael Gerson ، له خوا جوړه شوې وه چې یو سخت دریځه عیسوی و.
ولسمشر: (همدا اوس موږ د غم د وخت په مینځ کې یو. په تیرو روځو کې زموږ د ولس خلکو ډیر زیانونه ګاللي دي او نن موږ د خپل ولس غم او خپګان ځرګندوو. موږ راغلي یو چې د خدای په حضور کې د ورکو او مړو کسانو او هغه خلکو ته چې دوی پرې ګران وو، دعا وکړو.
د سې شنبې په روځ زموږ په هیواد باندې په بې رحمۍ سره یرغل وشو. موږ د اور، ایرو او ویلې شوو وسپنو انځورونه لیدلي دي.
اوس-اوس موږ کولای شو چې د قربانیانو شمیره او نومونه ولولو. په نوملړ کې د داسې نارینه او ښځو نومونه شته چې خپله روځ یې د میز تر شا او یا په هوایی ډګر کې پیل کړه. دوی د ژوند په بوختیاوو کې لګیا وو. په نوملړ کې د داسې کسانو نومونه شته چې مړه شوي ؛ د خپل ژوند په وروستیو شیبو کې یې له کور سره اړیکه نیولې او خپلوانو ته یې خپله مینه ځرګنده کړې او ورته ویلي یې دی چې دوی باید زړور واوسي.
په نوملړ کې د داسې کسانو نومونه شته چې له قاتلینو سره یې جګړه کړې او په زمکه باندې یې د نورې مړینې مخنیوی کړی. هلته د داسې ښځو او نارینه و نومونه شته چې د متحده ایالاتو یونیفورمونه یې اغوستي وو او په خپلو دندو کې مړه شول.
په نوملړ کې د هغه ژغورونکو نومونه شته چې په زینو کې یې پورته منډې وهلې چې نور له اور ځخه وژغوري. موږ به دا ټول نومونه ولولو. موږ به د دوی نومونه او د دوی کیسې په ځیر واورو په داسې حال کې چې ډیر امریکایان به ورته ژاړي.
د مړو کسانو ماشومانو، والدینو، میړونو او میرمنو، کورنیو او ملګرو ته موږ د ولس ژور خپګان ښیو او زه دوی ته ډاډ ورکوم او ورته وایم چې تاسو یوازې نه یاست.
له دغه بریدونو ځخه یوازې دری روځې تیرې شوې. امریکایان تر اوسه د دغه پیښو له تاریخ سره فاصله لري؛ خو تاریخ ته زموږ مسئولیت لمر غوندې ځرګند دی او هغه دا دی چې موږ به د دغه بریدونو ځواب ورکوو چې دا نړۍ له شیطانانو او بدیو ځخه پاکه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا جګړه مور ته په پټه، غولونو او وژنو سره راوړل شوې ده. زموږ ولس سوله خوښوونکی اولس دی؛ خو کله یې چې غوسه وپارول شي بیا ډېر ظالم دی. دغه جګړه د نورو په خوښه پیل شوې؛ خو زموږ په خوښه به پای ته رسیږي.
د یوه ولس په توګه زموږ عزم ټینګ دی. زموږ زخمونه تر اوسه ډېر نوی دي او جوړیدل به یې وخت وغواړي او له همدې کبله موږ دعا کولو ته هڅوي. د دغې اونۍ په ډیرو دعاګانو کې لټون او ریښتینولي وه. د نیویارک د سینټ پاټریک په کلیسا کې د سې شنبې په روڅ یوې ښځې داسې ویل: «زه خدای ته دعا کوم چې موږ ته داسې یوه نښه راوښیی چې هغه تر اوسه شته». نورو هم د خپلو عزیزانو د انځورونو په ګرځولو سره له یوه روغتون څخه تر بل روغتون پورې په تلو کې همداسې دعاګانې کولې.
د خدای د شتون نښې تل هغه نه وي چې موږ پسې ګرځو. یوازې د غم په وخت کې موږ پوهیږو چې زموږ او د خدای اهداف یو ډول نه دي؛ خو په شخصې مصیبتونو کې د خلکو دعاګانې په کورونو او کلیسا ګانو کې اوریدل کیږي.
داسې دعاګانې شته چې له موږ سره د روځې په تیرولو او د شپې په سبا کولو کې مرسته کوي. له موږ سره زموږ د ملګرو او بیګانه وو داسې دعاګانې شته چې د دغه سفر په سر ته رسولو کې موږ ته ځواک راکوي او داسې دعاګانې هم شته چې زموږ اراده او عزم هغه ارادې ته تسلیموي چې له موږ څخه لویه ده.
دا نړۍ خدای له اخلاقی نظره پیدا کړې. غم، مصیبت او کرکه یوازې د یو څه وخت له پاره وي؛ خو ښه والی، یادونه او مینه هیڅ پای نه لري او د ژوند خدای، ټول هغه کسان چې مري او هغه چې د دوي په مړینه خپه وي، ساتي.
ما داسې اوریدلي چې بدمرغي موږ ته خپل ځان راپیژني. که د یوه ولس په سطحه هم همداسې فکر وکړو؛ نو دا خبر سمه ده. د دغه پیښو په دوران کې موږ او ټولې نړۍ دا ولیدل چې امریکایان ډېر سخي او مهربانه، ډاډمن او زړور خلک دي. موږ خپله ملي ښه په نه ستړې کیدونکو ژغورونکو، د وینې ورکوونکو په اوږدو لیکو او په هغه زړګونو کسانو کې ګورو چې د داوطلبانه مرستې له پاره راغلي وو.
همداراز موږ خپل ملي کرکتر د قربانۍ ورکولو په ښکاره عمل کې ګورو. د نړیوال سوداګریز مرکز د ننه، یو کس چې کولای یې شوای خپل ځان وژغوري، تر پایه له خپل ملګري سره پاتې شو. یو ګران مذهبي مشر هغه وخت مړ شو چې یوه اوروژونکي ته وروستنۍ مذهبي دعاوې زده کولې. دوه دفتري کارکوونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه بيګانه معيوبه ښځه 68 پوړه ښکته کړه او ويې ژغورله او د نارينه وو يوې ډلې ټوله شپه له دالاس څخه تر واشنګټن پورې مزل وکړ چې د سوزيدلو ټپيانو له پاره د پوستکي پيوند راوړي.
په دغه او دې شان نورو پيښو کې امريکايانو له يو بل سره ژوره ژمنه او له خپل هيواد سره نه ختميدونکې مينه ښودلې ده. نن موږ په دې پوهيږو چې فرانکلين روزويلت ولې دغه زړورتوب ته ملی يووالی ويلی و. دا د هرې عقيدې او هر نژاد يووالی دی.
دې يووالي زموږ د کانګرس دواړه جرګې سره يو کړې دي. دا يووالی په ډله ايزو دعاګانو، شمع لګولو او په وياړ سره د امريکا د جنډې په خوځولو کې ښکاره احساسيږي.
زموږ يووالی د غم په ښودلو او د ټينګ عزم په درلودلو کې دی. د ترهګرۍ په ضد دا يووالي اوس د نړۍ هرې خوا ته د غزيدو په حال کې دی.
امريکا د نيکمرغيو او ښيګڼو هيواد دی؛ خو موږ مصيبتونه هم ګاللي دی. د دغه نړۍ په هر نسل کې داسې دښمنان پيدا شوي چې د بشري خپلواکۍ په خلاف دي. دوی په امريکا باندې ځکه بريد کړی چې د خپلواکۍ کور دی او له خپلواکۍ څخه دفاع کوي. بايد ووايم چې د خپلواکۍ له پاره چې زموږ پلرونو پخوا کوم ښسټونه ايښي وو، هغه د اوس وخت غوښتنې دي.
د يادونې او دعا په دغه ملی روځ کې موږ له خدای څخه غواړو چې زموږ ولس وساتي او موږ ته د اوسنيو او راتلونکو پيښنو سره د مخامخ کيدو جرات او صبر راکړي. موږ دعا کوو چې خدای به هغه کسان چې اوس په غم کې دي آرام کړي. موږ له خدای څخه د دې له پاره چې موږ ته يې ژوند راکړ او د راتلونکي ژوند وعده يې را سره کړې ده، مننه کوو.
لکه څنګه چې موږ ته د خدای له خوا ډاډ راکړل شوی، نه ژوند او نه مړينه، نه ملايکی، نه سيمې، نه ځواک، نه اوسني او نه راتلونکي شيان، نه لوړوالی او نه ټيټوالی، موږ د خدای له مينې څخه نه شي بيلولای. خدای دې هغه کسان وبښي چې مړه شوي او خدای دې موږ ته هوساينه را په برخه کړي او خدای دې زموږ د هېواد لارښونه وکړي.
خدای دې امريکا وساتي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



واشنګټن پوسټ روځپاڼې په راتلونکې روځ د جورج ډبليو بوش په حالت کې د بدلون په هکله داسې تحليلي مطلب خپور کړ: (د امريکا د تاريخ په اوږدو کې مذهبي محافظه کاري د لومړي ځل له پاره سياسی حرکت ګرځېدلی دی. د دغه بدلون سبب د متحده اياﻻتو ولسمشر جورج بوش دی او دا هغه لاس ته راوړنه ده چې حتي پخواني ولسمشر ريګن چې د مذهبي محافظه کارانو له خوا بې ځايه ستايل کيده، تر سره نه کړ ). له دې سمدلاسه وروسته عيسوي مجلو، ټلويزيونونو او راډيوګانو ولسمشر بوش د دعا په حالت کې ښودلو او کشيشانو د کليسا له منبرونو څخه ويل چې د ولسمشر بوش رهبري يوه نيکمرغي ده او ويبپاڼو خلک د ولسمشر له پاره روژې او دعاګانو ته هڅول.

د سپټمبر د 14 په غرمه د روسيې په شمول د اروپايی اتحاديې د ټولو 43 هيوادونو 800 مليونه اوسيدونکو د متحده اياﻻتو د بريدونو د قربانيانو له پاره وير وکړ. د ولسمشر بوش له دعا وروسته د ټولو لويو وچو ډيرو هيوادونو د بريدونو د قربانيانو له پاره د 3 دقيقو چوپتيا مراسم تر سره کړل؛ خو سره له دې دوی د يوې سخت دريځې مشرتابه په ليدلو سره چوپه خوله پاته شول. دا هغه مشرتوب و چې دوی ټول يې د شيطان په وړاندې په تاريخی هڅو کې ښکيل کولو ته وربلل. اوس پوښتنه دا ده چې آيا د ټلويزيوني مبلغينو سياسي او تصوفي ليونتوب ساری لري؟

ځواب دا دی چې حتی روحي ټکان او د مړو قربانيانو له پاره احترام، نه شي کولای دومره سخته مذهبي ليوالتيا او تلوسه تشريح کړي. حتی که دا ومنو چې د روحاني متحده اياﻻتو بنسټ د هغه مذهبي ډلګيو له خوا اېښودل شوی چې د بريتانيا له شاهي حکومت څخه تښتيدلی وو او په مذهب کې يې سپينوالي او سادګي غوښتل، بيا هم امکان نه لري چې ټلويزيوني مبلغين د پوځي ستراتيژي جوړونکو ځای ونيسي. د امريکا په تاريخ کې داسې بيلګه نه ليدل کيږي چې امريکايی ولسمشر په کليسا کې د ننه د جګړې اعلان وکړي.

د امريکا د ولسمشر هغه غوښتنه چې پکې د نړۍ له خلکو څخه د دغه روځې لمانځل غوښتل شوي وو، حتی د فرانسې سيکيوﻻر حکومت هم واوريده. د فرانسې ولسمشر ژاک شيراک او د هغه لومړي وزير جاسپين د سپټمبر په 12

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي يو فرمان لاسليک کړ چې په کې راغلي وو: (په دې توګه د پنج شنبې روځ چې د 2001 کال د سپتمبر له 14 سره سمون خوري، د هغه بريدونو د قربانيانو د يادونې له پاره ملي روځ اعلانيږي چې د سپتمبر په 11 په متحده اياالاتو کې د بريدونو په ترڅ کې له مينځه لاړل). د دې فرمان له لاسليکولو وروسته دوی دواړه له يوې ډلې چارواکو او وزيرانو سره د پاريس امريکايی کليسا ته لاړل او د يادونې په مراسمو کې يې ګډون وکړ. سربيره پر دې دوی په کليسا کې د (خدای دې امريکا وساتي) سندره هم زمزمه کړه. د (خدای دې امريکا وساتي) سندره د دوهمې نړيوالې جګړې په ترڅ کې (آيروين بيرلين) جوړه کړې او له هغه وروسته د يوې رسمي ملي سندرې په توګه وپيژندل شوه.

د دعا دغه مراسم چې د فرمانونو په وسيله تحميل شوي وو، په ليرې او نژدې سيمو کې ناندرۍ ولاړې کړې. ځينو مخالفينو دا ټينګار کاوه چې څنګه امکان لري په امريکا کې د څو زره کسانو د مړينې رتبه له نورو هغو څخه لوړه وه چې د وروستيو عام وژنو په ترڅ کې له مينځه تللي وو او د دوی مړينه هيڅکله په دې ډول نه و لمانځل شوې. دغه موضوع دا مانا درلوده چې مذهبي احساسات بايد د سياست په خوښه استعمال نه شي. ولس دا خبر په دې شرط منلې و چې د دريو دقيقو چوپتيا مانا به دا وي چې کيدای شي شخړې د سولې له لارې حل شي او پرته له دې چې ترهګري د يوې پيښې وسيله وټاکل شي نه دا چې يوازې د امريکا په خاوره کې د قربانيانو له پاره دعا وشي. دا مراسم د دې له پاره نه و جوړ شوي چې د سولې له پاره ډله ايزې هيلې څرګندې کړي؛ بلکه د دې له پاره جوړ شوي و چې د غچ اخيستو له پاره يوه قانوني لاره جوړه کړي.

د متحده اياالاتو په تاريخ کې د دعاګانو شيبو اوس بله بڼه اخيستې وه. متحده اياالات د کليسا د ننه د مذهبي سندرې د غوښتنو په خلاف د جګړې په لور وخوځيدل. واشنګټن پوسټ روځپاڼې هم د 2002 کال د جنوري په 30 د (په کليسا کې د جګړې اعلان او بريدونو ته د بيړني ځواب) تر سرليک لاندې مطلب خپور کړ. کيدای شي له دې موضوع څخه داسې مانا هم واخلو چې د امريکا د وير له مراسمو سره يو ځای ټولې نړۍ جګړې ته ودانګل.
اوس راځئ چې پورتني ذکر شوي ټول حقايق په لنډه توګه وګورو او مطلب ترې واخلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پوځي تیاریو پرته داسې هیڅ نړیوال تړون نشته چې که د امریکا متحده ایالات په ویر کې وي؛ نو نور هیوادونه دې هم د څه وخت له پاره د یادونې د مراسمو په توګه چوپ پاته شي؛ خو سره له دې دغه عمل بیا هم د ناټو NATO د تړون (د شمالي اتلانتیک تړون)، د آنزوس د تړون ANZUS (آسترالیا؛ نوی زیلند او متحده ایالات) او د امریکایی هیوادونو د تړون OAS ( Organization of American States) تر عملي کیدو آسانه وو. اوس پوښتنه دا ده چې ولې هم د ویر مراسم په دې ټولو هیوادونو کې ونیول شول او هم د پورتنیو تړونونو د ژمنو عملي کیدل پیل شول؟
سربیره پر دې، که سم ځیر شو نو ګورو چې د فرانسې ولسمشر شیراک او لومړي وزیر جاسپین د سپتمبر په 12 نیټه د ویر فرمان لاسلیک کړ او دا فرمان یوه روځ مخکې له دې صادر شوی چې د متحده ایالاتو ولسمشر په نړۍ باندې غږ وکړ چې له دوی سره د خپګان په مراسمو کې ګډون وکړي. دا خبر به هر چا ته د منلو وړ وي چې باید یوازې لوی ځواکونه وکولای شي چې د دومره لوی خوځښت له پاره د نړۍ په نژدې ټولو هیوادونو باندې فشار واچوي. سربیره پر دې، د داسې لوی سیاسي حرکت له پاره باید یو سیاسي هدف هم وي او هغه هدف دا و چې امریکایي چارواکو، پیښو ته د بلې بڼې په ورکولو سره غوښتل، مذهبي احساسات د سیاسي ګټو له پاره استعمال کړي او که وروسته له هغه کومه پوښتنه را پورته شوې وای؛ نو دوی به ورته مقدساتو ته د سپکاوي په سترګه کتل.

په نړیواله کچه د ویر د مراسمو د تحمیل پلان هم مخکې له مخکې د 2001 کال په اکتوبر میاشت کې په پټه توګه جوړ شوی و. په پنتاګون کې د ستراتیژیک نفوذ تر نامه لاندې اداره له همدې امله جوړه شوې وه او د دغه ادارې مشري، جنرال سایمن پیتی وورډن Gen. Simon Pete Worden کوله چې پخوا د متحده ایالاتو د فضایی قوماندانۍ مشر تیر شوی و. د یادونې وړ ده چې د دغه ادارې جوړیدل د متحده ایالاتو د وسلوال پوځ د څیړنو پایله وه . لوستونکي کولای شي چې د دې ادارې په اړه زیات معلومات د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د نړیوالو معلوماتو د پروګرامونو په ویبپاڼه (http://www.state.gov/r/iip) کې ولولي. د نړیوالو معلوماتو د پروګرامونو اداره، د براد واردز د پوځی معلوماتو له نړیوالې ډلې ( Col. Brad Ward’s International Military

(c) ketabton.com: The Digital Library



Information Group) سره یو ځای د امریکا غږ راډیو پروګرامونه څاري او دنده یې دا ده چې په دې توګه د عامه خلکو او د نړۍ د هیوادونو په ځانګړی ډول لویدیځو هیوادونو نظریې بدلې او د ځان په ګټه وکاروي.

**اووم څپرکی:**
**لوی ځواکونه**

د سپتمبر په 14 نیټه د متحده ایالاتو کانګرس، ولسمشر بوش ته اجازه ورکړه چې د دوی په وینا د هغه هیوادونو، ډلو او یا کسانو په وړاندې اړین ګامونه پورته کړي چې د ده په فکر، د سپتمبر په 11 نیټه یې په متحده ایالاتو باندې د برید پلان جوړ کړی و او یا یې له برید کوونکو ترهګرو سره مرسته کړې وه، چې په راتلونکي کې د متحده ایالاتو په وړاندې د دغسې هیوادونو، ډلو او یا کسانو له خوا د بریدونو مخنیوی وشي.

دغه پریکړه د کانګرس د دواړو جرګو لخوا، پرته له دې چې بحث پرې وشي، په پوره اتفاق وشوه؛ خو د کالیفورنیا د ایالت او د دیموکرات ګوند استازې باربارا لي Barbara Lee د دغه پریکړې په خلاف رایه ورکړه. دغه میرمنې وروسته په خپله یوه لیکنه کې چې د «ولې ما د هغه پریکړې په خلاف رایه ورکړه چې له زور څخه باید کار واخیستل شي) تر سرلیک لاندې خپره شوه، د خپلې رایې د نه ورکولو په هکله معلومات ورکړل. پریکړه داسې لیکل شوې وه چې ولسمشر بوش ته یې د ترهګرو ډلو په وړاندې د غبرګون په ښودلو کې ډیره خپلواکي ورکوله؛ خو په پریکړه کې دې خبرې ته هم اشاره شوې وه چې د کانګرس پریکړه به د کوم هیواد په وړاندې د برید په مانا نه وي او ولسمشر بوش باید په کوم بهرني هیواد باندې تر هر ډول برید د مخه کانګرس خبر کړي.

ولسمشر بوش د لومړنیو ګامونو د پورته کولو له پاره، له کانګرس څخه وغوښتل چې د شل میلیارده ډالرو یوه ځانګړی بودجه تصویب کړي؛ خو د کانګرس دواړو قانون جوړونکو جرګو د هیوادپالنې د یوه خاص احساس په درلودلو سره د پیسو پورتنی شمیره دوه ځله اوچته کړه او له پنځه ساعته بحث وروسته یې د 40 میلیارده ډالرو بودجه تصویب کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې سربيره، ولسمشر بوش د 2001 کال د سپتمبر په 14 د يوه خاص فرمان د صادرولو په ترڅ کې د 50000 ذخيروي پوځونو د تيارسئ او خوځښت امر وکړ. د دفاع وزير رمسفيلد سمدلاسه امر وکړ چې 35500 کسان (10000 پلی پوځ، 13000 هوايی ځواک، 3000 سمندري ځواک، 7500 ځانګړي سمندري پوځ يا مرينز Marines او 2000 ساحلي ګارد) بايد ژر تر ژره دندو ته حاضر شي. په دومره لويه پيمانه خوځښت يوازې د فارس د خليج په جګړه کې ليدل شوی و؛ خو توپير يوازې دومره و چې په هغه جګړه کې متحده ايالاتو، له پورتنی شميرې څخه 5000 زيات عسکر سيمې ته استولي و.

د 2001 کال د سپتمبر په 20 نيټه، بوش د کانګرس دواړو جرګو ته وينا واوروله او له دوی سره يې بشپړې خبرې وکړې. له ده سره د وينا په وخت کې د بريتانيا د لومړي وزير توني بلير په شان نور پيژندل شوي کسان هم ناست وو. ولسمشر بوش د همدې وينا په ترڅ کې اسامه بن لادن او په هغه پورې تړلې ډله په رسمي توګه د بريدونو په سر ته رسولو تورنه کړه او په افغانستان کې يې د طالبانو رژيم ته خپل وروستي شرطونه په لاندې ډول وړاندې کړل:

- د القاعدې ډلې مشر چې ستاسو په خاوره کې پټ دی، بايد د متحده ايالاتو چارواکو ته وسپارل شي. (د کانګرس غړو لاسونه وپړکول)
- د امريکايی اتباعو په شمول، ټول بهرني اتباع چې ستاسو لخوا په ناقانونه توګه بندي شوي، بايد خوشي شي.
- تاسو بايد په خپله خاوره کې بهرنی خبريالان، ديپلوماتان او مرستندويان وساتئ .
- په افغانستان کې د ننه، د ترهګرو د زده کړې کمپونه بايد ژر تر ژره په دايمی توګه وتړل شي او هر ترهګر او د هغوی په ډله کې شامل کسان بايد مربوطه چارواکو ته معرفي او تسليم شي. (د کانګرس غړو بيا لاسوهنه وپړکول).
- متحده ايالاتو ته بايد پوره اجازه ورکړل شي چې د ترهګرو د زده کړې کمپونو ته ننوزي، چې ډاډه شي چې دا کمپونه په رښتيا هم تړل شوي دي.
- موږ حاضر نه يو چې د پورتنيو شرطونو په اړه له چا سره خبرې اترې او بحث وکړو. (د کانګرس غړو بيا چک چکې وکړې).

(c) ketabton.com: The Digital Library



- طالبان باید ژر تر ژره زموږ په شرطونو عمل وکړی. دوی باید ترهګر موږ ته وسپاري او که نه د دواړو پای به یو ډول وي.

ولسمشر بوش د همدې وینا پر مهال د هیواد د امنیت Homeland Security په نامه د یوې نوې ادارې د جوړیدو خبر ورکړ چې د کابینې په سطحه واکونه یې درلودل او ده ته یې راپور ورکاوه. د ده د څرګندونو پر بنسټ دې ادارې باید د ترهګرۍ په وړاندې د هیواد د ساتنې په موخه ټوله ملي ستراتیژۍ څارلې او عملی کړی . ده همدا راز د سمندري ځواکونو پخوانی غړی او د پنسلوانیا ایالت پخوانی والي ټام ریج Tom Ridge د دغه ادارې د مشر په توګه ونوماوه.
ولسمشر بوش کانګرس ته د وینا پر مهال د پټې دفاع د میکانیزم د لا ځواکمن کیدو په موخه نورې پریکړې هم وکړې. دې موضوع ته د دفاع وزیر رمسفیلد، له بریدونو یوه روځ وروسته یعنې د سپتمبر په 12 نیټه، د یوه خبري کانفرانس په ترڅ کې اشاره کړې وه.
د اکتوبر په 2 نیټه د دفاع وزارت دوهم لوړپوړی چارواکی چې پیټي آلدریج Pete Aldridgeنومیده، ټولو هغه کمپنیو ته چې نوموړي وزارت ته یې کار کاوه او لوژیستیکی آسانتیاوې یې ورته برابرولې، لیک واستاوه. په لیک کې دوی ته ویل شوي و چې د پټې دفاع ټول پلانونه به د دوی په سوداګریزو فعالیتونو پورې تړلی وي او دوی یې پوهولي و چې د دوی په واسطه حتی ډیر کوچني معلومات هم چې بهر ته ووزي، کولای شي چې په لویه پیمانه د دفاع وزارت کړنې او پریکړې ټولو ته بربنډې کړي. له همدې امله دوی ته سپارښتنه شوې وه چې محتاط واوسي.

د اکتوبر په 4 نیټه د متحده ایالاتو د هوایي ځواک اداري او لوژیستیکی مرستیال ډارلین ډرویون Darlene Druyun، د هوایي ځواک ټولو رسونکو او معامله کوونکو ته بریښنا لیکونه واستول او له دوی څخه یې وغوښتل چې د آلدریج لیک ښکاره کړي. ده په بریښنا لیک کې دې ټکي ته اشاره کړې وه چې رسوونکي او معامله ګر شرکتونه باید ټول لاسلیک شوي او راتلونکي تړونونه له رسنیو څخه پټ وساتي. دغه بندیز د متحده ایالاتو د ننه او په هغه بهرنیو ملکونو کې چې نوموړو شرکتونو پکې غونډې جوړولې، د عمل وړ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکتوبر په 5 نېټه، ولسمشر بوش د اساسي قانون د پریکړو په خلاف د خپلې کابینې ګڼ شمیر وزیرانو ته امر وکړ چې مقننه څواک ته د معلوماتو له ورکولو ډډه وکړي.

د اکتوبر په 18 نېټه د دفاع وزارت مرستیال پال والفویتز Paul Wolfowitz د نوموړي وزارت د ټولو ادارو مشرانو ته لیکونه واستول چې په نورو کارکوونکو یې وویشي. په لیک کې داسې راغلي و:
(دا ډیره ضروري ده چې د دفاع وزارت کارکوونکي او د هغه ادارو او شرکتونو کارکوونکي چې د دفاع له وزارت سره د کارونو په سر ته رسولو کې مرسته کوي، د هغه معلوماتو په شریکولو کې له ډیر احتیاط څخه کار واخلي چې د دغه وزارت له کار سره تړاو لري. دا مهمه نه ده چې دوی څه دنده سر ته رسوي. تاسو باید په عامه ځایونو کې د خپلې دندې په اړه خبرې ونکړئ او دا هم ضروري ده چې د اړیکو د نیولو له پاره له خوندي لیکو څخه کار واخیستل شي. پټ او مهم معلومات باید یوازې د غوښتنې په وخت کې په یوه داسې ځای کې چې له مخکې ټاکل شوي وي، له هغه کسانو سره شریک شي چې له ځان سره امنیتي اسناد ولري. دا هم باید وکتل شي چې مقابل لوری ولې د معلوماتو غوښتنه کوي. هغه معلومات هم چې ښایي د پټولو وړ نه دي، باید کلک وساتل شي؛ ځکه کیدای شي چې حساسې پایلې ولري. ټول هغه معلومات چې موږ یې د دفاع وزارت د عملیاتو له پاره کاروو، باید د هغوی د حساسیت له امله، په عام ډول څرګند نه شي. بیا هم په ټینګار سره وایو چې رسمی معلومات باید د دفاع وزارت له کارکوونکو پرته له بل هیچا سره شریک نه شي).

په همدې وخت کې فدرالي چارواکو داسې پلانونه تر لاس لاندې نیولي وو چې د بریدونو په هکله د څیړنو پړوالی، ټینګ وساتي. ځینې پلانونه د بیلګې په توګه په لاندې ډول وو:

- د سپتمبر په 11 اف بی آی FBI له ټولو هوایی کرښو څخه وغوښتل چې له رسنیو سره له خبرو ډډه وکړي. دا موضوع زموږ دا شک نور هم ډیروی چې د الوتکو ټولې څوکۍ ډکې نه وې او د مساپرو په نوملړ کې د تښتوونکو نومونه نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په همدې شېبه د اف بی آی FBI مامورین د جولز Gules او ګیدې Gede (هغه دوه ورونه چې له برجونو سره د الوتکو د ټکر په وخت کې یې د هغوی فلم اخیستی وو) کور ته لاړل او د دوی هغه پنځه ساعته فلم یې ترینه ضبط کړ چې دوی د برجونو د ننه او بهر ډک کړی و.
- د دغه فلم یوازې شپږ دقیقې یعنې هغه برخه بیرته دوی ته ورکړل شوه چې پکې له برجونو سره د الوتکو ټکر ښودل شوی و. له همدې امله هغه سند چې د برجونو د نسکوریدو دلیل یې درلود، د چارواکو له لوري لیرې او پټ شو.
- همدا راز اف بی آی FBI د اودیګو Odigo شرکت ته هم خبرداري ورکړې و چې له رسنیو سره هیڅ ډول اړیکه ونه نیسي. ښایی هغه پیغامونه چې د اودیګو کمپنی ته د بریدونو د کیدو په هکله رسیدلي و، زموږ د دلایلو د لا ښه کیدو له پاره ګټور وي او ښایی د هغې پر بنسټ په دواړو برجونو کې د مرګ ژوبلې شمیره کمه شوې وای؛ خو له بده مرغه چې هغه هم له مینځه تللي و.
- پوځ هم په همدې ډول د خپلو کارکوونکو او رسنیو تر مینځ په اړیکو باندې بندیز ولګاوه، چې خبریالان و نه شي کړای د جټ الوتکو له پیلوټانو او د بارکدیل Barksdale او اوفوت Offutt د هوایی ډګرونو له کارکوونکو سره مرکې وکړي.
- د امریکا د وکیلانو ټولنه چې کولای یې شوای د زیانونو، مرګ ژوبلې او تاوان دعواوې وکړي او د بریدونو تر شا دولتي رازونه روښانه کړي، اعلان وکړ چې هر هغه وکیل به له خپلې ټولنې څخه وباسي چې د قربانیانو د کورنیو په استازیتوب دعوا وکړي. دغه بندیز یوازې د شپږو میاشتو له پاره د اجرا وړ و او وروسته له دومره وخت څخه طبي پوهان نه شي کولای د مړ شوي کس په هکله څیړنې وکړي.
- ولسمشر بوش شخصاً د کانګرس له غړو سره اړیکې نیولې وې او له دوی څخه یې غوښتي و چې د سپتمبر د 11 د پیښو په هکله له څیړنو څخه لاس واخلي، ځکه کیدای شي له دې سره ملي امنیت ته ګواښ پیښ شي. کانګرس هم له دې کبله چې خوځښت وښیی او ځان و نه شرموي، د یوې ګډ څیړنیز پلاوی د جوړیدو پریکړه وکړه چې د سپتمبر د 11 نیټې امنیتي پلانونه وګوري او په راتلونکي کې د دغسې پیښو د کیدو مخنیوی وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکتوبر په 10 نیټه د ملي امنیت مشاورې کاندولیزا رایس Condoleeza Rice د ټولو لویو ټلویزیوني چینلونو (سي اِن اِن CNN، سی بی اِس CBS، فاکس نیوز FOX NEWS، اِم اِس اِن بي سي MSNBC او اِن بی سی NBC) مشران سپینې ماڼۍ ته وغوښتل چې  دوی خپلو لویو مسئولیتونو ته متوجه کړي او دوی ته یې وویل چې که رسنۍ غواړي خپلواکي ولري؛ نو باید د دولت له خوښې سره سم خپرونې وکړي او داسې معلومات خپاره نه کړي چې د امریکایی ولس ژوند ته خطر پیښ کړي.

چاپي رسنیو ته هم د دولت خبرتیا په ښه توګه واورول شوه. آن تر دې چې د تکزاس سن سیټي Texas Sun City روځپاڼې مسئول (ران ګوتینګ) او د ډیلي کوریر Daily Courier روځپاڼې مسئول (ډان ګوتري) چې د ولسمشر بوش منتقدین وو، له دندو ګوښه شول او یا یې روځپاڼې له مالي نظره لوټ او تالا شوې.
بالاخره، له دریو اوونیو بحث وروسته کانګرس پریکړه وکړه چې د ترهګرۍ په مخنیوي او د هغې د له مینځه وړلو له پاره د اړو مرستو په برابرولو سره، امریکا یو موټی او ځواکمنه کړي. د متحده ایالاتو دغه ځانګړی مقننه قوې د څلورو کلونو له پاره، د څو ډوله بنسټ پاله مدني آزادي غوښتونکو ټولنو د کار د ځنډولو امر وکړ چې د بوش ادارې ته د ترهګرۍ په ضد پیل شوې جګړه کې فرصت په لاس ورکړي. دا هیڅوک هم له پامه نه شي غورځولای چې د څلورو کلونو په دې موده کې د بوش د ادارې واکمني او د هغه د بیا ولسمشر کیدو له پاره د ټاکنو موده شامله وه. کانګرس ترهګرۍ او له ترهګرۍ سره مرسته کوونکو ته د یوه سخت تعریف په ورکولو د هغوی ځپل پیل کړل. د دوی د دغو کړنو له مخې د بریتانیا په زندانونو کې د آیرلند د جمهوري غوښتونکی پوځ یا آی آر اې IRA د اسیرو جنګیالیو د کورنیو له پاره پیسې ټولول، له دې وروسته یو جرم ګڼل کیده. دوی د شکمنو ترهګرو د نیولو په موخه، د ټاکل شوي وخت موده یوه اوونۍ نوره هم زیاته کړه. د پوښتنو ګرویږنو په موخه، شکمن کسان (پرته له هیڅ دلیل څخه او پرته له دې چې له ترهګرۍ سره اړیکې ولري) تر شپږو میاشتو پورې په بند کې پټ ساتل کیدای شوای او که لوی څارنوال فکر کړئ وای چې دا کسان ملی امنیت، د ټولنې او یا کسانو خوندیتوب ته ګواښ پیښوي؛ نو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



موده تر نامعلوم وخت پورې ډیریدلای شوای. له پریکړې سمدلاسه وروسته 1200 کډوال د نامعلومی موده له پاره او پرته له دې چې په کوم جرم تورن پیژندل شوي وي، توقیف شول. په متحده ایالاتو کې د بهرنیو هیوادونو قنسولګریو له خپلو اتباعو څخه د اساسي حقونو د بیرته اخیستلو دا عمل وغانده او په نیویارک کې د پاکستان قنسولګرۍ د بیلګې په توګه داسې څرګندونې وکړې:
(په ډیرو مواردو کې موږ ته د خپلو نیول شوو اتباعو نومونه نه دي ویل شوي او له دې څخه هم خبر نه یو چې دوی په کوم ځای کې او په کوم تور نیول شوي. د متحده ایالاتو چارواکو تر اوسه موږ ته دا هم نه دي ویلي چې دغه شان څومره کسان نیول شوي دي؟ امنیتي چارواکو زموږ په اتباعو باندې فشار اچولی چې د خپل هیواد له قنسولګریو او وکیلانو سره اړیکه و نه نیسي. دا زموږ له پاره د نه منلو وړ ده).

دې وطن پاله پریکړې اف بی آی FBI ته دا اجازه ورکړه چې د محکمې له حکم پرته ، د خلکو اړیکې کنټرول کړي. د متحده ایالاتو دیموکرات ګوند هم د دغه پریکړې ملاتړ کړی و. اف بی آی FBI حتی کولای شوای د بهرنیو اتباعو تر مینځ او د بهرنیو هیوادونو تر مینځ هغې اړیکې کنټرول کړي چې د انټرنټ په واسطه د امریکا له خاورې تیریدې.

د اکتوبر په 31 نیټه د عدلیې وزارت، له توقیف شوو کسانو څخه دا حق هم واخیست چې له خپلو وکیلانو سره خبرې اترې وکړي؛ ځکه د پریکړې له مخې چارواکو کولای شوای چې د وکیل او توقیف شوی کس تر مینځ خبرو ته غوږ ونیسي او بیا هماغه خبرې اترې د شکمن کس د محاکمې له پاره وکاروي. له همدې امله وکیل نه شوای کولای د خپل موکل دفاعیه جوړه کړي.

د نومبر په 31 نیټه ولسمشر بوش امر وکړ چې هغه بهرنیان به چې د ترهګرۍ شک پرې کیده، د القاعده ډلې پخواني او اوسني غړي او هغه کسان چې په بې خبرۍ یې له دوی سره د بریدونو په سر ته رسولو کې مرسته کړې وه، په فدرالو او حتی نظامي محکمو کې نه بلکه د یوه نظامي کمیسیون له خوا محاکمه کیږي. دا کمیسیونونه په خپلسره توګه د دفاع وزیر پواسطه جوړیدلای شوای او د ځان له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره يې خپله ځانګړې تګلاره درلوده. د دوی ځينې ځانګرتياوې په لاندې ډول وې:

- د دوی غونډې د بندو دروازو تر شا او په پټو ځايونو کې،جوړېدای شوای.
- نوموړو نظامي قاضيانو د ولسمشر له فرمان سره سم دا حق درلود چې نيول شوی کس ته خپل شته شواهد ونه ښيي.
- پريکړې به له دريو څخه د دوو برخو په اکثريت نيول کيدې. (د نړيوالو نورمونه پر بنسټ، د جنايي پيښو پريکړې بايد د ټولو په خوښه وشي).

په همدې روځ د عدليې وزارت، په متحده ايالاتو کې استوګن د ختيځوهېوادونو ۵۰۰۰ کسان ونيول. په دغه شميره کې نژدې ټول کسان قانونی مهاجر وو او داسې هيڅ جرم يې سر ته نه وو رسولی چې د پوښتنو ګروېږنو وړ وي.

د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت، د ترهګرۍ ضد کميټې په مرسته چې د ملګرو ملتونو د 1373 شميرې فرمان په واسطه د سپتمبر په 28 جوړه شوې وه، خپلو هغه متحدينو ته چې د ملګرو ملتونو غړيتوب يې درلود امر وکړ، چې همدا شان قوانين جوړ کړي. په همدې روځ د نړۍ 55 هيوادونو، د امريکا د متحده ايالاتو له هيوادپاله پريکړې سره سم، ګامونه واخيستل. د دغه قوانينو د جوړولو مانا دا نه وه چې ولس او خلک له ترهګرۍ څخه خوندي وساتل شي، بلکه هدف يې دا و چې امريکايی پوليسو ته اجازه ورکړل شي چې خپل د فعاليت کړۍ د نړۍ نورو برخو ته هم خپره کړي. که په لنډه توګه وګورو د دغه ټولو کړنو هدف دا و چې د ترهګرۍ تر نامه لاندې کيسه نوره هم اوږده شي. د رسنيو آزادي محدوده شي او امنيتي چارواکو ته دا اجازه ورکړل شي چې د قضائيه قوې له امر پرته د خلکو اړيکو ته غوږ ونيسي. لاندينې هيوادونه د بيلګې په توګه له هغه لومړنيو هېوادونو څخه وو چې د امريکا له دې فرمان څخه يې پيروي وکړه:

1:- د بريتانيا د ترهګرۍ ضد قانون، دولت ته دا اجازه ورکړه چې د محکمې له حکم پرته شکمن کسان بندي کړي؛ خو دې قانون په خپل ذات کې د اروپا د بشري حقونو له تړون سره تضاد درلود.

2:- د کاناډا د ترهګرۍ ضد قانون خبريالان دې ته اړ کول چې خپلې خبري سرچينې قاضيانو ته څرګندې کړي او که نه نو له قيد سره به مخامخ شوي وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



3:- په جرمني کې استخباراتي مامورینو ته قضایی واک ورکړل شو چې له ځانه د پولیسو یو سیاسي څواک جوړ کړي.
4:- په ایټالیا کې پټو استخباراتي مامورینو ته دا واک ورکړل شو چې له هیواد څخه د دفاع په موخه، د هیواد د ننه هر ډول تیری کولای شي. پرته له دي چې وروسته ملامت وپيژندل شي.

په پای کې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر کولن پاول، اروپایی هیوادونو ته په سفر لاړ، چې دا یقینی کړي چې په راتلونکی کې د اروپا پولیس باید خپل ټول معلومات په نیغه او پرته له تشریفاتو، اف بی آی FBI ته ولیږي او په همدې موخه یې د اروپا د پولیسو په ټولو دفترونو باندې د اف بی آی FBI آنتونه ولګول.

په همدې اړه د نیویارک د کتابونو د بیا کتنې یوې نامتو ادارې داسې لیکلي و: (د سپتمبر له 11 وروسته، د متحده ایالاتو دولت داسې قوانین او تګلارې جوړې کړې دي چې د دغه هیواد له پخوانیو تګلارو سره په ټکر کې دي او هیچا یې هم له دې مخکې فکر نه شو کولای).

امریکایی چارواکو په خپله وطن پاله جذبه کې، هغه هیواد چې د بیان په آزادۍ او سیاسي رونوالي باندې مشهور و، په داسې یو هیواد بدل کړ چې یوازې خپله نظریه ورته درنه وه او پټ دفاعي پلانونه یې د ټولنې په هره برخه کې عملي کېدای شوای.
د سپتمبر د 11 نیټې د پیښو په اړه د چارواکو څرګندونو و نه شو کړای چې له دې بدلون څخه دفاع وکړي. که دا رښتیا وه چې د دوی دښمنان، دافغانستان په غارونو کې میشت، یوه ډله بدمرغه او بې وزله کسان وو؛ نو دوی بیا ولې د پنتاګون په زړه کې د دوو ملګرو کارکوونکو تر مینځ له خبرو څخه ویریدل؟ موږ څنګه کولای شو دا ومنو چې د ترهګرو یوه کوچنۍ ډله کولای شي چې د وسلو د معاملو په هکله معلومات ټول کړي او د هغې په واسطه د امریکا د پوځ په پلانونو باندې ځان وپوهوي؟ ولې باید د ادارو عادي کارونه وځنډول شي، وکیل و نه شي کړای چې له خپل موکل سره وګوري، محکمې د بندو دروازو تر شا جوړې شي او د ولسواکۍ د پلي کولو له پاره د اړینو معلوماتو ټول ممنوع اعلام شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د چارواکو دا ادعا رښتیا وي چې بریدونه د بهرنیو ترهګرو په واسطه سر ته رسیدلي وو؛ نو بیا ولې د کانګرس او رسنیو په واسطه د پلټنو او څېړنو مخنیوی وشو؟

آیا دا ټولې پیښې د یوه هغه سیاسي بدلون له پاره نه وې تر سره شوې چې د سپتمبر له 11 نیټې څخه مخکې طرحه شوې وې؟ د متحده ایالاتو استبخاراتي ادارې (سي آی اې CIA) له تیرې نیمې پیړۍ څخه را پدیخوا هڅه کوی چې داسې یوه لایحه جوړه کړي چې د هغې په واسطه رسنۍ و نه شي کړای د دولت چارې وپلټي او هر هغه خبریال او یا چارواکی چې د دغه قانون د ماتولو هڅه وکړي، مجرم وپیژني. د 2000 کال په نومبر کې د سنا یو ډیر ارتجاعي سناتور چې (ریچارد شیلبي Sen. Richard Shelby) نومیده او په سنا کې یې د استخباراتي کمیټې مشري په غاړه درلوده، د امنیت رسمي لایحه پاس کړه؛ خو د ولسمشر بیل کلینټون په واسطه بیرته رد (ویټو) شوه. شیلبی همدا کار د 2001 کال په اګست کې بیا تکرار کړ او هیله مند و چې ولسمشر بوش به دا لایحه تصویب کړي. لایحه لا په کمیټه کې وه چې بریدونه وشول او بیا د همدې لایحې ځینې برخې د 2001 کال د سپتمبر په 13 نیټه د استخباراتو د قانون په لایحه کې شامل کړای شوې. د عدلیې وزیر او لوی څارنوال (آشروف) ژر تر ژره یوې ځانګړې ډلې ته دنده وسپارله چې وګوري څنګه د معلوماتو د وتلو مخنیوی وکړي ؟ نوموړې ډلې باید خپل راپور شپږ میاشتې وروسته لوړپوړو چارواکو ته سپارلی وای. په همدې وخت کې له دولتي ویبپاڼو څخه ټول عامه معلومات پاک شول؛ ځکه د چارواکو د څرګندونو پر بنسټ د دې ویره وه چې ترهګر به له هغه معلوماتو څخه پټ دولتي رازونه پیدا کړي.

سربیره پر دې د عدالت قوه، د کانګرس د پلټنو کمیټې او رسنۍ چې ټول په حقیقت کې یو ډول مخالف ځواکونه شمیرل کیږي، خنثی حالت ته اړول شوي وو او اجرائیوي ادارو ته داسې واکونه ورکړل شوي وو چې دوی ته یې په کورني سیاست کې د لاسوهنې اجازه ورکوله. دا ټول هغه څه وو چې سی آی اې CIA او وسله والو ځواکونو په نورو سیمو کې آزمویلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کورني امنيت د ادارې جوړيدل چې د سپټمبر په 20 نيټه د ولسمشر بوش له خوا کانګرس ته اعلان شوې و، په حقيقت کې د اکتوبر تر 8 نيټې پورې عملي نه شو. د دغه ځنډ لامل د حالاتو بدلون نه بلکه د امريکا د دولت په ميکانيزم کې د ژورو اصلاحاتو راوستل و. امريکايي ادارې پريکړه وکړه چې له همدې نيټې وروسته به د کورني او بهرني امنيت تر مينځ توپير ساتل کيږي. د کورني امنيت د ادارې مشري د ټام ريدجز او د ملی امنيت د مشاورې (کاندوليزا رايس) په غاړه وه؛ خو دوی هر يو بيا د يوې ځانګړی ځانګې مشران هم پاته شول. په دې مانا چې د کورني امنيت د ادارې د ځانګې مشري د (ټام ريدجز) او د ملي امنيت د ځانګې مشري د (کاندوليزا رايس) په غاړه و؛ خو په ځينو برخو کې دوی په ګډه کار کاوه. همدارنګه ولسمشر بوش د ملي امنيت د مشاوريت له پاره يو مرستيال يا فرعی کس ونوماوه چې د ترهګرۍ ضد عمليات يې هم په غاړه و. دغه کس په يوه وخت کې د (کاندوليزا رايس) تر لاس لاندې هم کار کاوه او د (ټام ريدجز) په نه شتون کې د هغه ځای ناستی هم و. دغه ډيره مهمه څوکۍ جنرال (واين ډانينګ Gen. Wayne A. Downing)ته ورکړل شوه. نورو رتبو ته په کتنې سره، د جنرال ډانينګ رتبه مهمه ښکاريده؛ ځکه چې دی د ځانګړو عملياتو په قوماندانۍ کې د (شا ته پاته شبکې) (Stay-behind Network) د مدير په توګه ټاکل شوی و. د يادونې وړ ده چې د شاته پاته شبکه د پټو استخباراتي ادارو تر ټولو پټه اداره ده. دا اداره د خپلواکۍ يا ليبريشن Liberation په وختونو کې جوړه شوې وه او دنده يې دا وه چې د نازي رژيم مامورين به يې د کمونيزم د پرمختګ په وړاندې کارول. نوموړې اداره د ديموکراتو ټاکنو د سمبالولو په موخه د لويو سياسي څيرو په مينځ کې په نفوذ باندې مشهوره وه. د بيلګې په توګه د ايټاليا د هيواد (شاته پاته) څانګه د عامه خلکو په مينځ کې د ګلاديو په نامه يادېږي.

د جنرال (واين ډانينګ) يوه دنده هم له همدې امله دا وه چې د شوراګانو او د نفوذ د ستراتيژيکې ادارې تر مينځ چې د عامه ولس او بهرنيو دولتونو د مفکورو د بدلون دنده يې په غاړه وه، اړيکې وساتي.

د کورني امنيت ادارې د څواکونو د انسجام لوی مسوليت په خپل لاس کې اخيستی و او د وخت په تيريدو سره د هغه د ډيريدو ګڼنه (احتمالی) هم شته وه. په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې د دې خبرې وړاندوینه ناشوني وه چې آیا دا اداره به وکولای شي په دوهمه نړیواله جګړه کې د جګړې د تیاریو د ادارې په شان او یا د مخدره توکو د کنټرول د ملي ادارې په شان رول ولوبوي که نه؟ د یادونې وړ ده چې د مخدره توکو د کنټرول ملي اداره په لاتینه امریکا کې نظامي عملیات څاري. په هر حال موږ ولیدل چې ملکي ژوند په یو وار د پوځي ځواک او استخباراتي ادارو تر ولکې لاندې راوستل شو.

تاریخ او تاریخ لیکونکی به د دې خبرې شاهد وي چې د 2000 کال د نومبر او د 2002 کال د فبرورۍ د میاشتو په مینځ کې هغه ولسواکۍ چې د خپلواکۍ د اعلان د جوړونکو او د متحده ایالاتو د اساسي قانون په واسطه نړۍ ته پیژندل شوې وه، په واقعي توګه پای ته ورسیده او د ولسواکۍ په له مینځه تلو سره یو امریکایی فاشیست روحاني هیواد وزیږید.

## دریمه برخه: د امپراتورۍ د بریدونو پیل

### اتم څپرکی: دا د بن لادن کار دئ!

د سپتمبر د 11 نیټې په سهار په داسې حال کې چې د سی ان ان CNN ټلویزیوني چینل د نیویارک د برجونو د اور د لمبو انځورونه خپرول او نړۍ لا هم د تصادف او برید تر مینځ توپیر نه شو کولای، د نوموړي چینل مبصرینو په پیښه کې د اسامه بن لادن د لاس په شتون په تبصرو پیل وکړ. د وخت په تیریدو سره دا احتمالی په داسې توګه په عامو خلکو تحمیل شو چې د دوی له پاره همدا یو واضح دلیل د منلو وړ و. د دوی په آند دغه ډول وحشي بریدونه یوازې د اسامه بن لادن په واسطه چې له مدني نړۍ څخه رټل شوی و، د لویدیځ په وړاندې یې بې ځایه کرکه درلوده او لاسونه یې په وینو سره وو، تر سره شوي و. د اسامه بن لادن په نامه دغه لیونی کس له وړاندې د متحده ایالاتو د ولس د دښمن په توګه نړۍ ته پیژندل شوی وو. دغه اوازې رسنیو ته د په اصطلاح د پوهو او یا څیړنو ته د نژدې سرچینو له خوا په پټه ورکول شوې وې. دې مفکورې هغه وخت ځانته رسمي بڼه غوره کړه چې (کولن پاول) اسامه بن لادن د شکمن په توګه یاد کړ او کله چې ولسمشر بوش، اسامه بن لادن د بریدونو د اصلي عامل په توګه معرفي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ؛ نو دا مفکوره یو اصل شو. په لومړیو کې د ولس له خوا دا تورونه په ټولیزه توګه و نه منل شول. په همدې روځو کې امریکایي چارواکو د اسامه بن لادن داسې یوه ویډیو خپره کړه چې د دوی په آند د اعتراف مانا یې ورکوله.

اسامه بن لادن د شیخ محمد بن لادن له 54 اولادونو څخه دی چې په 1931 کې یې د سعودي بن لادن د ډلې Saudi Binladen Group – SBG بنسټ کیښود، (ګڼ شمیر سرچینو د اسامه بن لادن د بیوګرافئ په هکله معلومات خپاره کړي چې زیاتره یې د ټینګو څیړنو برعکس، پاروونکې او احساساتي بڼه لري). د بیلګې په توګه یوسف بودانسکي Yossef Bodansky چې په کانګرس کې یې د مشاور دنده تر سره کوله په کال 1996 کې د (اسامه بن لادن یا د امریکا په وړاندې د جګړې اعلانوونکی Bin Laden, The Man Who Declared War on America) نامتو کتاب ولیکه او د (د اسامه بن لادن په نوم In The Name of Osama Bin Laden) په نامه کتاب کې چې په کال 2001 کې (رولاند جاکوارد Roland Jacquard) لیکلی. دا دواړه کتابونه د هغه استخباراتي معلوماتو پر بنسټ لیکل شوي چې د باوري سرچینو د نشتوالي له امله هیڅ وخت خپاره نه شول).

د شیخ محمد بن لادن نوموړې سوداګریزه ډله یا ګروپ د سعودي د وتلو شرکتونو څخه دی چې نیم عاید یې له عامه او ودانیزو کارونو څخه او نیم نور یې د انجینرئ، د ملکیتونو د پلورلو او پیرودلو، مخابراتو او خپرونو څخه لاسته راوړو. په دې سربیره نوموړي ګروپ د سیکو SICO تر نامه لاندې د سویس د پانګونې ځانګه جوړه کړه او سیکو بیا په خپل وار د سعودي د ملي تجارتي بانک په مرسته نورې ګڼ شمیر ځانګې جوړې کړې. د سعودي بن لادن ګروپ، د عامه الکترونیکو سامان آلاتو، نارتل مخابراتي شبکو او خوراکي موادو په سوداګرئ کې رغنده ونډه لري. د امریکا په متحده ایالاتو کې د دغه شرکت صنعتي کړنې د عدنان خاشوګي (د محمد الفایض د اوښي) په وسیله او مالي کړنې یې د کارلایل ګروپ Garlyle Group په وسیله په مخ بیول کیږي. تر کال 1996 پورې د سعودي بن لادن ګروپ د شرکت د مالي پورونو ځانګې په لاسان کې د نوموړي شرکت د مشاور، نازي بانکوال، د ترهګر کارلوس د حامي او د ډاکتر ګوبیلز د اختیاراتو د وکیل له خوا چې نوم یې فراناویس جینود و، جوړیدې. د سعودي بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



لادن ګروپ شرکت د وهابيانو له رژيم څخه ځکه د بيليدو وړ نه دی چې دغه شرکت د سعودي د پاچاهۍ د سپيڅلې ماڼۍ او د مکې او مدينې د جوړولو او مديريت يوازينی رسمي قراردادي و. په همدې ډول نوموړی شرکت په سعودي عربستان کې د امريکايی ځواکونو له پاره د اډو د جوړولو او د خليج له جګړې وروسته د کويټ د بيا رغولو تړونونه هم اخيستي و. په کال 1968 کې د شيخ بن لادن د ناڅاپي مړينې څخه وروسته د دغه شرکت د چارو واګې د هغه مشر زوی سالم بن لادن په لاس کې واخيستې. سالم هم په کال 1988 کې د تګزاس په لاره د الوتکې د ناڅاپي لويدو له امله مړ شو. له هغه وروسته د سعودي بن لادن ګروپ، د شرکت د بنسټ اينودونکي د دوهم زوی بکر بن لادن له خوا اداره کيږي.

اسامه بن لادن چې په کال 1957 کې زيږيدلی و، د ادارې او اقتصاد په برخه کې يې د باچا عبدالعزيز له پوهنتون څخه بری ليک تر لاسه کړ. اسامه کولای شوای چې په يوه هوښيار سوداګر بدل شي؛ خو د 1979 د دسمبر په مياشت کې شهزاده ترکی الفيصل السعود (له کال 1977 څخه د 2001 کال د اګست تر مياشتې پورې د سعودي عربستان د استخباراتو يا پټو خدماتو د ادارې مشر) چې د ده روزونکی هم و، له ده څخه غوښتنه وکړه چې په افغانستان کې د سي آی اې CIA د پټو عملياتو مالي برخې اداره او کنټرول کړي. سي آی اې CIA د لسو کلونو په موده کې په افغانستان کې 2 ميليارده ډالر ولګول چې د شوروي اتحاد په ګونډو کړي. دا د سي آی اې CIA په تاريخ کې تر ټولو ګران عمليات و. د سعودي عربستان او امريکا استخباراتو د خپل ځان په استازيتوب، شوروي اتحاد ته د ماتې ورکولو په موخه، اسلام پال خلک استخدام کړل، ويې روزل، په وسلو يې سمبال کړل او د جهاد په نامه يې په يوه سپيڅلې جګړه کې ښکيل کړل. اسامه بن لادن هم د القاعده (بنسټ) په نامه د يوه سازمان په واسطه د دغه غير متجانسې نړۍ اړتياوې پوره کولې. .

د شوروي اتحاد له ماتې وروسته د امريکا متحده ايالاتو د افغانستان په سرنوشت کې خپل بې علاقه توب څرګند کړ او دغه هيواد يې جنګ سالارانو او هغه مجاهدينو ته پريښود چې دوی په خپله د سره پوځ په وړاندې د جګړې له پاره له عربي – اسلامي نړۍ څخه ټول او په دندو ګومارلي وو. اسامه بن لادن له جهاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه وروسته د سي آی اې CIA له پاره کار کول پرېښودل او پخواني جنګيالي يې تر خپل کنټرول لاندې راوستل. په 1990 لسيزه کې، اسامه بن لادن د سعودي عربستان سلطنت ته د خپلو جنګياليو د سپارلو وړانديز وکړ چې له کويټ ځخه د دوی په اصطلاح (مرتد) صدام حسين په ايستلو کې مرسته وکړي؛ خو دی په دې خپه شو چې شاهي کورنۍ د دغه دندې د تر سره کولو له پاره د ولسمشر بوش (پخوانی ولسمشر او د جورج ډبليو بوش پلار)، ډيک چيني (په هغه وخت کې د دفاع وزير) او کولن پاول (د وخت لوی درستيزوال) تر مشرۍ لاندې ايتلاف ته ترجيح ورکړه.

له دې ځخه لږ وروسته اسلامي جنګيالي په دوو برخو يعنې د سعودي او امريکا د يووالي د دوستانو او دښمنانو په ډلو باندې وويشل شول. اسامه بن لادن له ياسر عرفات سره يو ځای د سوډاني رهبر، حسن الترابي په ډله کې پاته شو. د يادونې وړ ده چې دغه دواړو کسانو (ياسر عرفات او اسامه بن لادن) په خرطوم کې په جوړو شوو عربي او اسلامي کانفرانسونو کې هم ګډون وکړ.

متحده ايالات د ملګرو ملتونو  تر قوماندې لاندې په کال 1992 کې د سوماليا د (هيلو د بيا ژوندي کولو) په ماموريت کې ښکيل شو. په دې جګړه کې ځينو افغان تجربه کارو جنګياليو هم ګډون وکړ. دوی همدا راز په هغه عملياتو کې ګډون وکړ چې په ترځ کې يې 18 امريکايی سرتيري ووژل شول  د متحده ايالاتو پوځ د دغه پيښې ملامتيا سمدلاسه د اسامه بن لادن په غاړه واچوله. که په لنده توګه وويل شي، اسامه بن لادن د روسانو له شړلو ځخه سمدلاسه وروسته امريکايانو ته ماتې ورکړه.

له همدې امله، له اسامه بن لادن ځخه د سعودي عربستان تابعيت واخيستل شو او ده خپل ځان په سوډان کې ځای پر ځای کړ. نوموړي له خپلې کورنۍ سره د اړيکو له پرې کيدو وروسته، خپله ميراثي شتمني چې په هغه وخت کې يې 300 ميليونه ډالره ارزښت درلود، تر لاسه کړه. بن لادن په دغه پيسو باندې په ځو بانکونو او کرنيزه شرکتونو کې پانګونه وکړه. ده لومړی د ډګروال عمر حسن البشير او بيا وروسته د حسن الترابی په مرسته په سوډان کې ګڼ شمير هغه شرکتونو ته وده ورکړه چې سړکونه او هوايی ډګر يې ودان کړل، نل ليکه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړه کړه او د عربي سریښ یا کنډ ډېره برخه تولید یې تر خپلې ولکې لاندې راوست. نوموړی د دغه پانګونو سره – سره په کال 1996 کې د مصر د فشار له امله له سوډان څخه تر شړل کیدو وروسته، بیرته افغانستان ته ستون شو. د مصر دولت اسامه بن لادن په دې تورن کړی و چې هغه د ولسمشر حسنی مبارک د وژلو په دسیسه کې لاس درلود.

د 1996 کال د جون د میاشتې په 19 نېټه د سعودي عربستان د (خوبار) د سیمې په یوه نظامي اډه باندې د برید په ترڅ کې 19 امریکایی سرتیري ووژل شول. متحده ایالاتو د دغه بریدونو پړه په اسامه بن لادن واچوله او بن لادن هم په ځواب کې د (له عربي ټاپووزمې څخه مشرکین وشړئ) تر نامه لاندې د فتوا په صادرولو سره د اسرائیلو او متحده ایالاتو په وړاندې د جهاد اعلان وکړ. په صادره شوې اعلامیه کې راغلي و چې دا د هر مسلمان دنده ده چې نیول شوې اسلامي سیمې آزادې کړي. نوموړي په دغه اعلامیه کې ټول هغه دلایل راوړي و چې له سي آی اې CIA سره یې یو ځای په افغانستان کې د شوروي اتحاد په ضد کارول؛ خو له دې سره – سره دا ډېره ستونزمنه وه چې د شوروي اتحاد له خوا د افغانستان خونړی اشغال دې په سعودي عربستان کې د امریکایی پوځ له قراردادي شتون سره پرتله شي.

اسامه بن لادن له دې امله چې د نړۍ مسلمانانو د ده چیغه لکه څنګه چې تمه کېده، په سمه توګه وا نه وریده، له مصري رهبر ایمن الظواهري سره په ګډه د یهودانو او عیسویانو په وړاندې نړیوال اسلامی حرکت جوړ کړ.

د کال 1998 د اګست په 7 نېټه د تانزانیا په پلازمینه دارالسلام او د کینیا په پلازمینه نایروبي کې د متحده ایالاتو په سفارتونو باندې بریدونه وشول، چې په ترڅ کې یې298 تنه ووژل شول او له 4500 څخه زیات کسان پکې ټپیان شول. متحده ایالاتو، اسامه بن لادن دغه بریدونو تورن کړ او د ولسمشر کلینټون په امر د افغانستان په خوست او جلال آباد ولایتونو کې د القاعدې کمپونه او په سوډان کې د الشفا لابراتوار په کروز (Cruise) توغندیو وویشتل شول. د متحده ایالاتو اف بی آی FBI پولیسو هم د دغه بریدونو پړه پر اسامه بن لادن واچوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغه په سر يې د 5 مليونه ډالرو انعام کيښود. له دې پيښو څخه وروسته د نوموړي ټولې مالي شتمنۍ کنګل شوې.

د 2000 کال د اکتوبر په 12 نيټه د يمن د هيواد د عدن په بندر کې د متحده ايالاتو په نظامي بيړۍ (ورانونکې Destroyer USS Cole) بمي بريد وشو چې په ترڅ کې يې 17 ماڼوګان (بيړۍ چلونکي) مړه او 39 نور ټپيان شول. متحده ايالاتو بيا هم اسامه بن لادن د دغه بريدونو په لاربښونه تورن کړ.

د 2001 کال د مې په ٨ نيټه (دونالد رمسفيلد) څرګنده کړه چې د متحده ايالاتو دا لومړی شميره دښمن نه يوازې باکترياېي او کيمياوي وسلې په خپل واک کې لري؛ بلکه په غالب ګمان ښايي اتمی بم جوړ کړي او فضا ته خپله سپوږمکۍ واستوي.

(ميلتون بيردن) چې په 1980 لسيزه کې په سوډان کې د سي ای اې CIA د عملياتو د څانګې متخصص او په افغانستان کې د پټو عملياتو له لومړنيو مشرانو څخه و، له فرانتلاين مجلې سره په مرکه کې خپل شکمنتوب داسې څرګند کړ: (په تيره لسيزه کې د هر ترهګر عمل له پاره د اسامه بن لادن تورنول او پيښو ته مهمه ښه ورکول د ډيرو امريکايانو «استخباراتو» له پاره يو لوی سپکاوی دی. له همدې امله زموږ متحدين په دغه موضوع کې په موږ باندې پوره باور نه کوي).

(ميلتون بيردن) چې په 1994 کې له تقاعد  څخه وروسته خپله د بيان آزادي بيرته لاس ته راوړې وه خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړی وو: (دغه پيښې د خيالي کيسو او افسانو په شان دي. بن لادن د همدغه افسانو په واسطه احاطه شوی دی. دا پيښې د يوې ننداريې څو برخې دي. په 1991 کال کې د شوروي اتحاد له راپرځيدو  وروسته، بل هيڅ داسې هيواد نشته چې له موږ سره دښمني ولري. داسې حالت زموږ په خوښه دي. موږ په داسې حالاتو کې چې ريښتوني ترهګري خپلې څيرې ته يو ډراماتيک بدلون ورکوي، د نړيوالې خيالي ترهګرۍ سره په جګړې خوښې څرګندوو).

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر حال متحده ایالاتو، اسامه بن لادن د سپتمبر د 11 نیټې په بریدونو تورن کړ. جنرال کولن پاول د شکمنتوب په فضا کې د ان بی سي NBC ټلویزیوني چینل په یوه پروګرام کې د میلمه په توګه څرګند شو او داسې یې وویل: (موږ ټینګه هڅه کوو چې خپل د پولیسو، استخباراتو او هر ډول نور معلومات ټول کړو. موږ به په نژدې راتلونکي کې د داسې اسنادو په خپرولو باندې وتوانیږو چې په واضح ډول به دا خبر څرګند کړي چې موږ اسامه بن لادن ته له دغه بریدونو سره تړاو ورکړی دی). دا موضوع که څه هم چې څو ځله اعلان شوې ده؛ خو بیا هم نوموړی سند تر اوسه نه دی خپور شوی.

د اکتوبر په 4 نیټه د بریتانیا لومړي وزیر (تونی بلیر) اروپایی ټولنې ته یو راپور وړاندې کړ چې عنوان یې په متحده ایالاتو کې د ترهګرو د بې رحمۍ مسوولیت و. د راپور په یوه برخه کې داسې راغلي وو: (د اسامه بن لادن د القاعده پرته په نړۍ کې داسې بل هیڅ سازمان نشته چې په یوه وخت کې د سپتمبر د 11 نیټې په شان د بریدونو د تر سره کولو له پاره دومره لویه وړتیا او خوځښت ولري). په همدې روځ د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر ریاض محمد خان څرګنده کړه چې هغه شواهد چې د متحده ایالاتو د دولت په واسطه د پاکستان دولت ته سپارل شوي دي، عدالت ته د اسامه بن لادن د راوستلو له پاره کافي دي. نوموړي شواهد فوق العاده پټ ساتل شوي او تر اوسه عام ولس ته نه دي څرګند شوي.

د اکتوبر د میاشتې په 7 نیټه د ملګرو ملتونو له پاره د متحده ایالاتو او بریتانیا سفیرانو، ملګري ملتونه د هغه پوځي عملیاتو په هکله خبر کړل چې د دوی دولتونو په افغانستان کې پیل کړي وو. (د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا مشر ته د نیګروپونتې او ایلدون په واسطه لیږل شوي UN S/2001/946 او UN S/2001/947 شمیره لیکونه)

جان نیګروپونتې په خپل لیک کې داسې لیکلي و: (زما دولت داسې کره او واضح شواهد تر لاسه کړي دي چې ښیی د القاعدې شبکې چې په افغانستان کې یې د طالبانو د رژیم له خوا ملاتړ کیږي، په دغه بریدونو کې مرکزي رول لوبولی دی)؛ خو مهمه خبره دا ده چې پورتني کره او واضح معلومات هیڅکله هم د امنیت شورا ته ورنکړل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نومبر په 10 نیټه د سنډې ټیلیګراف روځپاڼې د هغه ویډیویي فلم (د لیږلو نیټه د اکتوبر 20) شتون څرګند کړ چې پکې اسامه بن لادن د بریدونو مسولیت اخیستی و. نوموړي په فلم کې ویلي و چې: (غبرګ برجونه زموږ اصلی هدف وو. دا برجونه د امریکا د اقتصادي بنسټ په توګه پیژندل کیدل. دغه پیښنو ته که له هر نظره وکتل شي؛ نو ډیرې مهمې ښکاري. د بریدونو په ترځ کې وران شوي غبرګ برجونه یوازې برجونه نه؛ بلکه د دغه هیواد د روحیې برجونه وو). اسامه بن لادن په فلم کې د امریکا ولسمشر او د بریتانیا لومړی وزیر داسې ګواښلي وو: (بوش او بلیر یوازې د زور په ژبه ښه پوهیږي. هر کله چې دوی موږ وژني، موږ به دوی وژنو او دې کار ته به تر هغې دوام ورکړو چې د ځواک توازن نه وي رامینځ ته شوی). پورتنۍ څرګندونې په همدې روځ د توني بلیر په واسطه تایید شوې او وې ویل چې دی د دغه فلم یوې کاپي ته لاسرسي لري. دغه له رازونو ډک فلم ته د توني بلیر په خپور شوي راپور کې هم اشاره شوې ده. د یادونې وړ ده چې د دغه فلم محتویات یوه ویډیویی مرکه وه چې د الجزیرې ټلویزیوني چینل تر لاسه کړې وه او د 2002 کال د جنوري په میاشت کې د CNN چینل له خوا خپره شوه.

په دې برخه کې د یوې ننداریزې شیبې یادونه کوو. د دسمبر د میاشتې په 9 نیټه د واشنګټن پوسټ روځپاڼې د یوه نوي فلم شتون څرګند کړ. دا فلم چې د لومړی شمیرې دښمن (اسامه بن لادن) د یوه نماینده اجنټ له خوا لیږل شوی و، د سپټمبر د 11 نیټې د بریدونو په اړه یې د بن لادن غبرګون ښودل او د بریدونو د پلان تر شا یې د ده لاس لرل په پوره ډول یقیني کول. د رویترز خبری آژانس، د یوه ناپیژندل شوي چارواکي له خولې راپور ورکړ چې د القاعدې مشر په فلم کې حتی دا هم ویلي و چې د الوتکو ډیری تښتونکي ځانمرګي نه وو او په دې نه پوهیدل چې یو ځان وژونکی برید تر سره کوي.

د دفاع وزارت مرستیال وزیر پال والفویتز چې د اې بي سي ABC ټلویزیوني چینل د (دا اونی This Week) په پروګرام کې د میلمه په توګه ګډون کړی و په دې اړه داسې وویل: (دا یو ناوړه کار دئ. دغه کس «اسامه بن لادن» د بې ګناه خلکو په وژلو ځان خوشاله کوي او په دې کار ویاړي. دغه فلم ټول هغه شیان تاییدوي چې موږ له مخکې څخه د دغه کس په هکله پرې پوهیدو. په دې کې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی او اریانونکي څه نشته. دا یو تایید دی. زه هیله مند یم چې دغه ویډیویی فلم به په یقینی ډول ټولې هغه دسیسه ګرې مفکورې چوپ کړي چې وایی د دغه بریدونو تر شا د متحده ایالاتو او یا کوم بل چا لاس دی).

نوموړی ویډیویي فلم د 2001 کال د دسمبر د میاشتې په 13 نیټه د پنتاګون له خوا خپور شو. اسامه بن لادن په دغه فلم کې داسې اعتراف کړي و چې د چارواکو له پخوانیو څرګندونو سره یې پوره سمون درلود ؛خو د ډیرو خلکو له نظره له حقیقت څخه ډیرې لیرې وې. د بن لادن د خبرو ځینې مهم ټکي دا وو: (ما فکر وکړ چې د الوتکې د سون توکي به د نړیوال سوداګریز مرکز د برجونو اوسپنیز جوړښت کمزوزئ کړي او دا به د دې سبب شي چې برجونه په خپل ځای باندې پریوزي او ونړیږي. موږ د همدغه شي هیله درلوده. موږ خپله دنده په ښه توګه سر ته رسولې وه. د روځې په پای کې مو رادیو چالانه کړه او کانالونه مو بدل کړل چې له واشنګټن څخه راغلي نوي خبرونه واورو. د خبرونو سرټکي د معمول په څیر تیر شول. د خبرونو تر پایه د بریدونو په اړه هیڅ و نه ویل شول. لږ وروسته د خبرونو ویاند اعلان وکړ چې د نړیوال سوداګریز مرکز له یوه برج سره الوتکې ټکر کړئ دئ. څو شیبې وروسته دوی بیا اعلان وکړ چې یوه بله الوتکه هم له دوهم برج سره لګیدلي ده. زموږ ورونه د دغه خبر له اوریدلو څخه ډیر خوښ وو. زموږ هغه ورونو چې دغه عملیات یې سر ته رسولي وو، یوازې په دې پوهیدل چې دوی به فدایی عملیات تر سره کوي او له همدې امله موږ له دوی څخه غوښتي وو چې امریکې ته لاړ شي؛ خو دوی د بریدونو د جزییاتو په اړه حتي په یوه ټکي هم نه پوهیدل. موږ دوی ښه روزلي و او الوتکو ته د پورته کیدو تر شیبې پورې د بریدونو د عملیاتو په هکله په هیڅ شي نه پوهیدل. کله چې لومړی الوتکه له برج سره ولګیده دوی له ډیرې خوښۍ څخه په جامو کې نه ځایدل او ما دوی ته وویل چې له صبر څخه کار واخلي. د نیویارک له برجونو او د پنتاګون له ودانۍ سره د لومړی او دوهمې الوتکې د لګیدو په مینځ کې 20 دقیقې توپیر و). ( د بهرنیو چارو وزارت د بریدونو په اړه خپره شوې اعلامیه تر جوړونې وروسته، د ضمیمې سره یو ځای بیا خپره شوه).

د بن لادن په نامه دغه اجنټ، نه یوازې د ځانمرګو پیلوټانو د ډلې، د اور په واسطه د برجونو د نړیدو او د پنتاګون له ودانۍ سره د الوتکې د لګیدو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



درواغي کيسي څخه ملاتړ وکړ، بلکه د شواهدو له شتون څخه يې هم انکار وکړ. دغه ويډيويي فلم له اوامرو څخه د پيروۍ سره سم په لاندې ټکو پای ته رسيده: ( دوی «امريکايان» ډير ويريدلي وو او فکر يې کړی وو چې کودتا شوې ده).

پورتنۍ څرګندونې بل چا نه، بلکه د متحده ايالاتو لومړی دښمن (اسامه بن لادن) کړې وې !

د سپتمبر د 11 نيټې د بريدونو په سر ته رسولو باندې د پيژندل شوي مجرم يا اسامه بن لادن ملامتول يوه عادي خبره وه؛ ځکه ده د داسې بريدونو مسوليت هم منلئ و چې هيڅ پيښ شوي نه و؛ خو اوس پوښتنه دا ده چې آيا بن لادن په رښتيا هم له سي آی آې CIA سره اړيکې شلولې دي او آيا په رښتيا هم هغه اوس د متحده ايالاتو لومړی دښمن دئ او که نه ؟

له کال 1987 څخه تر 1998 پورې، د علي محمد په نامه يوه مصري د القاعدې د ډلې د جګړې د واحدونو مشري په غاړه درلوده او په دې سربيره يې د متحده ايالاتو له پوځ سره هم اړيکې درلودې. علي محمد په يوه وخت کې هم د جې اف کې JFK په نامه د جګړو په ځانګړی مرکز او ښوونځي کې زده کړه ورکوله او هم يې په همدغه ځای کې د نفوذ د ډيرو پټو شبکو غړي، د شبکو مرکزي غړي او د متحده ايالاتو د ځانګړی پوځ افسران روزلي وو (بنجامين ويزر او جيمز رايزن د اورپکې د پټولو تر نامه لاندې، د دغه کس په هکله په نيويارک ټايمز روځپانه کې د 1998 کال د دسمبر د مياشتې د 1 نيټې په ګڼه کې مقاله ليکلې ده). د امريکا د پټو خدماتو او استخباراتو د ادارې سختو امنيتي اقداماتو ته په کتنې سره چې په دوامداره توګه د خپلو اجنټانو څارنه کوي، آيا څوک به دا فکر وکړي چې علي محمد به پرته له دې چې ژر وپيژندل شي په يوه وخت کې هم د امريکا په پوځي اډو او هم په افغانستان او سوډان کې د القاعدې په کمپونو کې کار وکړئ شي؟ د علي محمد نيونه (ګرفتارول) چې د 1998 کال په آخر کې رسنۍ هم پرې خبرې شوې، د دې حقيقت د پټولو له پاره کافي نه ده چې د القاعدې ډله او جنګيالي د امريکا مرکزی دولت جوړ او روزلي وو او په همدې اساس بن لادن هم تر 1998 کال پورې له سی آی اې CIA سره کار کولو ته ادامه ورکړه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې سربیره هر عاقل انسان په دې پوهیږي چې د بن لادن کیسه داسې یوه ده چې د سي آی اې CIA په واسطه په ډیر ظرافت جوړه شوې ده. آیا کیدای شي موږ په دې باور وکړو چې بن لادن وکولای شوای د څو جنګیالیو په واسطه د نړۍ تر ټولو ځواکمن پوځ له سومالیا څخه وشړي؟ او یا کیدای شی موږ په دې باور وکړو چې د نایروبي او دارالسلام بریدونه د امریکا په ضد وو؟ په داسې حال کې چې په دارالسلام کې د وژل شوو 11 تنو څخه یو هم امریکایی نه و او په نایروبي کې له 213 وژل شوو کسانو څخه یوازې 12 امریکایان وو. هر چا چې دغه بریدونه سر ته رسولي وو، په دې یې هم فکر کړئ و چې د بریدونو ملامتیا په چا باندې واچوي.

په حقیقت کې سی آی اې CIA د پخواني شوروي اتحاد د دوران په شان د روسیې د نفوذ د مخنیوي له پاره د بن لادن له خدمتونو څخه ګټې اخسیتنو ته دوام ورکړ؛ ځکه امریکا د سړې جګړې ګټونکې ډله وه. له همدې امله په کال 1999 کې د القاعدې د ډلې د عربو جنګیالیو یو غونډ کوسوو ته لیږل شوی وو چې د بلګراد د دیکتاتور نظام په خلاف د کوسوو له یاغیانو سره مرسته وکړي. د نیویارک ټایمز په وینا دغه غونډ د 2001 کال تر نومبر میاشتې پورې په چیچنیا کې هم فعال و. له متحده ایالاتو سره د بن لادن دښمنۍ له واشنګټن سره مرسته وکړه چې د جوړو شوو ګډوډیو تر شا د خپل مسولیت له منلو څخه انکار وکړي.

د سي آی اې CIA او بن لادن تر مینځ اړیکې په 1998 کال کې نه وې خرابې شوې. اسامه بن لادن چې سخت ناروغه و، په متحده عربي اماراتو کې د دوبي امریکایی روغتون ته د درملنې له پاره تللی و او د 2001 کال د جولای د میاشتې له ۴ څخه تر 14 نیټې پورې هلته بستر شوی و. د دغه مودې په ترڅ کې د اماراتو او سعودي د نامتو څیرو د کورنیو غړي د نوموړي لیدو ته راغلل. په همدغه موده کې د سي آی اې CIA د ادارې استازی چې ډیر خلک یې پیژني، په هغه لفت (Elevator) کې لیدل شوی و چې د اسامه بن لادن خونې ته تلو. د سپتمبر د 11 نیټې د ترهګرو بریدونو څخه یوه شپه مخکې اسامه بن لادن په پاکستان کې و او د پښتورګی د Dialysis د ناروغۍ له امله د راولپنډۍ په یوه پوځي روغتون کې بستري شوی و. د سي بي اس CBS د ټلویزیوني چینل خبریال

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې هکله د 2002 کال د جنورې په 29 د دغه روغتون د يوه کارکوونکي له خولې وليکل چې هغه په خپلو سترګو اسامه بن لادن هلته ليدلی و.

هغه کس چې د امريکا او اسراييلو په خلاف د جهاد اعلان کوي، هغه کس چې اف بي آی FBI يې په سر د 5 مليونه ډالرو (اوس – اوس 25 مليونه ډالره) انعام ايښئ دی او هغه کس چې د روزنې کمپونه يې په کروز Cruise توغنديو ويشتل شوي وو، د دوبی په امريکايی روغتون کې معالجه کيږي، په هماغه روغتون کې د سي آی اې CIA له سيمه ايز مشر سره خبرې اترې کوي او بيا يې په راولپنډۍ کې د پاکستاني پوځ تر ساتنې لاندې د پښتورګی د ناروغۍ معاينه تر سره کيږي!

په دغه چالاکيو کې اسامه بن لادن ته نژدې کسان او د القاعدې ځينې جنګيالي هم شامل دي. د بيلګې په توګه د امريکايی چارواکو له وينا سره سم، په سوډان کې د الشفا لابراتور د بن لادن په واسطه د کيمياوي وسلو د جوړولو له پاره کاريده او له همدې امله د متحده ايالاتو د هوايی ځواک له خوا په کال 1998 کې بمبار شو؛ خو کله چې نړيوالو څيړونکو د دغه لابراتوار ورانې وليدې؛ نو وې ويل چې په دغه لابراتور کې د اسپرين پرته بل څه شی نه جوړيدل او له همدې سره يې د امريکايی چارواکو څرګندوې رد کړې. د يادونې وړ ده چې اسامه بن لادن او صلاح ادريس د دغه فابريکې شريک مالکان وو. له دې وروسته سي آی اې CIA وويل چې په دغه فابريکه کې کيمياوي وسلې په بل ډول جوړيدې او همدا راز يې صلاح ادريس په دې تورن کړ چې د مصر له اسلامي جهادي ګروپ سره مالي مرسته کوي. له همدې امله د نوموړي کس ټولې مالي شتمنۍ کنګل شوې؛ خو د 1999 کال د مي په مياشت کې لګول شوي بنديزونه په چوپتيا سره بيرته ليرې شول. نن روځ دغه (ترهګر) صلاح ادريس د آی اي اس ډيجيټل سيستمز IES Digital Systems د شرکت 75% برخې (اسهام) او د پروتيک Protec د شرکت 20% مالک دی او دا هر څه د نړيوالو بيمو د شرکتونو له لارې تر سره کوي. مهمه خبره دا ده چې د آی اي اس ديجيټل سيستمز IES Digital Systems اوس – اوس د بريتانيا د دولت د نظامي اډو د ويډيوي څارنې مسوليت په غاړه لري. دا خبر د بارون کوکس Baron Cox په نامه يوه کس اروپايی اتحاديې ته څرګنده کړې ده. په دې سربيره د پروتيک شرکت د بريتانيا د يوولسو اتمي بټيو امنيتي څارنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد عطا یا هغه څوک چې اف بي آی FBI يې د القاعدې په استازيتوب او د سپټمبر د 11 نيټې د بريدونو په لارښونه تورنوي او د دوی له څرګندونو سره سم د نوموړي بانکي حساب د عملياتو د لګښتونو د ورکړې له پاره کارول شوی و، د پاکستان د آی اس آی ISI استخباراتي ادارې اجنټ و. دا خبر ټولو ته د لمر په شان روښانه ده چې نوموړې اداره د سي آی اې CIA د يوې څانګې په توګه کارول کيږي. د ټايمز آف انډيا Times of India هندې روځپاڼې په وينا د آی اس آی ISI مشر، جنرال احمد محمود د 2001 کال په جولای کې د محمد عطا بانکي حساب ته 5000 امريکايی ډالر استولي وو (د 2001 کال د اکتوبر د 9 نيټې ګڼه)؛ خو سره له دې نوموړو شواهدو په امريکا کې حتي يوه پوښتنه هم ولاړه نکړه. له دې وروسته په جنرال محمود باندې فشارونه ډير شول چې تقاعد واخلي او خپل ځای ناستی هم په خپله خوښه وټاکي.

هغه ګامونه چې متحده ايالاتو د اسامه بن لادن په وړاندې اخيستي دي د قناعت وړ نه دي. په دې مانا چې هغه 75 کروز Cruise توغنديو چې په افغانستان کې د القاعدې کمپونه او په سوډان کې د الشفا لابراتور پرې وويشتل شول، يوازې 21 اسلامي جنګيالي ووژل. که پورتني وژل شوي 21 کسان، د توغنديو له شميرې او ارزښت او په نايروبي او دارالسلام کې کې د 298 وژل شوو کسانو له شميرې سره پرتله شي؛ نو هيڅ شی دی (کروز Cruise يا بي جي ام 109 ټامهاک BGM-109 Tomahawk توغندي د جنرال ډايناميکس General Dynamics او مک ډونل دوګلاس McDonnel Douglas شرکتونو په واسطه جوړ شوي دي. د امريکا د پوځ له پاره د دغه ډول توغنديو ارزښت له 600 زره ډالرو څخه نيولې تر 1.2 مليونه ډالرو پورې دی. د پورتنيو شميرو په اساس، په افغانستان او سوډان باندې يوازې د وشتل شوو توغنديو ارزښت له 45 څخه تر 90 مليونه ډالرو پورې و).

د اوتاوا د پوهنتون استاد پروفيسور مايکل چوسودوفسکی په يوه کاناډايی ويبپاڼه کې داسې ليکلي و: (د سړې جګړې له کلونو څخه راهيسې، واشنګټن په پوره ډول د اسامه بن لادن ملاتړ کړی دی؛ خو په عين حال کې يې هغه د نړې د تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو لوی ترهګر په توګه د اف بی آی FBI په تور لیست کې اچولی دی. په داسې حال کې چې مجاهدین په بالکان او د پخواني شوروي اتحاد په جمهوریتونو کې د امریکا د جګړې د ګټلو هڅه کوي، اف بی آی FBI د متحده ایالاتو د پولیسو د ځواک په توګه د ترهګرۍ په وړاندې کورنۍ جګړه پر مخ بیایی. اف بی آی FBI د دغه جګړې د پر مخ بیولو له پاره مجبوره نه ده چې د سی آی اې CIA یا د هغه ادارې تر امر لاندې کار وکړي چې د افغانانو او سره پوځ له جګړې وروسته یې د پټو عملیاتو په واسطه د نړیوالې ترهګرۍ څخه پراخ ملاتړ کړی دی).

له یوې خوا اسامه بن لادن د متحده ایالاتو دښمن نه؛ بلکه یو اجنټ دی او له بلې خوا ده له خپلې کورنۍ سره چې د جورج بوش د کورنۍ سوداګریز شریکان دي، هیڅ وخت اړیکې نه دی شلولې.

موږ مخکې د دې موضوع ذکر وکړ چې د سعودي بن لادن ګروپ SBG مالي څانګې د کارلایل ګروپ Carlyle Group له خوا اداره کیږي.

د کارلایل ګروپ Carlyle Group شرکت چې په کال 1987 کې جوړ شوی، اوس – اوس د 12 میلیارډه ډالرو پانګه اداره کوي. دغه شرکت د سیون اپ Seven-up د څښاک په شرکت، فدرال ډیټا کارپوریشن (دې شرکت د امریکا د هوایي چلند د ادارې له پاره د هوایی ترافیک د څارنې سیستم جوړ کړی دی) او د یونایټد ډیفینس فابریکو په شرکت (دا شرکت متحده ایالاتو، ترکیې او سعودي عربستان د پوځونو لوی تجهیز کوونکی دی) کې لویې برخې (اسهام) لري. کارلایل ګروپ د هغه شرکتونو له لارې چې تر خپلې ولکې لاندې یې لري، د امریکا د پوځ یوولسم لوی برابرونکی دی.

په 1990 کال کې د کارلایل په ګروپ د غلاوو او شکونو تور ولګید او دعوه پرې وشوه. په دې مانا چې د جمهوري غوښتونکو د ګوند یوه ملاتړي واین بیرمان Wayne Berman په ټولټاکنو کې د بوش د کمپاین له پاره، د تقاعد له حسابونو څخه پیسې ګرځولې وې او له دې پیسو څخه یې یو ملیون ډالر کارلایل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګروپ ته په دې موخه ورکړې وو، چې د راګرځول شوو پيسو له پاره يو جعلي ترون لاسليک کړي.

د نوموړو مالي زيرمو مشري د فرانک کارلوچي Frank C. Carlucci (د سی آی اې CIA پخوانی مرستيال مشر او وروسته د دفاع وزير) په غاړه وه، په داسې حال کې چې د دغه جنرال مشاورين دريم جيمز بيکر James A. Baker III (د ولسمشر ريګن د دوران د پوځ لوی درستيزوال، وروسته د خزانې وزير او بيا د زاړه بوش د ولسمشرۍ پر مهال د بهرنيو چارو وزير) او ريچارد دارمن Richard Darman (د بودجې پخوانی مشر) وو. په نړيواله کچه د پورتني مالي صندوق د وړاندې کولو له پاره د کارلايل ګروپ د جان ميجر John Major (د بريتانيا پخوانی لومړی وزير) او جورج ايچ ډبليو بوش (د سی آی اې پخوانی مشر او وروسته د متحده ايالاتو ولسمشر) له خدمتونو څخه ګټه پورته کوله.

د کارلايل ګروپ د آمرينو په نوم لړ کې د (سمی مبارک بارما Sami Mubarak Baarma) چې د خالد بن محفوظ قانونی استازی دی او (تالات عثمان) نومونه د يادولو وړ دي. دې دوه کسانو د متحده ايالاتو له ولسمشر سره نژدې اړيکې درلودې.

جورج ډبليو بوش چې پخوا د (هرکان) د انرژي د شرکت Harken Energy Corporation (دا شرکت په اصل کې د اربوستو په نوم يادېده) مشر و، خپله شتمني د همدې شرکت د معاملو له لارې ډېره کړه. د تکزاس د ايالت د تيلو نوموړي کوچني شرکت د هغه تړونونو په واسطه چې د پخوانی ولسمشر بوش (د جورج ډبليو بوش پلار) په وخت کې لاسليک شوي وو، د بحرين د هيواد د نفتی زيرمو امتيازونه تر لاسه کړل. دغه عمل په خپل ځان کې يو غير قانونی کار بلل کيږي.

خالد بن محفوظ د هرکان په شرکت کې د 11.5% په اندازه مالي برخه درلوده. په شرکت کې د خالد ټول استازيتوب د عبدالله (طاحا بخش) په غاړه و او (داب طلعت عثمان) د شرکت د ادارې برخې مسول و. په همدې حال کې د هرکان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرکت په مشرتابه هيات کې د اسامه بن لادن د مشر ورور استازيتوب د هغه د امريکايی استازي جيمز بت James R. Bath په غاړه و.

دا کوچنۍ ډله (د بوش کورنۍ، د دوی سياسي پور ورکونکي، د دوی مالي شريکان او سي آی اې) حتي په دې هم نه توانيده چې خپل کارونه په ښه توګه پر مخ بوزي؛ ځکه چې دوی د هغه لويې بانکي رسوايی مرکزي مسولين وو چې پايله يې د پورونو او سوداګرۍ د نړيوال بانک يا بی سي سي آی ( Bank of Credit & Commerce International) له مينځه تلل وو.

د پورونو او سوداګرۍ نړيوال بانک (بی سی سی آی) يو انګلو-پاکستاني (ګډ انګريزی او پاکستانی) بانک و چې په 63 هيوادونو کې يې څانګې درلودې. دغه بانک د لاندې دريو لويو کورنيو په واسطه جوړ شوی وو: د پاکستان ګوکلز Gokals، د سعودي عربستان د بن محفوظ کورنۍ او د ابوظبۍ د غيث فارون Geith Pharons کورنۍ.

رونالد ريګن دغه بانک د ايران دولت ته د رشوت ورکولو له پاره وکاروه چې په تهران کې د متحده ايالاتو د سفارت د يرغمل شوو کارکوونکو آزادي پرې وځنډوي او په دې سره د کارتر ولسمشرۍ ته د پای ټکی کيږدي (دا عمليات د اکتوبر د حيرانۍ په نامه ياديږي). د نوموړي بانک له خدمتونو څخه د دوهم ځل له پاره د سي آی اې CIA د پخوانی مشر او د وخت د مرستيال ولسمشر بوش ( د جورج بوش پلار) په ټينګار بيا هم ګټه واخيستل شوه. په دې مانا چې دې بانک د سعودي د مرستو پيسې نيکاراګوا ته او د سي آی اې پيسې د افغانستان مجاهدينو ته استولې. په دې سربيره د بي سي سي آی BCCI بانک د وسلو د معاملو او د (ابو ندال) د ډلې د مالي ملاتړ په شان په ډيرو نورو کارونو کې ښکيل و. د دغه بانک د پرځيدو لامل د ميديلين ډلې له پاره د تورو پيسو سپينول وو او له مينځه تلو سره يې د نژدې يو مليون کسانو پر مخ د بانک دروازې وتړل شوې.

دا چې د بي سي سي آی بانک اداره د پيسو په واسطه اخيستل کيدای شوای او يا دا چې دا بانک په خپله د سي آی اې CIA لخوا جوړ شوی و، کومه عجيبه خبره نه ده. د متحده ايالاتو په استخباراتو کې له پخوا څخه د بانکدارۍ رواج شته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سي آی اي CIA دوه پخوانیو مشرانو ریچارد هیملز Richard Helms او ویلیم کیسي William Casey او د نوموړې ادارې دوه نامتو اجنټانو یعنې (عدنان خاشوګي) او (منوچهر قربانیفر) په شان کسانو، د بي سي سي آی بانک له پاره کار کړی دی. که دغه موضوع لږ نوره هم تعقیب شي نو د کمال آدم (د شاه فیصل اوښی او تر 1977 پورې د سعودي د استخباراتو مشر)، شهزاده ترکی الفیصل (له کال 1977 څخه تر 2001 پورې د سعودي د استخباراتو مشر او د اسامه بن لادن ښوونکی) او عبدالروف خلیل (د سعودی د استخباراتو مرستیال مشر) نومونه به هم ولیدل شي.

د یادونې وړ ده چې د بي سي سي آی بانک د فرانسې د ننه هم په ځینو برخو کې مهم رول لوبولی دی. د بیلګې په توکه دغه بانک پاکستان ته د امریکایی او فرانسوي اتمي تکنالوژۍ د لیږلو پروسې ته د بلې بنې په ورکولو کې مرسته وکړه او د یرغمل شوو کسانو د آزادیو په وړاندې یې پیسې ورکولې. بله بیلګه دا چې د دومینیک سانتیني Dominique Santini په نامه یو سوداګر چې د فرانسې د کورنیو چارو له وزیر (چارلز پاسکا Charles Pasqua) سره یې نژدې اړیکې درلودلې، د بي سي سي آی په بانک کې د خپل رول له امله له هیواده وشړل شو. د بانک له مینځه تلو څخه دری کاله وروسته، د دغه بانک پخوانی مشر د دوهم ساواري Sawari-II (د سعودي عربستان بحري ځواکونو ته د عصري جنګي بیړیو د پیرودلو تړون) د تړون د لاسلیکولو په پروسه کې د منځګړي دنده په غاړه واخیسته او داسې یو کمیسیون یې جوړ کړ چې په فرانسه کې د (ایدوارد بالادور) له ولسمشریز کمپاین سره مالي مرسته وکړي.

د بي سي سي آی بانک له سیکو SICO شرکت سره چې په سویس کې د سعودي بن لادن ګروپ یوه څانګه ده، نژدې اړیکې درلودې، ځکه چې د اداري ډلې په مینځ کې یې د اسامه بن لادن د ورور سالم نوم لیدل کیده.

خالد بن محفوظ چې د دغه بانک د ناکامۍ مسول ګڼل شوی و، په 1992 کې په متحده ایالاتو کې محاکمې ته وړاندې شو. هغه وکړای شول چې په کال 1995

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د 245 ملیون ډالرو په ارزښت د یوه معاملې د سپینولو سربیره، په ځان باندې لګیدلي ټول تورونه غلط ثابت کړي.

د پورتنیو حقایقو په رڼا کې او د ګڼو امریکایی چارواکو له وینا سره سم د بن لادن کورنۍ تر اوسه هم له اسامه سره اړیکې لري، د هغه له سیاسي فعالیتونو سره مالي مرسته کوي او د کارلایل ګروپ شرکت چې د سعودي بن لادن ګروپ مالي څانګې اداره کوي، په یقیني ډول په پټو سوداګریزو معاملو کې ښکیل دی. له همدې امله زوړ جورج بوش (د جورج ډبلیو بوش پلار) د 2001 کال د سپټمبر د ۱۱ نیټې د مانورونو یو بختور ګټونکی و. اف بي آی FBI او د بیمو د نړیوال کمیسیون IOSCO هم له همدې وجې د څیړنو د پرمختګ مخنیوی کړی و.

**نـهم څپرکۍ: د اړیکو دوام**

د 2001 کال د اکتوبر د میاشتې په 7 نیټه جورج ډبلیو بوش یوه ریښتوني ټلویزیوني وینا وکړه. د ده وینا د سپینې ماڼې له ګردي دفتر څخه نه بلکه د (ټرون) له خونې څخه خپریده. په هغه روځو کې هغه جګړه چې متحده ایالات یې غوښتونکي و، پیل شوې وه.

ده خپله وینا داسې پیل کړه:
(ماسپښین مو په خیر. د متحده ایالاتو پوځ زما په امر په افغانستان کې د ننه د القاعده د ډلې په روزنیزو کمپونو او د طالبانو د رژیم په پوځي جوړښتونو باندې بریدونه پیل کړي دي. زموږ په دقت پلان شوي اهداف به افغانستان د ترهګرو له منګولو څخه وژغوري او د طالبانو د رژیم په پوځي وړتیاوو باندې به برید وکړي.

په دغه عملیاتو کې زموږ کلک ملګري یعنې بریتانیا له موږ سره ملګرې دی. زموږ نورو ملګرو لکه کاناډا، استرالیا، جرمني او فرانسې ژمنه کړې چې د عملیاتو له پرمختګ سره سم به خپل ځواک له موږ سره شریک کړي. په منځني ختیځ، افریقا، اروپا او آسیا کې له 40 څخه ډیرو هیوادونو موږ ته د دوي د فضا او هوایی ډګرونو کې د استفادې حق راکړی دی. ډیرو نورو هیوادونو له موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره خپل استخباراتي معلومات شریک کړي. د نړۍ ډله ایز ملاتړ اوس له موږ سره مل دی.
نژدې دوه اونۍ وړاندې ما د طالبانو مشرانو ته څو ځانګړي او سپیني غوښتنې وسپارلې: د ترهګرو کمپونه وتړئ، د القاعده شبکې مشران وسپارئ او د امریکایی اتباعو په ګډون ټول هغه بهرني اتباع ستانه کړئ، چې ستاسو په هیواد کې په غیر قانوني ډول نیول شوي. زموږ دغه غوښتنې نه دي منل شوې او اوس به طالبان دا تاوان ګالي.
د افغانستان مظلوم خلک به د امریکا او د هغه د متحدینو سخاوت ویني. موږ به د خپلو پوځي بریدونو د تر سره کولو په درشل کې له هوا څخه د افغانستان وږو او کړیدلو نارینه وو، ښځو او ماشومانو ته دارو او خوراکي توکي وغورځوو.
امریکا د افغانانو ملګرې ده او موږ د نړۍ په ګوټ – ګوټ کې د نژدې یو میلیارد مسلمانانو ملګري یو. د امریکا متحده ایالات د هغه چا دښمنه ده چې له ترهګرو او وحشي مجرمینو سره مرسته کوي او د وژنو په تر سره کولو سره د نړۍ یو لوی مذهب ته سپکاوي کوي.
موږ دا شی نه و غوښتی؛ خو موږ به یې سر ته رسوو).

توني بلیر د لندن د ښار له لسم ډاونینګ سړک څخه د بریتانیا خلکو ته وینا وکړه. هغه د وینا په ترڅ کې تایید کړه چې د لویې ملکې پوځونه به له امریکایانو سره په ګډه په جګړه کې برخه اخلي.

د الجزیرې ټلویزیوني چینل، په داسې حال کې چې په کابل باندې د ګولیو باران وریده، د اسامه بن لادن ثبت شوی ویډیویی غبرګون خپور کړ. د اسامه بن لادن وینا په دې ډول وه:
(الله پاک امریکا په یوه حساس ځای کې ټپي کړې ده. موږ د خدای شکر کوو چې د امریکا تر ټولو ښې ودانۍ یې ونړولې. امریکا له ختیځ څخه نیولې تر لویدیځه او له جنوب څخه تر شماله پورې په ویره کې ډوبه ده او موږ له دې کبله هم د خدای شکر ادا کوو. خدای د مسلمانانو د داسې یوې ډلې لارښونه کوي چې د نورو مسلمانانو مشرتوب یې منلی دی. موږ خدای ته دعا کوو چې د نوموړو کسانو درجې لوړې کړي او جنت فردوس کې ورته ځای ورکړي. امریکایی چارواکو د بې دین بوش په مشرۍ اوس خپل ځواکونه د هغه هیوادونو په وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جګړې له پاره خوځولي دي چې د مسلمانۍ [دعوا] کوي. دوی د داسې یوې ډلې په وړاندې جګړې ته راوتلي دي چې په خپل دین باندې ولاړ دي او د دې نړۍ ژوند ته ارزښت نه ورکوي. دوی د ترهګرۍ په پلمه غواړي له اسلامي نړۍ سره وجنګیږي. دغه پېښو ټوله نړۍ په دوه برخو ویشلې ده. یوه یې هغه برخه ده چې خلک یې مذهب لري او دوه مخې نه دي او بله برخه یې هغه کافران دي چې خدای دې موږ ترینه وساتي. هر مسلمان باید له خپل دین، مذهب او د خپل پیغمبر له نړۍ څخه دفاع وکړي. زه امریکا ته په واضحو الفاضو وایم چې زما دې په خدای قسم وي چې امریکا به تر هغه پورې په سوله کې ژوند ونکړي، تر څو چې په فلسطین کې سوله نه وي راغلې او تر هغه چې له سپېڅلو خاورو څخه د لویدیځو بې دینانو پوځونه نه وي وتلي).

د ولسمشر بوش او د سي آی اې CIA د اجنټ، اسامه بن لادن دغه ټلویزیوني ویناوو ثابته کړه چې د افغانستان برید د سپتمبر د 11 نیټې د بریدونو ځواب دی او د دوی اړیکې بیرته له سره پیل شوې دي.

د پخواني شوروي اتحاد له منځه تلل او د منځنۍ آسیا د هیوادونو خپلواکۍ، یوه لویه لوبه بیرته پیل کړې وه (د لویې لوبې نوم په ډیرو ځایونو کې د تیلو په سر د شخړو مانا ورکوي).

جورج ډبلیو بوش سپینې ماڼې ته تر ننوتو وروسته د تیلو د سوداګرۍ لوړپوړي کسان په خپل دولتي ټیم کې په کار وګومارل. په دې کسانو کې (کاندولیزا رایس) چې پخوا یې د شیفران تیکساکو Chevron-Texaco د تیلو د کمپنۍ مشري کوله (آغلې رایس تر هغه چې د متحده ایالاتو د ملي امنیت مشاوره وټاکل شوه، د شیفران د شرکت مدیره وه. شیفران د ایسو ستندرد Standard Esso په نامه د هغه شرکت نوی نوم دی چې بنسټ یې جان راکفیلر John D. Rockefeller ایښودلی و. د 2001 کال د اکتوبر په 9 نیټه د شیفران او تکساکو شرکتونه سره یو ځای شول. دغه شرکت د 124 میلیارده یورو پانګې په درلودلو سره له ایکسان موبیل څخه وروسته چې 242 میلیارده یورو پانګه لري، د امریکا دوهم لوی شرکت دی)او د کورنیو چارو وزیر (ګیل نارتون Gale Norton) چې د بي پی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اموکو BP Amoco کمپنۍ او د سعودي عربستان د دلتا آیل Delta Oil په کمپنیو کې یې دنده درلوده (بي پي اموکو BP Amoco د ۱۵۷ بلیون ایرو پانګې په درلودلو سره د نړۍ د تېلو دریمه لویه کمپنۍ ده) شامل وو. د ولسمشر بوش مرستیال (ډیک چیني) چې پخوا د هالیبورتون Halliburton په نامه د تیلو ایستلو د سامان آلاتو د برابرولو د یوه لوی شرکت مشر و، د ملي انرژۍ د سیاسي پرمختګ په نامه یو هیات جوړ کړ. د دغه هیات غونډې فوق العاده پټې جوړېدې، د ګډونوالو نوملړ یې لا هم د متحده ایالاتو ډېر پټ دولتي راز دی او د غونډو په مهال د جزییاتو لیکلو ته اجازه نه ورکول کیده. د دغه پلاوي غونډې دومره پټې وې چې د واشنګټن پوسټ روځپاڼې به ورته د پټې ټولنې خطاب کاوه.

ډیر مبصرین چې د اینران Enron په نامه د نفتو د تر ټولو لویې دلالي کمپنۍ په کمزورۍ باندې نه پوهیږي، په دې آند دي چې د ډیک چیني په مشرۍ د پورته ذکر شوي پلاوي د غونډو موضوع د کسپین د سمندرګي د هایدروکاربون سرچینو ایستل و؛ خو ستونزه دا وه چې څرنګه کیدای شي دا کار له ایران او روسیې سره له جوړ جاړي پرته تر سره شي. امریکا غواړي چې له کسپین سمندرګي څخه تر مدیترانې پورې داسې یو نل لیکه جوړه کړي چې له آذربایجان، ګرجستان او ترکیې څخه تیره شي ( دا پروژه د بي تي سي BTC یعنې باکو، تبلیسي او سیهان په نامه نومول شوې ده). په عین حال کې دوی غواړي داسې بله نل لیکه چوړه کړي چې له کسپین څخه به تر تورې بحیرې پورې غځیږي؛ خو له بده مرغه دا نل لیکه باید د روسیې له لارې تیره شي چې مالیه یې ډیریږي. دا نل لیکه تینګیز Tengiz او نوفروسیسک Novorossisyk سره نښلوي او د 2001 کال د نومبر په 27 نیټه په رسمي ډول پرانیستل شوه.

د پلان له مخې دریمه او تر ټولو ارزښتمنه نل لیکه به کسپین د هند له سمندر سره ترله. دا نل لیکه د یونیکال UNOCAL په نامه د یوه شرکت پروژه وه چې د دلتا آیل Delta Oil شرکت په مرسته یې پر مخ بیوه. یونیکال د پورتنۍ پروژې د پیلولو له پاره تر هر څه لومړی د ترکمن ګاز، ګازپروم او دلتا آیل غونډې لویو شرکتونو سره په ګډه د منځنۍ آسیا د ګاز (سنترال اشیا ګاز Central Asia Gas یا سینت ګاز CentGas) په نامه یو کنسرسیوم جوړ کړ او له دې وروسته یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلتا آيل (سعودی عربستان)، د ترکمنستان دولت، د اندونیزیایی نفتو د شرکت INPEX، د جاپاني شرکت ایتوچو ITOCHU، کوریایی شرکت هیوندای Hayundai او پاکستاني شرکت کریسنت سره په ګډه د منځنۍ آسیا د تیلو د نل لیکې پروژه پیل کړه. د دغه پروژې په مخ کې مهمه ستونزه دا وه چې دا نل لیکه به نه یوازې له پاکستان بلکه د افغانستان له خاورې څخه هم تیریده. په افغانستان کې د شوروي اتحاد له ماتې وروسته څو ډوله دولتونه تللی او راغلي وو. د 1997 کال په دسمبر میاشت کې د یونیکال شرکت د طالبانو د محدویتونو او ناپوهۍ له وجې د خپلې پروژې کارونه کم کړل. که څه هم چې د دغه کمپنۍ مشر (جان مریسکا John J. Maresca) د افغانستان له پاره د متحده ایالاتو سفیر وټاکل شو؛ خو سره له دې د پروژې پرمختګ له هغه وروسته په ټپه ودرید.

له طالبانو سره د خبرو اترو د بیا پیل په موخه د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر کولن پاول د طالبانو رژیم ته د 43 میلونه ډالرو مرسته تصویب کړه چې د مخدره موادو کروند ګرو ته د تریاکو د نه کرلو په بدل کې ورکړل شي. د جی 8 (د نړۍ 8 ستر صنعتي هیوادونه) له ګډونوالو هیوادونو څخه د اجازې د تر لاسه کولو وروسته چې هند پکې د کتونکي په توګه برخه اخیستې وه، په برلین کې د جرمني په کوربه توب څو اړخیزه خبرې اترې پیل شوې. د خبرو اترو په دې پروسه کې متحده ایالاتو، بریتانیا، پاکستان، افغانستان او روسیې برخه اخیستې وه. جرمني هم له دې امله چې د ملګرو ملتونو له خوا یې د افغانستان د حالاتو د څارنې دنده په غاړه درلوده او د خبرو اترو کوربه و، په دغه غونډه کې برخه درلوده. له بده مرغه د غونډې ګډونوال په دې نه پوهیدل چې له کومو افغانانو سره خبرې اترې وکړي. یوې خوا ته د ولسمشر رباني په مشرۍ د نړیوالو له خوا په رسمیت پیژندل شوی د افغانستان دولت و چې د هیواد په نژدې ۵ فیصده برخه  واکمن و او بلې خوا ته د طالبانو اسلامي امارت و چې د منځنیو پیړیو د مفکورو سره سم د مذهبي مشرانو له خوا اداره کیده. په پای کې پریکړه وشوه چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د پریکړې په خلاف چې له طالبانو سره یې د هر ډول معاملو مخنیوی کاوه، طالبان د خبرو اترو له پاره  وغوښتل شي. د طالبانو چارواکو چې د جرمني اصلي ویزې ورسره وې له خپل سفر څخه لا زیاته ګټه پورته کړه او په هامبورګ کې یې له خپلو پلویانو څخه پیسې ټولې کړې او وعظونه یې وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طالبانو په هکله ویل کیدل چې دوی د سني مذهب پیروان دي، د وروګلوئ په اصولو ولاړ او په دې عقیده دي چې اسلامي قوانین باید بیرته د پخوانیو پیړیو په شان عملي شي. د دوی مشران د شوروي په وړاندې د جګړې تجربه لرونکي کسان وو چې هر یو یې ټپونه درلودل. دوی د یوه ملا یعني ملا عمر مشرتوب منلی و. ملا عمر په خپل ټول ژوند کې بهر ته سفر نه و کړی او حتی د خپل هیواد له 2/3 برخو سره یې آشنایی نه درلوده. له افغانستان څخه د شوروي اتحاد د پوځونو وتلو څخه وروسته، د را مینځ ته شوو ګډوډیو په درشل کې طالبانو د قومي یووالي په راوستو کې لوی رول ولوباوه. د پاکستان د استخباراتي ادارې آی اس آی ISI د مشرانو په شان د طالبانو ډیر مشران پښتانه وو.

ملا عمر خپل ځان مذهب ته د وفادار قوماندان په توګه اعلان کړ او داسې یو امارت یې جوړ کړ چې یوازې د پاکستان، سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو له خوا په رسمیت پیژندل شوی و. د طالبانو مشرانو چې په نړیوالو اړیکو کې یې هیڅ ډول زده کړه او روزنه نه وه تر لاسه کړې، له خپلو هغه امریکایی ملګرو سره په تماس کې شول چې د هغوی په مرسته دوی د شوروي اتحاد له پوځونو سره جنګیدلي وو. په ملګرو ملتونو کې د طالبانو استازیتوب د (لیلي هیلمز) په نامه یوې امریکایی میرمن چې د سي آي آې د پخواني مشر (1966 – 1973) (ریچازد هیلمز) خورزه وه، کاوه. طالبانو تر خپلې ولکې لاندې سیمو کې سخت قوانین عملي کول، ښځې یې جلا کړې وې او کفر ممنوع و. دوی له ډیر صبر وروسته په افغانستان کې د تریاکو د کرکیلې دود منع اعلان کړ او له دې سره یې د خپل عاید یوه لویه سرچینه له لاسه ورکړه. د طالبانو مذهبي ډلې د خپل هیواد ډیره برخه د اسامه بن لادن په واک کې ورکړې وه.

طالبانو چې له سیاسي پروتوکولونه سره یې ډیره آشنایی نه درلوده، هڅه وکړه چې د افغانستان له خاورې د نل لیکې د تیریدو په بدل کې په نړیواله کچه په رسمیت وپیژندل شي؛ خو کله چې دوی ولیدل غوښتنه یې نه منل کیږي او ملګري ملتونه په افغانستان کې د برهان الدین رباني تر مشرئ لاندې دولت په رسمیت پیژني؛ نو د خبرو اترو پروسه یې غوڅه کړه. د پاکستاني دیپلمات (نیاز نیک) له څرګندونو سره سم، کله چې امریکایی پلاوي د طالبانو دا رفتار ولید؛ نو غوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول او خبرداري يې ورکړ چې دوی به د جولای د مياشتې په نيمايی کې دا ستونزه د زور او وسلې له لارې حل کاندي.

امريکا د خپلو پلانونو سره سم غوښتل چې د ملا عمر او احمد شاه مسعود په شان د افغانستان د مخالفو ډلو وتلي لوبغاړي چې دواړو امريکايی ضد احساسات درلودل، له مينځه يوسي او په ځای يې يو ګوډاګۍ دولت جوړ کړي. د دې هڅو په درشل کې د افغانستان د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه سره هم اړيکې ونيول شول چې په ايټاليا کې يې د خپل ژوند وروستي کلونه تيرول.

د جولای د مياشتې په نيمايی کې د نړې لوی ځواکونه له امريکا سره همغږه شول. دلته غواړم د هغه غونډې د جزيياتو يادونه وکړم چې د فرانسې د بهرنيو چارو د وزير (هوبرت فيدراين Hubert Vedrine) او د افغانستان له پاره د ملګرو ملتونو د استازي (فرانسيس ويندريل Francesc Vendrell) تر مينځ شوې وه. دواړه خواوې په دې سلا شوې چې بالاخره بايد د افغانستان ستونزې ته يوه ښه حل لاره وموندل شي او په خاص ډول نړيواله ټولنه بايد د محمد ظاهر شاه له هغه هڅو سره مرسته وکړي چې غواړي له ځان سره د افغان ټولنې استازي يو موټې کړي. دوی همدا راز له پاکستان سره د خبرو په ډيريدو باندې ټينګار وکړ. دوی يادونه کړې وه چې ښکيلې خواوې بايد ورو-ورو او د جګړې له پای ته رسيدو وروسته، د افغانستان بيا ودانولو ته پاملرنه وکړي.

هوکې ! لويديځ ځواکونو له دومره کلونو وروسته يوازې د جولای په مياشت کې افغانستان ته پام واړاوه. څوک د افغانستان د پخواني پاچا، ظاهر شاه په هکله غږيدل او چا هم د افغانستان د جګړې او بيا رغونې په هکله د برابرو خبرو غوښتنه کوله.

له دې وروسته د بشرپالنې د سوداګريزې غونډې تر نامه لاندې په لندن او بيا جينيوا کې هم خبرو اترو ادامه پيدا کړه. په ډير تعجب سره بايد وويل شي چې د يونيکال د تيلو شرکت د دغه غونډې لګښت په غاړه اخيستی و؛ خو اهداف او ګډونوال يې نور کسان وو (په دې غونډه کې جاپانيانو هم ګډون کړی وو چې د کسپين تيلو ته يې ډيره ليوالتيا ښيودلې ده). له دې ټولو هڅو سره – سره، فيدراين

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د فرانسي د بهرنيو چارو وزير) او فرانسيس ويندريل، پرته له جګړې او بيارغونې څخه د سولې له پاره د هيچا ليوالتيا و نه ليده.

پاکستان د امريکا او بريتانيا تر فشار لاندې او مخکې له دې چې توپان پيل شي، د نويو ملګرو د موندلو هڅه پيل کړه. دوی په اسلام آباد کې د خبرو اترو له پاره د چين چارواکو ته بلنه ورکړه او د غونډې په مهال يې ژمنه وکړه چې پاکستان به د پوځي ملاتړ په بدل کې چين ته اجازه ورکړي چې د هند سمندر ته لاره پيدا کړي. امريکا او بريتانيا چې د پاکستان د دې کار له امله په غوسه شوي وو، پريکړه وکړه چې د پلان شوي وخت او په لويه لوبه کې د چين له ښکيليدو څخه مخکې خپل برید پيل کړي. په همدې مهال د عمان په سمندر کې د فالکلند ټاپوګانو له جګړې وروسته د بريتانيايي ځواکونو تر ټولو لوی خوځښت وليدل شو او ناټو هم په مصر کې 40000 پوځونه تيار کړل. د سپتمبر په 9 نيټه د افغانستان د اسلامي جبهې مشر او د امريکا ضد قوماندان، احمدشاه مسعود ترور شو (د احمدشاه مسعود ترور تر راتلونکو څو روځو پورې پټ ساتل وشو او په متحده ايالاتو باندې تر بریدونو پورې په ډاګه نه شو. د مسعود په وژنه باندې وروسته اسامه بن لادن تورن شو؛ خو د ده د ترور رسمي اعلاميې، د فرانسوي خبريال فرانوايس کاس Franaoise Causse له راپور سره ډير توپير درلود، ځکه د مسعود پلويانو د پاکستان استخباراتي اداره آی اس آی ISI د نوموړي په وژنه باندې تورنوله). د سپتمبر د 11 نيټې بریدونه د استعمار له پاره د قانوني لارې د پيدا کولو پرته بل هيڅ نه و.

په افغانستان باندې د برید عمليات که څه هم چې د بې پايه عدالت Infinite Justince (چې دا کلمه د نړۍ په ډيرو اديانو کې خدای ته منسوبه ده) تر نامه لاندې پيل شول؛ خو د اسلامي نړۍ د لوی غبرګون له امله يې نوم د خپلواکۍ د ټينګلو جګړې (Enduring Freedom) ته واړول شو. د نړيوال ايتلاف 136 ملکونو او د امريکا ځينې سياسي متحدينو په مشروط ډول د دغه عملياتو ملاتړ وکړ او د دې تر څنګ يې متحده ايالاتو ته د پوځي مرستې وړانديزونه هم وکړل.

امريکا دې موضوع ته په پام سره چې پخوانی شوروي اتحاد څرنګه د 1979 او 1989 تر مينځ د افغانستان په ختيځ او خاورو کې ډوب شو، دې هيواد ته د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځیانو له لیږلو ډډه وکړه او پر ځای یې افغاني جنګ سالارانو ته د ډیرو پیسو ورکولو ته ترجیح ورکړه، چې د امریکا په استازیتوب د طالبانو په وړاندې وجنګیږي. د یادونې وړ ده چې د امریکا دا کار د ملګرو ملتونو له هغه قانون څخه ښکاره سرغړاوی دی چې په جګړه کې ښکیلو خواوو ته د وسلې ورکول، منع کوي. روسیې د متحده ایالاتو د دې عمل په وړاندې د غبرګون په توګه، د احمدشاه مسعود اسلامی جبهه په لویه پیمانه په وسلو سمبال کړه، په داسې حال کې چې ایران شیعه هزاره ګانو ته د وسلو استول پیل کړل. د متحده ایالاتو هوایی پوځ د دقیقو هوایی بمباریو په واسطه، د طالب ضد ځواکونو ملاتړ کاوه او کله خو به له هغوی سره ملګري هم شول. حقیقت دا و چې هغه ګوندونه چې د طالبانو په وړاندې جنګیدل، نه د نړیوال ایتلاف په اهدافو پوهیدل او نه یې هم د نفتو د ذخایرو له پاره لیوالتیا درلوده.

بریتانیا او امریکا د وخت په تیریدو سره په خپلو تکتیکونو کې بدلون راووست چې په دې توګه خپل نا پیژندل شوي دښمنان وپیژني. طالبانو نور نه شو کولای چې د خپلې واکمنۍ په سیمو کې دیکتاتوري وچلوي او په جلا ډلو وویشل شول. په همدې حال کې اسلامي جبهه چې نړیوال یې د شمالي ټلوالې په نامه پیژني، د طالبانو په ګډو وډو لیکو کې ننوتل او پرمختګ یې پیل کړ.

د متحده ایالاتو هوایی پوځ د تښتیدونکو طالب ځواکونو تعقیبول پیل کړل. طالبانو هڅه کوله چې په کندهار کې بیرته سره را ټول شي او په همدې حال کې د شمالي ټلوالې بریالۍ ډلې د طالبانو په ډله ایزه وژنه لاس پورې کړ چې دلته د بیلګې په توګه د جنرال دوستم تر قومانده لاندې د مزار شریف ډله ایزه وژنه یادولای شو. د دې ټولو پرمختګونو په درشل کې د طالبانو او القاعده زرګونه متعصب جنګیالي چې د تورې بوړې په غرونو کې او د مرمیو تر باران لاندې بند پاتې وو، خبرو اترو ته حاضر او خپلو پاکستاني ملګرو ته تسلیم شول.

د بریتانیا او امریکا هوایی پوځونو په ټولیزه توګه په دې موده کې تر 4700 ډیرې الوتنې وکړې چې په ترڅ کې یې 12000 بمونه وغورځول شول، تر 10000 ډیر جنګیالي په کې ووژل شول او تر څنګ یې تر 1000 ډیرو ملکي افغانانو ته مرګ ژوبله واوښته. د متحده ایالاتو پوځي جوړښتونو هوایی ځواک ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



امر وکړ چې د ډله ايزې وژنې بي ال يو 82 (BLU-82) بمونه وکاروي او د هغه مشخصو او پلان شوو بريدونو له کولو ډډه وکړي چې هدف يې يوازې پوځي جوړښتونه وو او ملکي مرګ ژوبله پکې کمه وه (دا بمونه په اصل کې د جګړې له پاره نه بلکه د انجينري کارونو په موخه جوړ شوي وو، ځکه دا بمونه ړانده دي او ډير زيان اړوي. متحده ايالاتو دا بمونه په ويتنام کې د ځنګلونو د پاکولو او د چورلکو د ناستې له پاره د زمکو د جوړولو له پاره کارولي وو). د بي ال يو 82 بمونو د کارولو امر ځکه شوی وو چې هغه پاته شوي او تښتيدلي جنګيالي له مينځه يوسي چې په غرونو کې تيت وو.

په هر حال، دا جګړه د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا د 1378 پريکړې سره سم پای ته ورسيده او له دې سره سم ګڼ افغاني ګوندونه د جرمني په بن کې ټول شول چې د يوه نوي دولت د جوړيدو په هکله خبرې اترې وکړي. د بن غونډې پريکړه وکړه چې د پخواني ظاهر شاه تر مشرۍ لاندې يوه موقته اداره جوړه شي؛ خو د وړاندوينو سره سم ظاهر شاه شا ته شو او حامد کرزی د لومړي وزير په توګه په دي دنده وګومارل شو.

د پخواني شوروي اتحاد او افغانانو د جګړې پر مهال حامد کرزي د سي آی آې CIA له مشر ويليم کيسي William Casey سره شخصي اړيکې درلودې. له هغه وروسته ده متحده ايالاتو ته مهاجرت وکړ او هلته د بوش له کورنۍ سره ملګری شو او بالاخره د يونيکال د شرکت په يوه څانګه کې په کار وګومارل شو. جنرال عبدالرشيد دوستم چې د 20 کلونو په موده کې د کړو ظلمونو او وحشت له کبله د چنګيزخان په نامه نومول شوی وو، په دې بريالی شو چې له متحده ايالاتو او متحدينو سره ملګری شي او د دې پر ځای چې د جنګي جرمونو په تور محاکمه شي، په نوې اداره کې ګډ شو. د نړيوالو دغه عمل د 2001 د دسمبر د مياشتې په 6 نيټه د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا له 1383 پريکړې سره سم قانوني بڼه غوره کړه. له دې سره سم په سلګونو زره هغه افغانان چې د جګړو او بمباريو له کبله له خپل هيواد څخه تښتيدلي وو، بيرته د خپلو کورونو په لور وخوځيدل.

د خپلواکۍ د جګړې د ګټلو (Operation Enduring Freedom) تر نامه لاندې عمليات د متحده ايالاتو د ملي امنيت د شورا له لارې د زلمي خليلزاد له خوا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ وړل کيدل. زلمی خليلزاد د پخواني باچا، ظاهر شاه د يوه مشاور زوی دی او د متحده ايالاتو د شيکاګو په پوهنتون کې يې زده کړه کړې ده. هغه د امريکايی تابعيت له تر لاسه کولو وروسته د ريګن د ولسمشرۍ پر مهال د بهرنيو چارو په وزارت کې د مشاور په توګه وټاکل شو او له هغه وروسته د سي آی آې CIA په مرسته په خپل هيواد افغانستان کې د شوری اتحاد د پوځونو په وړاندې وجنګيد. د لومړني بوش د ولسمشرۍ پر مهال، خليلزاد د دفاع وزارت د مرستيال په توګه وټاکل شو او په عراق کې د دښتې د توپان (Desert Storm) په عملياتو کې د پام وړ رول ولوباوه. د کلينټن د ولسمشرۍ پر مهال ده له راند کارپوريشن او يونيکال سره کار کاوه. خليلزاد په داسې وخت کې چې له طالبانو سره د خبرو اترو لړۍ روانه وه، د طالبانو ننګه وکړه او په واشنګټن پوست روځپانه کې يې په خپله يوه مقاله کې ليکلي و چې طالبان د ايراني متعصبينو په پرتله ډير امريکايی ضد احساسات نه لري؛ خو کله چې د تېلو خبرې نتيجې ته و نه رسيدې؛ نو ده خپل دريځ بدل کړ او د سپتمبر له 11 نيټې وروسته د بوش ادارې له ده څخه د رابط په توګه ګټه پورته کوله. د جګړې له پيل سره دی د بوش له خوا د افغانستان له پاره د خاص استازی په توګه وټاکل شو او يوه دنده يې دا وه چې د پلان شوې نل ليکې د جوړيدو څارنه وکړي.

د طالبانو له ځپلو وروسته رسنيو ته بلنه ورکړل شوه چې له القاعده او طالبانو څخه پاتې شوې نښې وګوري. امريکايی ځواکونو په غرونو کې داسې عجيب پټنځايونه موندلي وو چې د شوروي اتحاد د جګړې د وخت وسلې او مهمات په کې پراته وو؛ خو هيڅ خبريال و نه شو کړای چې د کيمياوي او بيالوژيکي وسلو فابريکې، د اتمي بمونو بټۍ او کم تر کمه د سپوږمکيو د توغولو هغه ساحې ووينې چې دونالد رمسفيلد (د متحده ايالاتو د دفاع وزير) يې په هکله خبرې کړې وې او غندلي يې وو.

پټو اړيکو ادامه پيدا کړه او ښايی ادامه به ولري. د هغه مخدره موادو او کوکنارو کرکيله او کاروبار بيرته وغوړيد چې مقصد يې د شمالي امريکا مارکيټونه دي او بالاخره د 2002 کال د دسمبر په 9 نيټه حامد کرزی او د هغه پاکستاني سيال، جنرال مشرف د منځنۍ آسيا د نل ليکې د جوړولو د تړون په لاسليکولو سلا شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لسم څپرکی: پټ عملیات

په هغه یادښت کې چې د [پوځي عملیاتو له پاره د عامه ولس د ملاتړ تر لاسه کول] تر نامه لاندې د (لیونارد وانګ Leonard Wong) په واسطه، د متحده ایالاتو د پوځ د ستراتیژیکو مطالعاتو د انستیتوت له پاره جوړ شوی و، دا ټکي لیدل کیدل: (د پوځي عملیاتو له پاره چې عامه ولس کوم ملاتړ ښودلی د (پیرل هاربر) په بندر Pearl Harbor «د متحده ایالاتو یو پوځي بندر چې په 1941کال کې د جاپان تر برید لاندې راغی او په غبرګون کې متحده ایالاتو د جاپان په هیروشیما او ناګاساکي ښارونو اتمي بمونه واچول» باندې له برید وروسته د خلکو له ملاتړ سره یو شان دی. امریکایان په دې عقیده دي چې پوځي عملیات مناسب دي، د یوې پراخې جګړې ملاتړ کوي او د نوموړې جګړې د منفي پایلو زغملو ته یې تیاري ښودلې دی. د سرشمیرنو د ښو پایلو سره – سره، د عامه ولس په ملاتړ کې بدلون راتلای شي. عادي ژوند ته د دوی په ګرځیدو سره به د پوځي عملیاتو له پاره، ملاتړ له مینځه لاړ شي. له همدې امله پوځ باید د ترهګرۍ په وړاندې جګړه کې پر له پسې بریالیتوب لاس ته راوړي، ولس له وسله وال پوځ سره تړلی وساتي او د کورنی امنیت په ساتلو کې هڅې ډیرې کړي؛ خو باید وویل شي په نورو برخو کې دا ملاتړ نه دی لیدل شوی). که په ساده ژبه وویل شي د دې خبرو مانا دا ده چې د ترهګرۍ په وړاندې جګړه کې د عامه خلکو نظریه په لویه پیمانه له امریکایی سیاستونو سره تړلې ده او باید ځنډ پکې ونه شي.

د 2001 کال د اکتوبر په 7 نیټه د خپلواکۍ د ګټلو عملیات پیل او په منځنۍ آسیا کې د وسلو ډزونه واوریدل شول. د پوځونو تناسب ته په کتو سره د ایتلافي ځواکونو بریالیتوب، د جګړې له پیل څخه مخکې، یقیني شوی و. د ترهګرۍ په وړاندې جګړې ته د امریکایی ولس پاملرنه په داسې حال کې روڅ په روڅ کمیږ.ي چې اسامه بن لادن لا هم له خپل پټنځای څخه په امریکا باندې د نورو بریدونو ګواښونه کوي؛ خو سره له دې په امریکا کې هیڅ ترهګریز عمل و نه لیدل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکتوبر د میاشتې په 12 نیټه رسنیو ځینې هیښونکې معلومات خپاره کړل. د رسنیو له څرګندونو سره سم، خبریالانو او د کانګرس غړو داسې لیکونه تر لاسه کړي وو چې د آنتراکس په میکروب Anthrax Spore لړلي وو. دا ډول حد اکثر 5 لیکونه د نشنل اینکوایرر مجلې National Enquirer، ان بی سي NBC ټلویزیون، نیویارک پوسټ روځپاڼې New York Post او د سناتور دشل Sen. Daschle او سناتور لیهای Sen. Leahy دفترونو ته استول شوي وو او یوازې ۵ کسان د دغه لیکونو قرباني شول. د امریکایانو عادي ژوند نژدې په ټپه ودرید. دوی نور نه شوای کولای چې خپل لیکونه له ربړي لاس ماغو (دستکش) او طبی نقابونو پرته پرانیزي. د ژغورنې د آلاتو او نقابونو د سوداګرو کار وغوړید او په ټول هیواد کې د پوسټ سیستم په ټپه ودرید. دغه روحي ناروغي د متحده ایالاتو ملګرو هیوادونو ته هم خپره شوه او په ټوله اروپا کې داسې لیکونه وموندل شول چې په سپین وژونکي پوډر لړل شوي وو. د چارواکو له ویناوو سره سم، القاعدې اوس پریکړه کړې وه چې هغه کیمیاوي او بیالوژیکي وسلې په خپلو بریدونو کې وکاروي چې دوی د صدام حسین په مرسته جوړې کړې وې. له دې سره سم متحده ایالاتو او د هغه متحدینو پریکړه وکړه چې د آنتراکس ضد میکروب د واکسینونو ګودامونه جوړ کړي. دوی د ملیونونو ګولیو په اخیستلو سره د دوا جوړونې له صنعت سره لویه مرسته وکړه؛ خو په پای کې هیڅ شی و نه شول، ځکه پرته له پنځو لیکونو څخه نور هر څه یوه ټوکه او ډله ایزه ویره اچونه وه.

مهمه خبره ده و چې له څیړنو وروسته معلومه شوه چې هغه آنتراکس میکروب چې لیکونه پرې لړل شوي وو، د متحده ایالاتو په پوځي لابراتوارونو کې جوړ شوی و او دا یو کورنی خطر و. د امریکایی ساینس پوهانو د فدراسیون د یوې غړې (باربارا هتچ روزینبیرګ) څیړنو وښوده چې یوازې 50 پیژندل شوو ساینس پوهانو د دغه ویروس ګودامونو ته لاسرسي درلود او کولای یې شوای چې ویې کاروي. د سپتمبر د میاشتې په پای کې د کوانیکو پوځي اډې یوه ناپیژندل شوی لیک تر لاسه کړ چې پکې د آمراید (د متحده ایالاتو د پوځ د مکروبی ناروغیو د څیړنو طبی مرکز US AMRIID) د پخواني مشر، ډاکتر اسد چلونه او دسیسې غندل شوې وو. اف بي آی FBI بیا هم د څیړنو درواغجنه ژمنه وکړه؛ خو هیڅ څه یې روښانه نه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ویرې او خطر د مودې په تېرېدو او د خپلواکۍ د ګټلو د عملیاتو د یوې کوچنۍ برخې په پوره کېدو سره، ولس فکر وکړ چې اوس نو باید بېرته عادي ژوند ته ستانه شي؛ خو د دفاع وزارت دنده واخیسته چې ولس ته پیښ راتلونکي خطرونه ور په زړه کړي. دوی د تش په نامه خطرناکو ترهګرو زړه بوږنوونکي انځورونه خپاره کړل چې د ګوانتانامو پوځي جیل ته اچول شوي وو. دا اسیران له افغانستان څخه د الوتکو په واسطه دې جیل ته په داسې حال کې راوړل کېدل چې تر الوتکې پورې کش کېدل او بیا هلته په سیټونو باندې تړل کېدل. جیل ته له راوستو سره سم د دوی په سترګو نقابونه، په غوږونو کې د بریښنایی مزو پلګونه او په پوزو کې د کارک کاغدونه اېښودل کېدل او له دې سره د یوه پروګرام په واسطه د حس له قوو څخه محرومېدل. د دفاع وزارت وکیلانو د سترګو په رپ کې وویل چې فدرال قوانین یوازې د هیواد د ننه شکنجه منع کوي او دا قوانین ځکه په ګوانتامو کې نه عملي کېږي چې د امریکا په خاوره کې نه راځي. تر کومه ځایه چې د اساسي قانون خبره راځي، دا موضوع په کې نه ده روښانه شوې. نړیوالې ټولنې له هماغه وخت راهیسې د متحده ایالاتو د دغه عمل په وړاندې مظاهرې کړې دي. د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د کمیسیون مشرې ماری رابینسون Mary Robinson (د آیرلند پخواني ولسمشره) څو ځله په دې هکله د عامه خلکو غوسه بیان کړې او په متحده ایالاتو باندې یې غږ کړی چې د ګوانتامو اسیرانو ته هغه حقوق ورکړل شي چې د جینیوا په تړون کې روښانه شوي، له دوی سره باید د انسانانو په توګه چلند وشي او باید په عادلانه او مناسبه توګه محاکمه شي.

اوس – اوس د ترهګرۍ په هکله د خلکو مفکوره خوټېدلې او د ترهګرۍ په وړاندې جګړه یو هیرونکې سیورې ګرځېدلې دی. اوس ترهګري نه دولت، نه سازمان او نه هم کومه مفکوره، بلکه یو دودیز عمل دی. دا نوم اوس له مظلومو لږکیو څخه نیولې تر دولتي کچې پورې کارول کېږي او کله – کله خو ترهګري په ډېر ساده ډول تعریف کېږي. که دا خبر رښتیا وي؛ نو د دوهمې نړیوالې جګړې پر مهال د نازي یرغلګرو پوځونو په وړاندې د فرانسې ملکي او پوځي مقاومت یو ترهګریز عمل بللی شو. د ترهګرۍ په وړاندې د جګړې افاده هم پرته له دې چې د جګړې په وړاندې د جګړې مانا ورکړي، بله هیڅ مانا نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ربښتيا وه چې ولسمشر جورج ډبليو بوش د ترهګرۍ په هکله ډېر کم معلومات درلودل. د ده په آند د نيکاراګو د وژونکو ډله Death Squad ترهګره نه وه، آن تر دې چې ده د نيکاراګوا د وژونکو د ډلې امريکايي ملاتړی (جان نيګروپونتې John Negroponte) ملګرو ملتونو ته د خپل سفير په توګه وټاکه. د ولسمشر بوش او امريکايي چارواکو له نظره، په هغه نړۍ کې چې د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته يې توازن له لاسه ورکړی وو، د امريکايي مشرتابه په وړاندې هر توند اعتراض يو ترهګر عمل بلل کيده.

د (باب وودوارد Bob Woodward) په نامه يو خبريال چې د ولسمشر بوش د کابينې د يوې غونډې يادښتونه يې پيدا کړي و، له واشنګټن پوسټ روځپاڼې سره په مرکه کې وويل چې د غونډې په مهال سي آی آې CIA ته بې بريده اختيارات ورکړل شوي و چې د ترهګرۍ په وړاندې جګړه په مخ بوزي. د يادونې وړ ده چې دا غونډه په کمپ ډيويد کې د 2001 کال د سپټمبر په 15 نېټه جوړه شوې وه.

نوموړې غونډه د جورج ډبليو بوش په مشري د تل په شان د دعا په ويلو پيل شوه او له ټولو ګډونوالو څخه غوښتنه وشوه چې د دعا په کولو کې ونډه واخلي. له دعا وروسته د خزانې او بهرنيو چارو وزارتونو په ترتيب سره خپلې کړنې بيان کړې او د بيا د سي آی اې CIA مشر جورج تنيت George Tanet د پلانونو دوه مسودې له نورو اسنادو سره يو ځای چې په ډېره پاملرنه جوړه شوي وې، ولسمشر ته وړاندې کړې.

لومړۍ مسوده د پيليدونکي خوځښت په نامه يادېده. د دې مسودې دوه مهم ټکي د القاعدې له مينځه وړل او په افغانستان کې د دوی د اډو بندول وو. جورج تنيت د نورو متحدو هيوادونو په مرسته د القاعده په وړاندې نه يوازې په افغانستان بلکه په ټوله نړۍ کې د پټو عملياتو د اهميت په هکله وغږيد. ده د غونډې د ټولو ګډونوالو د توافق له لاس ته راوړلو وروسته؛ نوموړي هدف ته د رسيدو له پاره سي آی اې CIA ته د بې بريده (نا محدوده) واکونو د ورکولو غوښتنه وکړه. نوموړي د داسې يو فرمان د صادريدو غوښتنه وکړه چې سي آی اې CIA ته دا واک ورکړل شي چې په هر ځای او هر وخت کې پرته له دې چې د هر يو کار له پاره اجازه واخلي، پټ عمليات تر سره کړي. تنيت په دې ټينګار کاوه چې د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري ته دې اجازه ورکړل شي، چې له هر ډول بنديز پرته کار وکړي او ولسمشر ته يې په دې برخه کې د ځينو خطرونو د منلو سپارښتنه کړې وه. ده له ځان سره د ولسمشر هغه فرمان هم راوړی و چې د پټو عملياتو په وخت کې يې سي آی اې CIA ته د شکمنو کسانو د وژنې په شمول د هر ډول آلاتو د کارولو اجازه ورکوله.

د لومړی مسودې په يوه برخه کې دې ټکی ته اشاره شوې وه  چې سي آی اې CIA بايد له ټولو مهمو بهرنيو استخباراتي ادارو سره خپلې اړيکې ټينګې کړي. جورج تنيت هيله مند و چې دی به د نوموړو استخباراتي ادارو مرسته د هغه مليونونو ډالرو په واسطه  جلب کړي، چې په خپله بودجه کې يې غوښتي وو. د (تنيت) له پلان سره سم د نوموړو ادارو د خدماتو په کارولو سره د سي آی اې CIA اغيزمنتوب درې او آن څلور ځله ډيريدلای شوای. د پټو عملياتو په نړۍ کې دغه ډول کارونه له خطر څخه تش نه دي، ځکه کېدای شوای داسې اعمالو، متحده ايالات له هغه شکمنو ادارو سره تړلې وای چې بشري حقوق په پام کې نه نيسي. ځينې دغه ډول ادارې د معلوماتو د لاس ته راوړلو له پاره له سختو شکنجو څخه کار اخلي.

غونډه په داسې حال کې چې (تنيت) د افغانستان له پاره خپله ستراتيژی اعلانوله، پرته له مخالفتونو پر مخ تله. ده د ژورې ساه له اخيستو وروسته د (نړيوال بريد د پلان) تر نامه لاندې دوهمه مسوده هم وړاندې کړه. دغه مسودې د نړۍ په 80 هيوادونو کې د سي آی اې CIA په روانو پټو عملياتو رڼا اچوله او په راتلونکي کې يې د دغه عملياتو د دوام سپارښتنه کوله. په نوموړو عملياتو کې له تبليغاتو څخه نيولې بيا د پوځي بريدونو له پاره د تياريو له پاره د وژنو تر سرحده هر ډول اعمال شامل وو. د دفاع وزير دونلد رمسفيلد په دې وخت کې د سي آی اې CIA او پنتاګون تر مينځ شته سيالي له ياده وويسته او مسوده يې د زړه له کومي تاييد کړه. کله چې د سي آی اې CIA مشر خپل پلانونه وړاندې کړل؛ نو ولسمشر بوش په لوړ غږ او ليوالتيا چيغه کړه چې ډير اعلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالاخره دا پټ عملیات پیل شول او په ترڅ کې یې سي آی اې CIA په ټوله نړۍ کې د بوش په مخالفینو بریدونه وکړل. د واین مدسین Wayne Madsen په نامه خبریال د دغه مخالفینو له ډلې څخه لاندې څلور نامتو قربانیان داسې پیژني:

- د 2001 کال د نومبر په 11 نیټه د لویدیځې نوې ګینې رهبر (تیس ایلووي Theys Eluay) د اندونیزیا د پوځ د یوه خاص کنډک له خوا وتښتول شو. دغه کنډک چې په ختیځ تیمور کې په ډله ایزه وژنو تورن دی، د امریکا د مرکزي ادارو له خوا جوړ او د سي آی اې CIA په واسطه روزل شوی دی. (تیس ایلووي) د خپل هیواد د خپلواکۍ له پاره جنګیده او د فري پورټ مکمورن Freeport McMoran په نامه د هغه امریکایی شرکت مخالفت یې کاوه چې د ده د هیواد د معدني سرچینو په لوټ لګیا و. (فري پورټ مکمورن شرکت د متحده ایالاتو د لویزیانا په ایالت پورې تړلی یو شرکت دی چې مشري یې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د پخوانی وزیر، ډاکتر هنري کیسینجر په غاړه ده).
- د 2001 کال د دسمبر په 23 نیټه د نایجیریا د عدلیې وزیر، (چیف بولا ایګې Chief Bola Ige) د یوې ناپیژندل شوي کوماندو ډلې له خوا په خپله خونه کې ووژل شو. هغه د ولسواکۍ له پاره د پان یوروبان د ګوند Pan-Yoruban Alliance for Democracy ticket مشري کوله او د نایجیریا د ولسمشریزو ټاکنو ناکام کاندید و. نوموړی د ټولو هغه امتیازاتو مخالف و چې د شیفران Chevron (د دې شرکت مشري د کاندولیزا رایس په غاړه وه) او (ایکسان موبیل ExxonMobil) امریکایی شرکتونو د نایجیریا د تیلو په صنعت کې درلودل.
- د 2002 کال په جنوري کې د اندونیزیا د آسې ولایت والي، د آسې د خپلواکۍ غورځنګ د ګوند مشر، عبدالله سیافي ته لیک واستاوه او هغه ته یې ظاهراً د سولې د خبرو بلنه ورکړه. سیافي نه یوازې د خپلواکۍ غوښتنه کوله بلکه د ایکسان موبیل د شرکت د کیندنو خلاف هم و. عبدالله سیافی په هالند کې د میشت UNPO سازمان (د نا پیژندل شوو هیوادونو او خلکو ټولنه Unrepresented Nations and peoples organization) غړی و او غوښتل یې په سوله ایزه توګه د خپلواکۍ له پاره وجنګیږي؛ خو سره له دې په پټو جګړو کې هم ښکیل و. نوموړي ته په استول شوي لیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې داسې یوه کوچنۍ کمپیوټري آله اینودل شوې وه چې په مرسته یې د متحده ایالاتو د ملي امنیت ادارې د سپوږمکیو په واسطه د سیافي موقعیت مالوم کړ او په پایله کې د جنورى د میاشتې په 22نیټه، د اندونیزیا د خاصو ځواکونو د کنډک له خوا ترور شو.

- د لبنان د عیسوي ملیشو د ګوند ښی لاسی مشر، (ایلي حبیقه Elie Hobeika) له خپل ساتونکي سره یو ځای د جنوري د میاشتې په 24 نیټه د یوه موټر بم په چاودنه کې ووژل شول. حبیقه چې د 1982 کال په ترخ کې د صبره او شاطیله د مهاجرو په کمپونو کې د مسلمانو فلسطینیانو په ډله ایزه وژنه کې نیغ لاس درلود، په ناڅاپي ډول د اسراییلو په خلاف ودرید او پریکړه یې کړې وه چې د بلجیم د جنګي جرایمو په محکمه کې د اریل شارون Eriel Sharon (اسراییلو پخوانی د دفاع وزیر او بیا ولسمشر) په خلاف شاهدي ورکړي. دا عملیات په ګډه د سي آی آې CIA او موساد Mossad ( د اسراییلو استخباراتي اداره) له خوا تر سره شوي وو.

آیا دا په رښتیا هم د ترهګرۍ په وړاندې جګړه ده؟

د فبرورۍ د میاشتې په 13 نیټه، واشنګټن پوسټ روځپاڼې د ډاکتر هنري کیسنجر، یوه لویه مقاله خپره کړه. کیسنجر چې د متحده ایالاتو د بهرنۍ تګلارو پلار او بنسټ اینودونکی و، په افغانستان کې یې د بریالیتوب له پاره د دریو لارو سپارښتنه کړې وه:
لومړی دا چې متحده ایالات دې فکر وکړي چې جګړه پای ته رسیدلې او هر هغه چا چې د طالبانو پیروي کوله، اوس یې سبق زده کړی. دوهم دا چې د یمن او سومالیا په شان په هغه ځانګړو هیوادونو فشار واچول شي چې د ترهګرۍ ملاتړ کوي او یا دریم دا چې په عراق کې د صدام حسین په را پرځولو باندې تمرکز وشي او په منځني ختیځ کې سیمه ایز انډوال بدل کړای شي.

په حقیقت کې کیسنجر، په عراق باندې د داسې یوه غوځ برید په هکله استدلال کاوه چې په عراق یرغل او د صدام حسین له مخالفینو سره مرسته وشي ( د یادونې وړ ده چې د دغه کتاب تر خپریدو پورې، د امریکا له خوا په عراق پوځي یرغل نه و شوی - ژباړن).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بوش ادارې پرته له ځنډ څخه د کيسنجر مشورې تر پام لاندې ونيوې او د هغې پر بنسټ يې د خپلو پلانونو په جوړولو پيل وکړ.

د جنورې د مياشتې په 29 نېټه د متحده اياالاتو ولسمشر، کانګرس ته د (يو موټې ولس) تر نامه لاندې خپله وينا واوروله؛ خو د دغه وينا يوه مهمه ځانګړتيا دا وه چې دا ځل د افغانستان د دولت انتقالي ولسمشر، حامد کرزی هم ورسره حاضر و. د وينا په ترڅ کې جورج ډبليو بوش د ترهګرۍ په وړاندې د جګړې اهداف داسې اعلان کړل:
(زموږ ولس به د دوه اهدافو په لاس ته راوړلو کې ټينګ او زغمونکي واوسي.
لومړی هدف دا دی چې موږ غواړو د ترهګرو کمپونه وتړو، د دوی پلانونه شنډ کړو او دوی عدالت ته  کش کړو او دوهم هغه دا چې موږ بايد د هغه ترهګرو او رژيمونو مخنيوی وکړو چې د کيمياوي، بيالوژيکي او اتمي وسلو په لټه کې دي او غواړي په دې واسطه متحده ايالات او نړۍ وويروي. د ((لاسونو پړکا)).
زموږ پوځ په افغانستان کې د ترهګرو د روزنې کمپونه له کاره غورځولي؛ خو په ځينو نورو هيوادونو کې لا تر اوسه هم دغه ډول کمپونه شته . د حماس، حزب الله، اسلامي جهاد او جيش محمد په شان نورې ترهګرې ډلې لا تر اوسه هم په ليرې ځنګلونو او د لويو ښارونو په مرکزونو کې پټې دي.
زموږ دوهم هدف دا دی چې د هغه رژيمونو مخنيوی وکړو چې د ترهګرو مرسته کوي او د ډله ايزې وژنو د وسلو په واسطه غواړي امريکا او زموږ ملګري او متحدين تهديد کړي. د سپټمبر د 11 نېټې څخه وروسته، ځينې دغه رژيمونه ډير غلي دي؛ خو موږ د دوی اصلي څيره پيژنو. د شمالي کوريا رژيم په داسې حال کې د ډله ايزې وژنې د وسلو د جوړولو په حال کې دی چې ښاريان يې له لوږې سره مخامخ دي.
ايران هم په داسې حال کې په بيړه د دغه وسلو جوړولو ته دوام ورکړی او ترهګري صادروي چې ځينې زورواکي، د خپلواکۍ له پاره د ايران د خلکو هيلې ځپي.
عراق د امريکا په خلاف خپلې دښمنې ته دوام ورکړی او د ترهګرۍ ملاتړ کوي.
د عراق رژيم له يوې لسيزې را پديخوا د آنتراکس ميکروب، وژونکو ګازونو او اتمي وسلو د جوړولو دسيسې جوړوي. دغه رژيم له پخوا څخه په خپلو زرګونو ښاريانو باندې وژونکي ګازونه کارولي او ميندې او د هغوي ماشومان يې وژلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. دغه رژيم لومړی د نړيوالې پلټنې له ډلې سره موافقه وکړه؛ خو کله چې د کتونکو ډله عراق ته لاړه؛ نو بيرته يې وشړله. دغه رژيم له پر مخ تللې نړۍ څخه د کوم شي د پټولو په هڅه کې دی.
دغه ډول هيوادونه او د هغوي ترهګر متحدين د شيطانانو محورونه ګرځيدلي او د نړۍ سولې ته يې ګواښ پيښ کړی دی).

د متحده ايالاتو په متحدينو باندې فشار ډير زيات شوی و. دوی له پنځو مياشتو راهيسې هر څه زغمل. د سپتمبر د 11 نيټې له بريدونو وروسته او د غم د مراسمو په ترڅ کې، دوی نه شوای کولای چې د متحده ايالاتو په کړنو باندې مخامخ انتقاد وکړي. د متحده ايالاتو چارواکو هم په دې برخه کې له ډيرې ځيرکۍ څخه کار واخيست او د غم د مراسمو په اوږدولو او په ټلويزيون باندې د دغه مراسمو د نشر په مرسته يې دوی بوخت او ويريدلي وساتل.

خو له دې سره – سره د فبروري د مياشتې په 6 نيټه د فرانسې د بهرنيو چارو وزير (هوبيرت فيدراين) د متحده ايالاتو د چارواکو د هيلو په خلاف ګام پورته کړ. هغه د لومړي وزير او ولسمشر د ملاتړ په درلودلو سره، د انترفرانس په ټلويزيوني چينل باندې څرګند شو او داسې يې وويل:
(موږ د متحده ايالاتو متحدين او د امريکا د خلکو ملګري يو. موږ د سپتمبر د 11 نيټې د ترهګريزو بريدونو څخه په را مينځ ته شوې غم کې له دوی سره ځان شريک بولو. موږ له امريکايی خلکو سره خپل شريک مسوليت ادا کړی؛ خو د غبرګون په ښودلو کې بايد يو منطق وي او بد کسان بايد له مينځه لاړ شي. موږ بايد همدا راز دا ستونزه له ريښو څخه حل کړو. نن موږ له دې وجې چې ټولې ستونزې د ترهګرۍ په وړاندې د جګړې تر نامه لاندې را ټولوو، په خطر کې لويدلي يو. دا يو بې مسوليته کار دی. هيڅوک نه شي کولای چې د پوځي ځواک په کارولو سره له ترهګرۍ سره وجنګيږي او د ترهګرۍ په وړاندې د جګړې تر نامه لاندې ټولې ستونزې حل کاندي. د ستونزو حل بايد د هغه په ريښو کې ولټول شي. موږ بايد د نيستۍ، بې عدالتۍ او سپکاويو ستونزې حل کړو. اروپا بايد د دغه ستونزو په حل کې هلې ځلې وکړي. که موږ نه غواړو چې امريکايی پاليسي ومنو؛ نو بايد ووايو موږ کولای شو چې دا خبره ووايو او بايد ويې وايو. د امريکايی خلکو سره ملګرتوب او په ناټو کې د امريکا متحد والی، د دې مانا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري چې موږ یو له بل سره تړلي یو او د هر شي په هکله یو شان فکر کوو. موږ باید له متحده ایالاتو سره د ملګرتوب په فضا کې خبرې وکړو. موږ دا نه وایو چې متحده ایالات دې آرام کیني. موږ غواړو چې متحده ایالات د نړۍ د ستونزو په حل کې ښکیل واوسي او دا وایو چې د متحده ایالاتو له مرستې پرته هیڅ لویه ستونزه نه شي حل کیدای. موږ غواړو چې امریکا په خپله نه، بلکه په دوه اړخیزه توګه له خپلو ملګرو سره یو ځای پریکړې وکړي. که موږ غواړو چې زموږ غږ واوریدل شي؛ نو باید چوپ ونه اوسو او وغږیږو).

(کولن پاول) په واشنګټن کې د فرانسوي وزیر سپارښتنو ته سره له دې چې د سپکاوي په سترګه وکتل، هیڅ ارزښت ورنکړ.

دوه روځې وروسته د فرانسې لومړي وزیر(لیونیل جوسپین) له فرصت څخه ګټه واخیسته او د اروپا د پارلمان په یوه غونډه کې یې نړیوالو اوریدونکو ته د خپل زړه غم داسې بیان کړ:
(د سپټمبر د 11 نیټې له بریدونو وروسته موږ له متحده ایالاتو سره خپله ټینګه همکاري په ښکاره ډول څرګنده کړه او په هغه ځوابي عمل کې موږ له دوی سره مرسته وکړه چې د دغه بریدونو په وړاندې باید ښودل شوی وای. د ترهګرۍ په وړاندې دا ډول ګډ عمل باید په ټینګ عزم تر سره شي؛ خو دا په هیڅ ډول دا مانا نه ورکوي چې موږ هغه ستونزو ته چې د سپتمبر له 11 نیټې وروسته ولاړې شوي پاملرنه ونکړو. که ربښتیا ووایو موږ یوازې د ترهګرۍ په وړاندې د جګړې تر نامه لاندې، د نړۍ ټولې ستونزې نه شو حل کولای او نه هم لوی پوځي ځواکونه کولای شي چې د هر ډول ستونزو په حل کې مرسته وکړي. موږ په یقیني ډول غواړو چې په نړیواله ټولنه کې باید انډول شته وي. زموږ دا پوهاوی د هر اړخیز عمل په بنسټ ولاړ دی. د نړیوالې ټولنې غړي باید په ګډه د ستونزو په حل کې مرسته وکړي، ځکه هیڅ هیواد په یوازې توګه نه شي کولای چې ستونزې په خپله حل کاندي. موږ هیله مند یو چې متحده ایالات یو اړخیز ګام پورته نکړي او زموږ لیدلوري ته هم احترام وکړي. موږ په دې آند یو چې د متحده ایالاتو له مرستې پرته موږ هغه انډوال نه شو راوستلای چې په هکله یې فکر کوو. موږ به تر هغه ځایه چې شونې وي، د همکاریو د ډېرولو له پاره کار وکړو).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اروپا د ځينو چارواکو له څرګندونو سره سم په ټوله اروپا کې شکونه پيدا شول. د فبروري په 9 نېټه د اروپايي اتحاديې د بهرنيو اړيکو کميسار (کريس پټن) هم خپله چوپتيا ماته کړه او له ګاردين روځپانې سره په مرکه کې يې د متحده ايالاتو د مطلق والي په اړه د فرانسې انتقادونه په ځای وبلل او متحده ايالات يې وهڅول، چې خپلو متحدينو ته غوږ ونيسي. نوموړي زياته کړه چې متحده ايالات په يوازې ځان پر مخ نه شي تلای او دوی بايد دا فکر ونکړی چې موږ خپل غږونه نه شو پورته کولای.

په متحده ايالاتو باندې د انتقادونو لړۍ د اروپا د بهرنيو چارو د وزيرانو تر هغه کانفرانس پورې هم ورسيده چې د هسپانيا په (سيونکاس) کې جوړ شوی و. دوی ټول سمدلاسه د (فيدراين) او (پټن) په څرګندونو سره سلا شول.

د ياغيتوب لړۍ لا زياته شوه او په برلين کې د ناټو د غونډې په مهال يې هم نښې وليدل شوې. د کاناډا لومړي وزير د غونډې په مهال دا خبره رد کړه چې د ناټو قوانين د افغانستان له پاره هم صدق کوي او زياته يې کړه چې دوی به په هغه يو اړخيزه شخړو کې ښکيل نه شي چې د امريکا په واسطه را مينځ ته کيږي.

اوس پوښتنه دا ده چې حقايق په رښتيا را برسيره شي؟

## يوولسم څپرکی: دسيسه

هغه دلايل چې موږ ذکر کړل او لاسرسي ورته لرو، د دې حقيقت پوهاوي ته لاره پرانيزي چې د سپتمبر د 11 نېټې بريدونه د امريکا د دولت د ميکانيزم له امله زيږېدلي وو؛ خو سره له دې اوس د نړۍ خلک د اسامه بن لادن له خيالي کيسې سره بلد شوي دي او دا د ډېر خپګان وړ خبره ده چې ګورو د امريکايی خلکو نژدې 3000 هيوادوال د درواغجنو تګلارو قرباني شول. د متحده ايالاتو د پوځ لويو درستيزوالو پخوا هم د خپلو خلکو په وړاندې د ترهګرۍ پلانونه جوړ کړي وو؛ خو د عملی کولو فرصت لاس ته نه و ورغلی. دلته به موږ بيرته تاريخ ته لاړ شو او څو بيلګې به تاسو ته وړاندې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کيوبا د 1958 کال د هغه چريکي عملياتو په ترڅ کې چې د (فيدل کاسترو او راول کاسترو، چې ګيوارا او کاميلو سيفيوګوس) په وسيله پيل شوي وو، د (فولګينسيو بتيستا) ګوډاګۍ رژيم وپرځول شو. د دوی په واسطه نوي جوړ شوی دولت چې نور نو کمونيست نه وو، امريکايی لويو کمپنيو (ستندرد آيل، جي ام، آی تی تی، جي اي، شيراتون، هيلتون، يونايتد فروت او ايست انډيا) ته امر وکړ چې نور دوی حق نه لري، د تيرو شپږو کلونو په شان دا ټاپو د خپلو موخو له پاره وکاروي. امريکايی شرکتونه متحده ايالاتو ته له ستنيدو وروسته، ولسمشر (ايزنهاور) ته قناعت ورکړ چې د کاستروګانو په واسطه جوړ شوی دولت له پښو وغورځوي.

د 1960 کال د مارچ په 17 نيټه، ولسمشر (ايزنهاور) د دوی په اصطلاح د (کاسترو) د رژيم په وړاندې د پټو عملياتو د پروګرام عملي کول تصويب کړل. د دې عملياتو پروګرام که څه هم چې يوازې تر کيوبا پورې محدود و، د جورج تنيت (د ولسمشر جورج ډبليو بوش په وخت کې د سي آی اې مشر) پلان سره سمون درلود او موخه يې دا وه چې د (کاسترو) رژيم په داسې يو رژيم بدل کړي چې د کيوبا د خلکو په ګټه او د متحده ايالاتو له پاره د منلو وړ وي. د (ايزنهاور) له پلان سره سم دا هر څه بايد په داسې توګه تر سره شوي وای چې د متحده ايالاتو نيغه مداخله پکې نه وای څرګنده شوې. (دا موضوع د سي آی اې CIA په را برسيره شوو اسنادو کې ذکر شوې ده).

د 1961 کال د اپريل په 17 نيټه، د کيوبايی تبعيديانو او اجيرو عسکرو يوې ډلې چې د سي آی اې CIA له خوا روزل شوې وو، هڅه وکړه چې د خوګانو خليج Bay of Pigs تر خپلې ولکې لاندې راولي. دا عمليات ځکه له ماتې سره مخامخ شول چې نوی ولسمشر (کينيدي) چې په وروستيو کې سپيني ماڼۍ ته راغلي و، سيمې ته د متحده ايالاتو د هغه هوايی ځواک له استولو څخه ډډه وکړه چې له اجيرو عسکرو سره يې بايد مرسته کړې وای. له جګړې څخه وروسته 1500 کسان د کيوبايی چارواکو له خوا اسيران شول. ولسمشر (کينيدی) دا عمليات رد کړل او د سي آی اې CIA مشر (آلن دولز Allen Dulles)، مرستيال مشر چارلز کابيل Charles Cabell او د شاته پاتې شبکې مشر (ريچارد بيسيل Richard

(c) ketabton.com: The Digital Library



Bissell) يې له دندې ګوښه کړل. نوموړي د خپل نظامي مشاور، (جنرال مکسویل تیلر Gen. Maxwell Taylor) په مرسته د کورنیو څیړنو امر وکړ؛ خو د شته معلوماتو سره سم دا څیړنې په پوره ډول بشپړې نه شوې. ولسمشر کینیډي، د لوی درستیزوال کړنو ځکه حیران کړی و چې عملیات یې په داسې حال کې تصویب کړي و چې په ماته یې مخکې له مخکې پوه و.

له بهر څخه هر څه داسې ښکاریدل لکه چې امریکایی جنرالانو غوښتل، چې متحده ایالات له کیوبا سره په حقیقي جګړه کې ښکیل کړي.

ولسمشر (کینیډي) که څه هم چې د سي آی اې CIA ناکام عملیات رد کړل؛ خو هیڅکله یې د هاوانا په وړاندې د واشنګټن له دښمنۍ څخه ډکه تګلاره تر پوښتنې لاندې را نه وسته. (کینیډي) د داسې یوې ځانګړې ډلې د جوړیدو امر وکړ چې دنده یې د (کاسترو) په وړاندې د هڅو پیلول و. د نوموړې ډلې غړي، د ده ورور او لوی څارنوال (رابرت کینیډي Robert Kennedy)، پوځي مشاور (مکسویل تیلر Maxwell Taylor)، د ملي امنیت مشاور (مک جورج بونډي McGeorge Bundy)، د بهرنیو چارو وزیر (دین روسک Dean Rusk) او د هغه مشاور (الکسیز جانسن Alexis Johnson)، د دفاع وزیر (رابرت مک نمارا Robert McNamara) او د هغه مشاور (روزویل ګیلپاتریک Roswell Gilpatric)، د سي آی اې نوی مشر (جان مک کون John McCone) او لوی درستیز جنرال (لیمن لیمنتزر Gen. Lyman Lemnitzer) وو.

نوموړې ځانګړې ډلې د مونګوس عملیاتو Operation Mongoose تر عمومي نامه لاندې د پټو عملیاتو پلانونه جوړ کړل. د عملیاتو د ښه پرمختګ له پاره د بهرنیو چارو او دفاع وزارتونو او د سي آی اې CIA تر مینځ د عملیاتي اړیکو مشري جنرال (ایدوارد لنسدیل Gen. Edward Lansdale) (د دفاع مرستیال وزیر د دندې څرنګوالي ته په کتو، د ملي امنیت د ادارې مشر) ته سپارل شوې وه. په دې سربیره د سي آی اې په مرکزي دفتر کې د وروستي راپور اخیستونکې ډلې په توګه د ډبلیو ډلې Group W په نامه یوه ډله جوړه شوه چې مشر یې (ویلیم هاروي William Harvey) و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د 1961 کال په اپریل کې د امریکا پوځ له یوه جدي بحران سره مخامخ شو؛ ځکه چې ستر جنرال (ایدوین واکر Maj. Gen. Edwin A. Walker) مخکې تر دې چې په جرمني کې د پلیو امریکایی ځواکونو د کنډک مشري په غاړه واخلي، مظاهرې جوړې کړې او له همدې امله د ولسمشر (کینیدي) لخوا له دندې ګوښه شو. واکر په دې تورن شوی و چې په وسله وال پوځ کې یې داسې یوه نوې ډله جوړه کړې وه چې خپله عقیده او مذهب یې بدل کړي و. نوموړی جنرال د جان بیرچ John Birch د ټولنې (ښی لاسې بنسټ پاله ډله) غړی او د KKK (د پروتستانت مذهب لرونکو سخت دریځه ډله چې په امریکا کې د تور پوستو انسانانو د شتون خلاف ده او په ډیرو وژنو کې یې لاس لرلی) یو له ریښتنو مشرانو څخه و.

د سنا د بهرنیو اړیکو کمیټې ژر تر ژره په پوځ کې په پلټنو پیل وکړ. د پلټنو مشري د سناتور (البرت ګور) چې د راتلونکي مرستیال ولسمشر پلار و په غاړه وه. د پلټنو په لړ کې سناتورانو د متحده ایالاتو لوی درستیز، جنرال (لیمینتزر) ته هم د جنرال (واکر) په دسیسه کې د لاس لرلو په تور، د شک په سترګه کتل. (د یادونې وړ ده چې د کوریا له جګړې وروسته جنرال واکر په دې فکر و چې د متحده ایالاتو دولت داسې تګلاری غوره کړی وې  چې په لوی لاس یې د کمونیزم پراخوالي ته لار اوارولې. ده وروسته له دې چې د دفاع وزارت د مرستیال، مک نمارا په واسطه له دندې ګوښه او ورټل شو، د میسیسیپي په پوهنتون کې د یوه تور پوستي ښوونکي د ټاکنې په اړه اعتراضي لاریون وکړ او له همدې امله د لوی څارنوال، رابرت کینیدي له خوا د بغاوت او سرکشۍ تور پرې ولګید او ونیول شو. نوموړی چې د محافظه کاره رسنیو ملاتړ له ځان سره درلود، د 5000 ډالرو جریمې په ورکولو بیرته له جیل څخه خوشی شو او وروسته معلومه شوه چې نوموړي د ((شارل دوګول)) ((د فرانسې ولسمشر)) د ترور له دسیسې سره مالي مرسته کړې وه او د هغې کمیټې مشري هم د ده په غاړه وه چې د ولسمشر جان اف کینیدي د وژنې په قضیه کې د شک په سترګه ورته کتل کیدل).

(c) ketabton.com: The Digital Library



(البرت ګور) پوهیده چې جنرال (لیمینتزر) د پټو عملیاتو په تر سره کولو کې ځانګړې پوهه لري. دا ځکه چې په کال 1943 کې ده له هغه هڅو سره لویه مرسته وکړه چې په پایله کې یې د ایټالیا دولت د هیتلر ملاتړ پرېښود او له متحدینو سره یو ځای شو او دوهم دا چې په کال 1944 کې (لیمینتزر) او (آلن دولز) په سویس کې له نازي چارواکو سره له نژدې کتلي وو، چې د جرمني د تسلیمیدو په هکله جوړ جاړي ته ورسیږي. په دې سربیره نوموړي د ناټو د هغه مرکزی شبکې په جوړولو کې هم ګډون کړی و چې د هیتلر نازي اجنټان به یې د شوروي اتحاد په ضد کارول او په لاتینه امریکې کې یې د بشري حقوقو مجرمین په خوندي ډول له سیمې څخه ایستلي وو. بالاخره (البرت ګور) و نه توانید چې په وروستیو پیښو کې د جنرال (لیمینتزر) لاس لرل ثابت کړي.

د جنرال (لیمینتزر) هغه پټې مکاتبې چې څو کاله پخوا را برسیره او خپرې شوې ښیی چې ده او په اروپا کې د متحده ایالاتو د پوځ قوماندان، جنرال (لوریس نورستاد) او نورو لوړپوړه چارواکو، د ولسمشر (جان اف کینیدي) د تګلارو د ورانولو په دسیسو کې هم لاس درلود.

پوځي سخت دریځو د ولسمشر (کینیدي) له خوا په کیوبا کې د پوځي لاسوهنې ردیدل وغندل. دوی د سي آی اې CIA ملکي کارکوونکي په دې تورن کړل چې د هغوی د خرابو پلانونو له کبله د خوګانو د خلیج نیول ناکام شول او ولسمشر (کینیدي) یې له دې کبله چې د هوایي ملاتړ د استولو مخنیوی یې کړی و، د ډارن په نوم ونوماوه. دوی د خپلو غوښتنو د پوره کولو له پاره د دوهم ځل له پاره داسې پلان جوړ کړ چې ولسمشر (کینیدي) ته د پوځي لاسوهنې له پاره، یوه سیاسي پلمه جوړه کړي. نوموړی پلان چې د نارتوردز د عملیاتو Operation Northwoods په نوم یادیده، د برید جنرال (ویلیم کرایګ) د څېړنو پر بنسټ جوړ شوی و او د 1962 کال د مارچ په 13 نیټه، د اوګمینت ځانګړی ډلې ته، د جنرال (لیمینتزر) په واسطه وړاندې شو. غونډه په پنتاګون کې د دفاع وزارت د مرستیال په دفتر کې جوړه شوه او د ماسپښین له 2:30 بجو څخه د شپې تر 7:30 بجو پورې دوام وکړ؛ خو د کلکو مخالفتونو له وجې پرته له کومې لاس ته راوړنې پای ته ورسیده. د غونډې د خرابیدو لامل د (مک نمارا) له خوا د نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلان ردیدل و او له همدې امله جنرال (لیمینتزر) دومره غوسه شوی و چې آن ګواښونه یې ورکول.

د ولسمشر (کینیدي) د ادارې او لوی درستیز تر مینځ دښمنۍ تر شپږو میاشتو پورې دوام وکړ او له هغې وروسته (لیمینتزر) له خپلې دندې ګوښه او په اروپا کې د امریکایی پوځونو د مشر په توګه ونومول شو. نوموړي اروپا ته له تللو مخکې امر وکړ چې د نارتوردز د عملیاتو د پروژې ټولې نښې دې له مینځه یوړل شي؛ خو (مک نمارا) د هغه اسنادو یوه کاپي له ځان سره پټه وساتله چې ده ته ورکړل شوي و. د یادونې وړ ده چې د نارتوردز د عملیاتو په هکله ساتل شوي اسناد د لومړي ځل له پاره په استرالیا کې د (جان الیسون) له خوا خپاره شول او د متحده ایالاتو دولت یې په اړه هیڅ غبرګون و نه ښود. نوموړي اسناد د دوهم ځل له پاره د اې بي سي ټلویزیوني چینل د خبریال (جیمز بمفورد) له خوا د هغه پروګرام په ترڅ کې خپاره شول چې پکې د متحده ایالاتو د ملي امنیت د ادارې په هکله خبرې وشوې او ډېر تاریخ پوهان یې وپارول.

د نارتوردز د عملیاتو پلان د دې له پاره جوړ شوی و، تر څو نړیوالې ټولنې ته وښیي چې (فیدل کاسترو) یو بې مسولیته مشر و او د لویدیځ د سوله ایزې فضا له پاره یې ګواښونه جوړ کړي و. د دې عملیاتو پلان په داسې توګه طرح شوی و چې د هغه لویو زیانونو د اړولو په اړه کیوبا تورنه شي چې په اصل کې متحده ایالاتو اړولي وو. موږ دلته د نوموړي پلان یوازې څو برخو ته په لاندې ډول اشاره کوو:

- په ګوانتامو کې د امریکایی پوځونو په اډه باندې برید کول. دا عملیات به د کیوبایی اجیرو عسکرو له خوا چې د کیوبایې پوځ یونیفورم به یې په غاړه وو، سر ته رسیدل. د برید په ترڅ کې به د وسلو ډیپو چاودله چې دې به په خپله له ځان سره لوړ انساني او مالي زیانونه درلودل.
- د کیوبا تر واکمنۍ لاندې اوبو کې باید یوه امریکایی بیړۍ په داسې ډول ډوبه شوې وای چې خلکو ته یې د میني Maine بیړۍ ډوبیدل  په یاد کړي وای. نوموړې بیړۍ په کال 1898 کې کیوبا ته نژدې له مینځه یوړل شوه او له همدې امله امریکا، په کیوبا باندې چې په هغه وخت د هسپانیا مستعمره وه، یرغل وکړ. د پلان سره سم به بیړۍ خالي او د لیرې واټن

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څخه د کمپیوټر په واسطه کنټرولیدای. د بیړۍ چاودنه به په داسې ډول رامینځ ته کیدای چې د کیوبا له پلازمینې، هاوانا او سانتیاګو څخه به خلکو لیدله او له دې سره به د پیښې شاهدان هم پیدا شوی وای. د ژغورنې عملیات به په داسې ډول په مخ وړل شوي وای چې خلکو به فکر کاوه چې ډیر کسان مړه شوي دي. د قربانیانو شمیره به ژر تر ژره په روځپاڼو کې خپریده او د درواغجنو جنازو په خښنولو سره به د ولس غوسه پارول شوې وای. عملیات به په داسې حال کې تر سره کیدل چې کیوبایی بیړۍ او الوتکې به په سیمه کې وې، چې کیوبا د بریدونو په تر سره کولو باندې تورنه شي.

- په میامي او حتی واشنګټن کې میشت تبعید شوي کیوبایان به د پلاستیکي چاودنو په وسیله ویرول کیدل. د دې کار ملامتیا به په تش په نامه کیوبایی اجنټانو اچول کیده، دوی به نیول کیدل او د درواغو اعتراف به ترینه اخیستل کیده. له دوی څخه به هغه اسناد هم نیول کیدل، چې له مخکې څخه په جعلي ډول جوړ شوي وو او نوموړي اسناد به په روځپاڼو کې چاپیدل.
- د کیوبا په ګاونډیو هیوادونو کې به د کیوبا له خوا د یرغل ویره خپریده، چې په پایله کې به نوموړو هیوادونو پوځونه تیارسی شوي وای. یوه د درواغو کیوبایی الوتکه به د شپې له خوا د دومینیکن جمهوریت او په سیمه کې د نورو هیوادونو هوایی حریم ته ننوته او هلته به یې داسې بمونه غورځول، چې شوروي اتحاد جوړ کړي وو.
- د یوې فضایی بیړۍ په ویشتلو سره به د نړیوالو پاملرنه دې موضوع ته اړول کیده. د دې پیښې قرباني به د (جان ګلین) په نامه هغه څوک و چې د لومړي ځل له پاره د ځمکې مدار ته تلی و.

د پورتنیو پلانونو سربیره، یو بل لمسون هم په پام کې نیول شو:

- دا شونې وه چې داسې یوه پیښه را مینځ ته شي چې په ترڅ کې یې یوه کیوبایی الوتکه د متحده ایالاتو یوه کرایه شوې ملکي الوتکه په نښه کړي. کرایه شوې الوتکه به له متحده ایالاتو څخه جمیکا، ګواتیمالا، پاناما او یا وینزویلا ته په لاره وه. د امریکایی اجنټانو یوه ډله به د زده کوونکو په بڼه، هغه الوتکې ته پورته کیدل چې له مخکې څخه د سي آی اې CIA په واسطه کرایه شوې وه. په فلوریدا کې به دا الوتکه له یوې بلې هغې سره بدلیده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسافرین به يې په پټه توګه بیرته د سي آی اې CIA مرکز ته لیږدول کیدل. دوهمې الوتکې به چې تشه او له لیرې ځخه اداره کیده، خپلې الوتنې ته دوام ورکاوه. د الوتنې په درشل کې به له الوتکې ځخه داسې څپې خپرې شوې وای چې ښودل يې په نوموړې الوتکه باندې یوې کیوبایی جنګي جټ الوتکې برید کړی او بیا به په هوا کې چاودله.

د پلان سره سم پورتنیو عملیاتو د ګڼ شمیر ملکي او پوځي امریکایانو مړینه هم له ځان سره درلوده؛ ځکه پرته له دې د خلکو د مفکورو بدلول شوني نه وو او همدا یوازنی لار وه چې متحده ایالاتو کولای شوای په کیوبا باندې پوځي یرغل وکړي.

د (جان اف کینیدي) په آند (لیمینتزر) یو لیونی و چې د ځو لویو بې اصوله شرکتونو له خوا يې کلک ملاتړ کیده. دغه نوی ټاکل شوي ولسمشر هغه وخت د خطر احساس وکړ، کله چې مخکیني ولسمشر (ایزنهاور) د خپلې خدای پامانۍ په وینا کې داسې وویل:

( موږ باید د خپل پوځي جوړښت ځخه په ګټې اخیستې، ځینې کړۍ پرینږدو چې زموږ د دولت تګلارې تر خپلې ولکې لاندې راولي او بدلې يې کړي. دا خطر شته چې ځینې کسان واک په لاس کې واخلي او بیا خپل واک په غلطه توګه وکاروي. موږ باید هیڅکله پرینږدو چې زموږ خپلواکي او ولسواکه عقیده له خطر سره مخامخ شي. موږ د چا احسان ته اړ نه یو. یوازې یو خبرداری کولای شي چې زموږ د سوله ایزو اهدافو سره سم، زموږ دفاعي صنعت او پوځي میکانیزم ته وده ورکړي او له دې سره به زموږ پوره خپلواکي او امنیت ښیرازه شي).

(جان اف کینیدي) په رښتیا هم د جنرال (واکر) جنرال (لیمینتزر) او د هغوی د ملګرو په وړاندې مقاومت وکړ او په کیوبا، لاوس، ویتنام او بل هر ځای کې يې د کمونیزم په وړاندې د هغوی د فکري جګړې نظریه رد کړه؛ خو له بده مرغه د 1963 کال د نومبر په 22 نیټه نوموړی ترور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال (ليميتزر) په کال 1969 کې تقاعد واخيست؛ خو په کال 1975 کې کله چې د مشرانو جرګې د ولسمشر (نيکسون) په وخت کې د سي آی اې CIA د کړنو په اړه د څېړنو امر وکړ، جنرال (فورد) له ده څخه وغوښتل چې په څېړنو کې ګډون وکړي. د يادونې وړ ده چې په هغه وخت کې جنرال (فورد) د واټرګيټ د رسوايی له قضيې وروسته چې په پايله کې يې ولسمشر (نيکسون) استعفا ته اړ شو، د متحده ايالاتو د انتقالي دورې ولسمشر و. (ليمينتزر) له ولسمشر فورد سره مرسته وکړه چې شته شخړې له مينځه يوسي او له هغې وروسته، فورد يو ځل بيا له ده څخه غوښتنه وکړه چې د سي پی ډي (د اوسني خطر کميټه Committee on the Present Danger) کميټې مشري په غاړه واخلي. دا کميټه په هغه وخت کې چې پخوانی (بوش) د سي آی اې CIA مشر و، د نوموړې ادارې له خوا جوړه شوې وه او دنده يې د پخواني شوروي اتحاد په وړاندې تبليغات و. د کميټې له مشرانو څخه يو هم (پال والفويتز) و چې په 2001 او 2002 کلونو کې يې د افغانستان د عملياتو مشري کوله. له دې سره سم، جنرال (ويليم کرايګ) يا هغه څوک چې د نارتوردز د عملياتو په هکله يې لومړنۍ څېړنې کړې وې، د ولسمشر فورد له خوا د متحده ايالاتو د ملي امنيت د ادارې د مشر په توګه وټاکل شو. جنرال (ليمينتزر) د 1988 کال د نومبر په 12 نېټه مړ شو.

د (کينيډي) د ترور په اړه د امريکايی ولس مفکورې په کال 1992 کې د (اوليور سټون) په نامه د سينمايی فلم له خپرېدو بيرته وپاريدلې. د نوموړي فلم کيسې د چاروراکو له هغه رسمي څرګندونو سره تضاد درلود چې د کينيډي د ترور په هکله يې کړې وې. له همدې امله ولسمشر (کلينټون) امر وکړ چې د (کينډي) د وخت ګڼ شمير پټ اسناد دې برسيره شي او له دې سره د نارتوردز د عملياتو د پروژې په هکله هغه يوازنۍ پاڼې هم برسيره شوې چې (مک نمارا) له ځان سره ساتلې وې.

د پورتني تاريخي تعامل په پام کې نيولو سره، په خواشينۍ سره بايد وويل شي د متحده ايالاتو په کورنيو دسيسو کې د بې خبره امريکايانو وژنه او قرباني کوم ناشونی کار نه دی. په 1962 کال کې ولسمشر (کينيډي) د خپلو پوځي جنرالانو د ليونتوب په وړاندې مقاومت وکړ او له همدې امله يې خپل ژوند له لاسه ورکړ؛ خو دا معلومه نه ده چې د دغسې ليونيو اعمالو په وړاندې به د (جورج ډبليو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوش) غبرګون څه شي و او آیا دی هم له داسې حالاتو سره مخامخ شوی و چې (کینیډي) ورسره لاس او ګریوان و او که نه؟

د متحده ایالاتو وروستی تاریخ موږ ته ښیي چې کورنۍ ترهګري په دې هیواد کې یو عادي عمل دی. اف بي آی FBI له 1996 کال راهیسې د کورني ترهګرۍ د پېښو کلني راپورونه خپروي. دوی په 1995 کې څلور، په 1996 کې اته، په 1997 کې پنځه ویشت، په 1988 کې اوولس او په 1999 کې د ترهګرۍ 19 پیښې ثبت کړې دي. په نوموړو ډېرو پیښو کې پوځي او نیمه پوځي ښې لاسو ډلو لاس لرلی.

د (دیلمارت ایدوارد فریلند) په نامه یو ځوک په تورنټو کې د کاناډا د سترې محکمې په وړاندې، د متحده ایالاتو د پوځ په مینځ کې د داسې دسیسې په شتون شهادت ورکړ چې پوځ باید د سپتمبر د 11 نیټې بریدونه سر ته رسولي وای.

نوموړی چې د غلطو بانکي معاملو د کولو په تور د کاناډا د پولیسو له خوا نیول شوی و، د متحده ایالاتو د سمندري ځواکونو له استخباراتو څخه د خپلو سندونو په غوښتلو، له ځان څخه دفاع وکړه. ده پولیسو ته وویل چې روسیې ته د دې له پاره تللئ و، چې په مسکو کې د کاناډا د سفارت د یوه کمپیوټر پوه، (مارس باستین) د ترور او په نیویارک د بریدونو د تیاریو په هکله معلومات ټول کړي. پولیسو د څیړنو په ترڅ کې ده ته وویل چې (مارس باستین) ترور شوی نه و، بلکه د نشې په حال کې یې د خپګان ضد ګولۍ خوړلې او مړ شوی و. دوی سربیره پر دې د (فریلند) څرګندونې تشې پلمې وبللې او هغه یې په جیل کې واچاوه.

د 2001 کال د اګست د میاشتې په 12 نیټه (فریلند) د جیل چاروکو ته یو داسې مهر شوی لیک واستاوه چې په کې د نیویارک راتلونکو بریدونو ته اشاره شوې وه؛ خو د کاناډا چارواکو د ده لیک ته ارزښت ورنکړ. د سپتمبر په 14 نیټه دوی لیک پرانیست او د هغه بریدونو په اړه یې پکې واضح معلومات ومونډل چې دری روځې مخکې د نیویارک په ښار کې پیښ شوي وو. له همدې امله دوی په بیره له پنتاګون سره اړیکه ونیوه؛ خو هغوی ورته وویل چې دیلمارت [مایک] فریلند په 1986 کال کې د متحده ایالاتو له سمندري ځواک څخه وتلی و او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅکله د سمندري ځواکونو په استخباراتو کې ښکیل نه و. د کاناډا فدرال څارنوال د همدې لامل پر بنسټ د (فریلند) څرګندونې رد کړې او د ټورنټو په ستره محکمه کې قاضیانو ته داسې وویل: آیا دا خیالي کیسه شونې ده؟ زموږ په فکر دا کیسه نه یوازې ناشونې ده بلکه هیڅ عاقل انسان به ورته غوږ و نه نیسي.

خو د طبي څیړونکي (لاین دوشین Line Duchesne) په واسطه شوو څیړنو څه موده وروسته وښوده چې د کاناډا د سفارت دیپلمات (مارس باستین) په اصل کې ترور شوی و او له همدې امله د (فریلند) څرګندونو څه نا څه بیرته خپل اعتبار لاس ته راوړ. دوهم دا چې د 2002 کال د جنورۍ په 25 نیټه، د (فریلند) وکیلانو (روکو ګلاتي Rocco Galati) او پال دلانسکي Paul Dlansky د ټورنټو د سترې محکمې د پرانیستې غونډې په مهال، له پنتاګون سره په داسې حال کې اړیکه ونیوه چې د ټیلیفون غږ لوړ و او ټولو اوریده. په داسې حال کې چې د محکمې قاضي هر څه اوریدل، د پنتاګون کارکوونکو د ټلفون له لارې وویل چې (فریلند) اوس هم په سمندري ځواکونو کې دنده لري او کله چې له دوي څخه غوښتنه وشوه چې ټیلیفون خپل مشر ته ورکړي؛ نو د ټلفون آپریټر د وکیلانو اړیکه د سمندري ځواکونو د استخباراتو له ادارې سره ټینګه کړه.

لکه چې مخکې مو ذکر وکړ، د سپتمبر د 11 نیټې د بریدونو په هکله د پنځو هیوادونو استخبارات (جرمني، مصر، فرانسه، اسراییل او روسیه)، د (فریلند) په شان د سمندري ځواکونو د استخباراتو کارکوونکي او هغه کسان لا له مخکې پوهیدل چې د اودیګو کمپنۍ ته یې پیغامونه استولي وو؛ خو هیڅوک د اسهامو د سوداګریز مارکیټ له پټو معاملو څخه خبر نه و.

د (رند کارپوریشن Rand Corporation) د شرکت مرستیال مشر (بروس هوفمن Bruce Hoffman) د کانګرس غونډې ته د وینا په مهال په ښکاره ډول وویل چې که څه هم چې دا بریدونه ډیر لوی و؛ خو بیا هم نه اټکل کیدونکي و (د رند کارپوریشن شرکت د 160 ملیونه ډالرو کلنۍ بودجې په درلودلو سره د نظامي ستراتیژۍ په برخه کې د نړۍ تر ټولو لوی شخصي څیړنیز مرکز دی. دغه شرکت همدا راز د امریکا د پوځي صنعت د شرکتونو استازی هم بلل کیږي. د دې شرکت مشر ((جیمز تامسن)) دی او نور مدیران یې د کارلایل ګروپ مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



((فرانک لوچې)) کاندولیزا رایس او دونالد رمسفیلد دي. دا هم باید وویل شي چې ((زلمي خلیلزاد)) د یوه څه مودې له پاره په دې شرکت کې د کارپوه په توګه کار کاوه).

((بروس هافمن)) د نیویارک له بریدونو شپږ میاشتې مخکې د متحده ایالاتو د هوایي ځواک د اکاډمۍ په یوه کانفرانس کې په ښکاره ډول د سپتمبر د 11 نیټې (نه اټکل کیدونکو) بریدونو ته له مخکې اشاره کړې وه. د نوموړي لاندې څرګندونو ته په کتو سره ثابتیږي چې ده د کانګرس غړو او نړۍ ته درواغ ویلي وو:
(موږ هڅه کوو چې د القاعدې د شبکې او هغه ډلو په وړاندې خپل پوځونه تیار کړو چې له بن لادن سره تړاو لري. که د یوې شیبې له پاره د هغه بمي برید په هکله فکر وکړو چې په 1993 کال کې په نړیوال سوداګریز مرکز باندې وشو؛ نو دې پایلې ته رسیږو چې د هغه برید له امله کیدای شواي چې شمالي برج په جنوبي برج باندې ولویږي او 60000 کسان ووژل شي. دا شوني ده چې دوی د خپلو اهدافو د له مینځه وړلو له پاره نورې وسلې او نور تکتیکونه پیدا کړي؛ خو دا چې دوی بې پیلوټه او له لیرې واټن څخه کنټرولیدونکې ډرون Drone الوتکې په خپل واک کې لري، زما په آند یوه یقیني خبره ده.

آیا دا یوه وړاندوینه نه وه؟

دیموکرات ګوند د دې له پاره چې جمهوریت غوښتونکی ګوند له بدغوني حالت څخه بیرته وګرځوي، د 2000 کال هغه بودجوي قانون او د کمیسیون جوړوني ته رایه ورکړه چې هدف یې د متحده ایالاتو د ملي امنیت د فضایي ادارې تحلیل او څیړنه وه. نوموړي کمیسیون د 2001 کال د جنوري په 11 نیټه خپل راپور چارواکو ته وړاندې کړ. د نوموړي کمیسیون مشر (دونالد رمسفیلد) د راپور له تسلیمیدو څخه څو روځې مخکې، په رند Rand شرکت کې خپله دنده پریښوده او د (بوش) په اداره کې د دفاع د وزیر په توګه وټاکل شو. د نوموړي کمیسیون له یوولسو څخه 8 غړي متقاعد جنرالان وو او ټول د توغندیو د دفاعي سپر د پروګرام پلویان وو. د دوی د کمیسیون په 32 کاري روځو کې د وخت حالاتو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ پاملرنه نه وه شوې او یوازې د هغه پوښتنو ځوابونه پکې ځیرل شوي وو چې د دغه کمیسیون ټول غړي ښایی ورسره مخ شوي وای.

د (رمسفیلد) د کمیسیون له پاره باندنۍ فضا د زمکې، آسمان او سمندر په شان یوه پوځي ساحه وه. ده غوښتل چې د ملي امنیت فضایی اداره باید د زمکني، هوایی او سمندري ځواکونو په شان پوځي ځانګه ولري. د ده په آند متحده ایالاتو باید فضا تر خپلې ولکې لاندې راوستې وای او د بل هر هغه ځواک مخنیوی یې کړئ وای چې غوښتل یې هلته ځان ورسوي. د دې کار پایله به دا وه چې متحده ایالات به د یوازیني لوی نړیوال ځواک په توګه پیژندل شوی وای.

د (رمسفیلد) کمیسیون 10 لاندې تجویزونه جوړ کړي وو:

- د باندنۍ فضا وسله وال ځواک به ولسمشر ته راپور ورکوي.
- ولسمشر باید د ځان له پاره د باندنۍ فضا په برخه کې یو مشاور وټاکي، تر څو متحده ایالات وکولای شي خپلې ګټې په پوره توګه لاس ته راوړي.
- د متحده ایالاتو ټولې استخباراتي ادارې باید یو له بل سره یو ځای او د ملي امنیت د شورا د ننه، د باندنې فضا د وسله وال ځواک تر لاندې کار وکړي.
- د باندنۍ فضا وسله وال ځواک به په یوه وخت کې د استخباراتو د سرچینې او د یوې زهري وسلې په توګه کار کوي او هدف به یې د استخباراتي ادارو او دفاع وزارت تر مینځ د داسې اړیکو جوړول وي چې مشري به یې په پوره ډول د سي آي اې CIA د مشرتابه په غاړه وي.
- د دفاع وزیر باید د ځان له پاره د باندنۍ فضا یو مرستیال وزیر وټاکي.
- فضایی قوماندانی باید د هوایی ځواک له قوماندانۍ څخه بیله وي.
- د باندنۍ فضا وسله وال ځواک باید د نورو ځواکونو د خدماتو د لاسته راوړنې وس ولري.
- د فضایی انځورګرۍ اداره باید د هوایی ځواک د مرستیال وزیر تر قوماندې لاندې راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د دفاع وزير بايد په خپله د فضايي ځيرنو او په دې برخه کې د پانګونو د پرمختګ څارنه وکړي، تر څو د متحده ایالاتو د پوځ او نورو پوځي ځواکونو تر مينځ توپير ډير کړای شي.
- د پوځ د فضايي پروګرام له پاره بايد لويه بودجه ځانګړې شي.

خو سره له دې، د بهرنی فضا د نظامي کيدلو پلان د دې تر څنګ چې د 1972 کال د لوی واټن ويشتونکو توغنديو د مخنيوي له تړون سره يې تضاد درلود، په لاره اچول يې ناشونی کار وو.

د (رمسفيلد) او هوايي ځواک د جنرالانو له پاره د سپتمبر د 11 پيښې د يوې داسې معجزې په توګه وې، چې ټول واک يې دوی ته ورکړ تر څو يې په هر ډول چې زړه وغواړي، وکاروي.

(رمسفيلډ) د سپتمبر په 11 نيټه د ماښام په 6 بجو او 42 دقيقو په پنتاګون کې يو خبري کانفرانس ته وينا وکړه. د ديموکرات او جمهوري غوښتونکو ګوندونو مشرانو د دې له پاره چې په هغه ستونزمنو شيبو کې د امريکايي ولس يووالی څرګند کړي، له ده سره يو ځای په کانفرانس کې ګډون وکړ. په هغه وخت کې د ولسمشر (بوش) هيڅ پته نه لګيده او نړۍ په ناآرامۍ سره د متحده ایالاتو غبرګون ته سترګې په لاره وه.

(رمسفيلد) د خبري کانفرانس په مينځ کې د نړيوالو رسنيو په وړاندې سناتور (کارل ليوين) ته په تونده لهجه داسې خطاب وکړ: سناتور ليوين، په کانګرس کې تاسو او د ديموکرات ګوند نورو غړو ويره څرګنده کړې ده چې تاسو د پنتاګون د دفاعي او په خاص ډول د ميزايلو د دفاعي سيستم د بودجې د فوق العاده ډيرښت له پاره کافي پيسې نه لرئ. اوسنيو حالاتو ته په کتو سره، آيا تاسو لا تر اوسه هم دا فکر نه دئ کړئ چې دا هيواد له بيړنيو حالاتو سره مخامخ دي او بايد دفاعي بودجه او مصرف ډير شي؟ آيا ستاسو په آند اوس هم دفاعي بودجه ډيره نه کړای شي؟

د (رمسفيلد) پورتنيۍ څرګندونې په پيښو باندې د اعتراف څخه پرته بله هيڅ مانا نه شي درلودلای.

**لنډيز**

که د افغانستان له جګړې څخه اصلي ګټه اخيستونکي د امريکا د انرژۍ لوی شرکتونه دي؛ نو د نظامي صنعت لوی شرکتونه د سپتمبر د 11 نيټې د بريدونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی ګټونکي دي. له 2001 کال څخه را پدیخوا د دوی خوبونه په حقیقت باندې د بدلیدو په حال کې دي.
ولسمشر (جورج ډبلیو بوش) تر هر څه مخکې هغه ترون په یو اړخیز ډول تر پښو لاندې کړئ او غندلئ یې دی چې د اوږده واټن ویشتونکو توغندیو د تولید مخنیوی کوي.
د سپتمبر د 11 نیټې په بریدونو کې د سي آي اې د ناکامۍ له وجې نه یوازې د دغه ادارې مشر له دندې و نه ایستل شو، بلکه د نوموړې ادارې بودجه 42% ډیره شوه، تر څو د نړیوالو عملیاتو پلان په ښه توګه عملي شي.
د متحده ایالاتو د پوځ بودجه چې د شوروي اتحاد له پرځیدو څخه وروسته هیڅ وخت نه وه کمه شوه، په ناڅاپه توګه فوق العاده ډیره شوه. که هغه پیسې چې له بریدونو وروسته د دفاع وزارت بودجې ته ځانګړې شوې وې او هغه پیسې چې په آینده بودجه کې باید په پام کې نیول شوې وای، وشمیرل شي نو د پوځ په مصارفو کې 24% لوړوالی ښیی. سره له دې چې اوس د وسلو د پراخوالي لوبې پای ته رسیدلې او د امریکا په وړاندې کوم لوی مخالف نشته؛ خو د امریکا د پوځ بودجه به په راتلونکو پنځو کلونو کې (له 2002 کال را پدیخوا) له 2 تریلیونه ډالرو څخه واوړي. د متحده ایالاتو د پوځ بودجه سر له همدا اوسه (2002 کال) د 25 لویو پوځونو د بودجې سره مساوي ده.
اوس –اوس د متحده ایالاتو د دولتي میکانیزم په منځ کې ډیرې د قدر وړ او شتمنې دندې د فضایي پروګرامونو او د استخباراتو د ادارو دي.
داسې ښکاري چې د سپتمبر د 11 نیټې د پیښو سره په تړاو چې امریکایی ادارې کوم ګامونه اخیستي، د ډیرو وینو، اوښکو او خولو پیلامه به وي او لا تر اوسه هم نه ده مالومه چې د نړۍ نور کوم هیوادونه به په دې کې اور کې وسوځي.

د 2002 کال د فبروري 20، پاریس

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژباړن چاپ شوي اثار:
1- وړې کيسې، د ماشومانو د کيسو ټولګه، الاذهر خپرندويه ټولنه، 1385 ل هه (2006 م)، پېښور.
2- لوی دوراغ!، تېری ميسان، الاذهر خپرندويه ټولنه، 1390 ل هه (2011 م)، کابل.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**